

Ketabton.com

# کوچنۍ ناوې

لنډې کیسې

دوهمه ټولګه

رفیع الله (روشن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کوچنۍ ناوې

لیکوال:

**رفیع الله روښن**

**۱۳۹۴ل کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: کوچنۍ ناوې

لیکــــوال: رفیع الله روښن

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنگي څانگه

وېـبپـاڼه: www.melitahrik.com

کمپوز: لیکوال

پښتۍ ډیزاین: رضا خان ایوبزاده

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

لیکوال د خپرونو لړ: (۷)

د تحريك د خپرونو لړ: (۱۰۵)

یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

ـــــــ دخپل ژوند ملګرې ته چې په ژوند کې له هرې ستونزې سره دمبارزې کولو په حالت کې مې ملا تړې.

ـ زمادهېواد هروګړي ته چې زه يې مينې اودرد ليکوالۍ اوخصوصاً دلنډې کيسې ليکلوته هڅولی يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


گڼه سرلیک مخ

۱- د روښن ځوانې کیسې.......... ۱
۲- د روښن دویم بریالی گام.......... ۳
۳- له کلي تر ښاره او له ښاره تر کلي.......... ۴
۴- ځوان روښن او کوچنۍ ناوې.......... ۵
۵- دا خاوره به ډېر الفتونه وزېږوي.......... ۷
۱_ سبا اختر دی.......... ۹
۲_ دښوونځي جامې.......... ۱۲
۳_ نالوستی خاوند.......... ۱۴
۴_ د ځوی قاتل.......... ۱۸
۵_ ستا یادونه.......... ۲۱
۶_ دتاریخ مضمون.......... ۲۵
۷_ دښځو نړیواله ورځ.......... ۳۰
۸_ نا راضه مزدور.......... ۳۵
۹_ دوهم ځل ناکام.......... ۳۷
۱۰_ 1_4_3.......... ۴۰
۱۱_ گل زرینه.......... ۴۸
۱۲_ د ژوند رنگونه.......... ۵۳
۱۳_ درې ملگري.......... ۵۸
۱۴_ هغوی باید اعدام شي.......... ۶۱
۱۵_ نالیدلې لیلا.......... ۶۶
۱۶_ نابلده سوالگره.......... ۷۱
۱۷_ زما موټر.......... ۷۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۸ـ دوينې ګروپ..................................................... ۷۸
۱۹ـ بخښنه غواړم..................................................... ۸۳
۲۰ـ ارمان..................................................... ۸۷
۲۱ـ زما ليکونه..................................................... ۹۲
۲۲ـ کوچنۍ ناوې..................................................... ۹۵
۲۳ـ پلټنه..................................................... ۹۸
۲۴ـ بې پايلې..................................................... ۱۰۳
۲۵ـ مېلمنه کوچۍ..................................................... ۱۰۹
۲۶ـ د مينې انځور..................................................... ۱۱۲
۲۷ـ رنګين دسترخوان..................................................... ۱۱۵
۲۸ـ د نجات فرشته..................................................... ۱۱۷
۲۹ـ ګوانتنامو..................................................... ۱۲۳
۳۰ـ دوهم نفر..................................................... ۱۲۷
۳۱ـ سپين لاس..................................................... ۱۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پيل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهير کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ کې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريك په ياده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهير کې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير کې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا کړې او دا فرهنګي بهير يې بريالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانۍ ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دروشن ځوانې کیسې

د لنډو کیسو دغه ټولګه ( کوچنۍ ناوې ) راته ښاغلي روشن صیب را وسپارله، چې یو څو کرښې پرې تورې کړم، که څه هم زه چندانې کیسه لیکوال نه یم ؛ خو وخت نا وخت ځینې کیسې له نورو ژبو پښتو ته را ژباړم.

د روشن صیب د لنډو کیسو ټولګه مې ټوله ولوسته ، رښتیا هم ډیرې یې داسې کیسې وې،چې د لنډې کیسې تعریف یې په خپل ځان کې ځایولي شي، که چېرې لنډه کیسه داسې وپېژنو چې لنډه کیسه یو داسې فن دی چې ځان ته ښکلاییز اصول اوفني غوښتنې لري لکه کوټلی تاثیر، رمزیت او دمـوادو فنکارانه اوډل، هره کیسه باید تلوسه، پیل ، منځ او پای سره یوه هیجاني پایله ولري، کیسه باید له پیل څخه منطقي وي باید پلاټ او بیان یې منطقـي او لـه ولولو ډک وي، که موږ د ښاغلي روشن کیسې په دغه تعریف کې را انحصـارې کړو، نو په ټول تللې دي.

دا چې لنډه کیسه یو حکایت دی چې خیال او حقیقت سره نغاړي تلوسـه او خوند لري ، همدا علت دي،چې له لوستلو وروسته لوستونکی ډېر خپه کوي او یا یې ښه خوشاله ساتي؛ نو په دې اساس ویلی شو،چې د یو بریالي او هنر پال کیسه لیکوال پیاوړتیا او کامیابي په همدغه ټکي کې ده ،چې دا ښېګڼې مـا د ښاغلي روشـن ( سـبا اختـر دی ،کـوچنۍ ناوې،دښـوونځي جـامې،د ژونـد رنګونه،نابلده سوالګره،پلټنه، او ستا یادونه) کیسو کې ولیدلې، یعنې روشـن پیاوړی کیسه لیکوال دی.

سبا اختر دی، کیسه موږ ته د روانو ناخوالو یو روڼ انځور راکوي، پـه کیسـه کې د دوو کوچنیانو پلار د سیمې د اوسیدونکیو په لمسون او شېطانۍ د شومو او نا کره دسیسو له امله د بهرنیو ځواکونو له خوا وړل کېږي ، په کور کـې یـو زوی او لور،په دې تمه وي،چې پلار به یې اختر تـه راځـي او دوی بـه د نـورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومانو په څېر له خپل پلار سره مېله ځایونو ته ځي؛ خو مور یې د حال نه ویلو په صورت کې له ډېر زور بېدونکي حالت سره مخ وي.

ستا یادونه هم د ټولنې مجبوریتونه راښیي، یو ځوان له یوې نجلۍ سره په مینه کوژده کوي،بیا د ولور د پوره کولو لپاره ګاونډې هېواد ایران ته ځي. کوژده شوې نجلۍ یې په کور کې په تمه ناسته وي ،چې خاوند یې له ځان سره د ایران نه لاس نیولې ښځه راولي، کوژده شوې نجلۍ ددې حالت په لیدو سره ضعفت کوي او بیا په روغتون کې ساه ورکوي.

د دې دواړو کیسو پیل په ښو جملو سره شوي،یانې ښه پیل لري ، دلته به یې د بېلګې په ډول د ( سبا اختر دي) کیسې پیل راواخلو،چې له پیله څومره ښې لنډې جملې، انځوریزه ژبه د ماشومانو له پوهې سره سمې کاربېدلې مکالمې او تلوسه لري:

په هر صورت د روشن صیب کیسې لا په ځوانه مرحله کې دي، دا چې دی ځوان دی ، نو کیسې یې هم ځوانې دي، ځېنې سوژې یې دومره نوې دي،چې د هېڅ یوه لیکوال هم ورته نه دي پام شوی لکه زما موټر، زما لیکونه او داسې نورې.

دده د کیسو ښې ځانګړنې، دا دي چې دی د کیسو لپاره خوږه او معیاري کیسه ییزه ژبه لري او لنډې لنډې خو مانا لرونکې جملې کاروي ، همدا علت دي، چې د کیسو لوستونکي یې ډېر دي.

زه ښاغلي روشن ته ددغې ټولګې د چاپېدو مبارکي وایم او دا وایم،چې د روشن په هره کیسه باندې یو کتاب خبرې کېدای شي،خو د اوس لپاره همدومره.

د ښه کیسه ییز نثر د رونتیا په هیله یې،تاسودکتاب لوستوته رابولم.

بختیار تلاش

جلال اباد - صفا راډیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د روشن دویم بریالی ګام

**د ګران روشن د لنډو کیسو لومړۍ ټولګه مې هم لوستې او د دویمې د لوستو لور بېنه یې دا دی،تر چاپ وړاندې را باندې وکړه، دا کیسې مې په ټولیز ډول ځکه خوښې شوې، چې د ژوند د بېلا،بېلو ډګرونو موضوعات یې پکې را اخیستي، جوړښت او ارایه یې دواړه تر مخکینیو کیسو لا د معیار خواته نبږدې ښکاري او زېرې کوي، چې که روشن صیب خپلې دا هڅاندې او فعالې هڅې همداسې په مینه روانې وساتي، د راتلونکې یو ښه کیسه لیکوال به وي. الله دې همداسې کړي**

**آمین**

**ارشادرغاند جلا ل اباد**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له کلي تر ښاره او له ښاره تر کلي

په ((کوچنۍ ناوې)) نومي کتاب کې د کلیوال ژوند خاطرې، مینه، ساده والی، رښتینولي او ... په ډېره هنري بڼه انځور شوي دي. لیکوال تر ډېره هغه څه ((کیسه)) کړي، چې ده؛ درک کړي او اغېز یې له ځان سره اخیستی، له کلي تر ښاره او له ښار ه کلي ته تللی، د لارې په اوږدو کې یې یو کوچنی لیدلی چې له خپلو لویو هیلو سره د مور تر غېږ ځان رسوي، څو تنه بېوزله د پلار له عاطفې محروم وینې، د دوو تنو په اړه د اعدام؛ شوې پره کړه غندې، د یو ساده کلیوال د عسکرۍ خاطرو اور ېدو ته ډېره وهې، لرګیو راوړولو پسې غره ته له تللی کلیوال خبر ېږې چې د سوله ساتو بهرنیو ځواکونو لخوا په ډېرې بېغورۍ وژل کېږي او ورسره نور لیدلي څه یې هم یاد کړي؛ خو د سړي کیسه ییزه تنده هغه مهال پرې خړوبېدلی شي چې دغه کتاب ((کوچنۍ ناوې)) تر پایه ولولي. زه ښاغلي روشن ته د ستر مینه پالونکي څښتن له دربـاره دده د نورو بریاوو په نیت لاسونه لپه کوم او د کیسو مینه والو ته یې د لوستو بلنه ورکوم.

**محب الله یار ننګرهار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځوان روشن او کوچنۍ ناوې

داخبره جوته ده چې هر فن اوهنر ځانته استعداد او ړتیا غواړي،ځکه خو ګران ملګری،ځوان شاعر اولیکوال رفیع الله روشن هم دشعر اوهم دلنډې کیسې په لیکلوکې ځانګړې سبکونه لري اودهرې پنځونې لوستل یې ځانګړی خوند لري،داچې کتاب یې دکیسودی نو غواړم یوڅوکرښې پرې تورې کړم اوخپل هغه مسؤولیت چې ده راته راسپارلی ادایې کړم،دهغه د هرې کیسې په لوستلو لوستونکی اړ کېږی، چې بله کیسه ولولي، دا به د لوی رب لورینه وبولو، چې پرښاغلي روشن یې کړې، کنه یوڅوک په دومره لنډه موده کې داسې شاهکارې پنځونې نشي کولی، څنګه یې چې ښاغلی روشن کوي، روشن که څه هم د لیکوالۍ په ډګر کې لکه د نورو لیکوالانو په شان کالونه ندي تېر کړي مګر لیکنې او کیسې یې ډېر له فهم او مطالبو ډکې وي، هره یوه کیسه یې جلا خوند لري، که مبالغه ونشي ،زه یې هره لیکنه هغه که نثري وي اوکه نظمي بار بار لولم ولې چې یوډول خوندورتکي سره پېیي.

قدرمنو لوستونکو! تاسو د ښاغلي روشن د لنډو کیسو لوستلو ته رابولم، او ډاډمن یم چې تاسو به ترې هم همغومره خوند واخلئ، څومره چې ترې ما اخستی، د کتاب تر پایه به تاسو دې پایلې ته ورسېږئ، چې ربښتیا هم ځوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نوښتگر لیکوال ښاغلي روشن په هرې کیسې کې د خپلو هېوادوالو ستونزې او مشکلات رانغاړلي دي، زه ښاغلي روشن ته د لنډو کیسو د دوهمې ټولگې مبارکي وایم او له لوی رب(ج) څخه ورته د ژوند پاتې مزل کې د لابریالیتوب او پرمختگ هیله کوم، دا هم تاسو او دا هم (کوچنۍ ناوې) قدرمنو لوستونکو! له تاسو څخه هم هیله لرم، چې د لنډو کیسو له لوستلو وروسته ښاغلي روشن ته د لابریالیتوب دعاگانې وکړئ.

دورووالی په ټوله هغه مینه چې له روشن سره یې لرم

امیرزېب دُرانی خوست

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا خاوره به ډېر الفتونه وزېږوي

د روشن صیب اخلاص او پېرزوینه د ځان په اړوند د قدر وړ بولم ، چې زما امي ښخه یې هیله وکړه تر څو دده دنوي کتاب چې
« کوچنۍ ناوې» په نامه یې نومولی یو څه ولیکم ، د اوسني وخت بادرکـه او بـا احساسه افغان ځوانانو او په خاص ډول د با استعداده او وطـن دوسـته ځوانـو لیکوالو او شاعرانو لاس ته راوړنې زمونږ پردېسو افغانانو لپاره دروح غـذا ده ، دوی د خپلې ټولنې انځورګران دي ، هر څه چې نن زمونږ په افغاني ټولنه کـې تېرېږي ، دوی یې په خپلو لیکنو او اشعارو کې منعکسوي ، زمـونږ د ټـولنې د اصلي ماهیت او حوادثو د ښودلو هنداري دي ، او مونږ ددوی له طریقه د وطـن په رمز او اسرار خبرېـږو ، زه روشـن صـیب لـه نـږدې ښخـه پېـژنم ، دده د مقالو،لنډوکیسو او اشعارو سره اشنا یم او دده د ادبي ژونـد بهیـر تعقیبـوم ، روشن  د داسې ځای اوسېدونکی دی ،چې کوم چې له اوس ښخـه تقریبـاً یوه پېړۍ مخکښې پکې  اروا ښاد استاد ګل پاچا الفـت زېږېـدلی دی ، زه پـه دې بلکل مطمئین یم چې روشن   او  د دې منطقې نور با استعداده ځوانان چـې د فرهنګ په جبهه کې کار او فعالیت کوي د الفت صیب د لارې پیـروان دي ، زه دې ټولو ځوانانو ته او په خاص ډول رفیع الله روشن ته د فرهنـګ پـه دې بـا مسؤولیته او سپېڅلې جبهه کې د زیاتو بریالیتوبونو هیله کوم .

محمد قاهر «دردمند»   روسیه ، سانکت پتربورګ

ځوانیمرګه ناوې  اودروشن له حقیقته ډکې کیسې

دښاغلي روشن د لنډو کیسو مجموعه راته داځل مخکې له چاپ راورسېده په داسې حال کې چې زه لا تراوسه د لومړنۍ مجموعې ( بې موره ) لوسـتلو تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې په لار يم دا ځکه چې مسافرۍ او دوطن نه لرې والي ترې محروم کړی يم.

دغه مجموعه( کوچنۍ ناوې) مې په ډېره ليوالتيا او مينه له سره ترپايه ولوستله چې خورا په زړه پورې وه، ښاغلي روشن دهغه استعداد له مخې چې دکيسو په برخه کې پرې الله پېرزوينه کړې له ډېر دقت او زيرکتيا يې کار اخيستی، هره جمله يې ځانته د ځانګړي مفهوم په وړاندې کولو دټولنې له ناخوالو انځور جوړوي.

په کيسو کې له داسې کلمو او سوژو کار اخيستل شوی چې لوستونکي د يوې کيسې په لوستلو بلې ته مجبور وي او هغه څه چې لولي لکه په يوه واقعي او پخوا تېرشوی فلم کې يې چې د خيال په هنداره ګوري او دا هر څه هغه وخت کېدای شي چې حقيقت ولري او دروشن دلنډو کيسو لويه ځانګړنه همداده چې کيسې يې په حقيقت ولاړې دي اوهغه څه يې انځور کړي کوم چې دټولنې وګړيو په خپلو سترګو ليدلي.

زه د روشن صيب دقلم مينه والوته مبارکې وايم او ورته په دې برخه کې د نورو پنځونو په هيله يم.

سهراب سهار بلجيم، دافغانانو کلتوري او ادبي ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سبا اختر دی

د روژې وروستی ماښام وو، کوچنی ماشوم له لویوهیلوسره دمورځنګ ته ورغی دهغې له سره یې پړونی په نازکو ګوتوکش کړ،په وړه اونرمه ژبه یې ورته وویل:

مورې ! سباته، ماته زما نوې جامې اغوندې ؟

مور: هو زوی جانه بوټونه به هم درته په پښوکړم.

زوی: شانو خوهم نوي کالي لري هغه به یې هم اغوندي ؟

هوکنه! هغه خوهم ستا خور ده، دواړه به پاکې جامې واغوندۍ او له ترونوسره به مو ماماګانو او نورو خپلوانوکره ولاړ شئ!

کوچنی موسکی شو، څوشیبې غلی ولاړه وچې بیا شیطان وسوکُنډه په موربانډې یې اوازوکړ،نورهلکان اونجونې خو له خپلو پلرونوسره مېلوته ځي، زه اوشانوبه له چاسره ولاړشو؟

د ښځې رنګ پک والوته ،دکوچني خبروته سوچ کې شوه ، سترغلي یې لامده شول ، رڼواوښکویې له سترګولارې وکړي ، دپړوني څنډه یې راپورته کړه په داسې حال کې یې سترګې وچې کړی چې دماشوم طرف ته یې شا وه، کوچنی هم دمورسکوت ته زړه تنګی شو، مخې ته یې راوګرځېده خودهغې سترګوته یې ونه کتل خبرې یې پیل کړې ، مورې: پلارمې داځل هم کورته نه راځي ؟ تاخو ویل چې هغه به ډېر ژر راشي،اوبیا نور هېڅکله هم نه ځي،ایا هغه تراوسه له موږنه مروردی ؟ زه مې کاکا ته وایم چې په موبایل کې ورسره خبرې وکړي ، زه هم ورسره خبرې کوم؛ زه اوشانو به ورته زارۍ وکړو پخُلابه یې کړو ، بیابه راشي اوموږبه مېلې ته بوځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



موریې چې دکوچني په هره خبره یې زړه ټپي کېده، سلګیونیولې وه ښه په زوره یې وژړل ،کوچنی حیران شو چې مور یې ولې ژاړي ،هغې سر په پخپلوزنګنوکېښود اوتردېرځنډیې راپورته نکړ ،کوچني هڅه کوله چې دمورسررا پورته کړي ، هغه فکرکاوه چې موربه یې ورسره ټوکې اولوبې کوي،خودامعصوم ماشوم لاپه دې نه پوهېده چې مور یې لوبې نه بلکې ویرکوي،هغه دیوداسې چاپه هجران کې اوښکې تویوي چې کوچنی یې سباته د راتللو په تمه دی،دهغه په راتګ پورې یې خپله ډېره لویه هیله تړلې ده ،چې دخپلو نورو همزولو پشان به یې دپلار لاس نیولی وي او په ښکلیو ،ښکلیو ځایونوکې به چکرې ووهي.

هغې چې زړه تش کړسریې راپورته کړماشوم یې غېږې ته ورنږدې کړ،په مخ یې ښکل کړ،ورته یې وویل:

نه زوی جانه ! کاکا ته دې ونه وایې چې پلارجان ته دې زنګ ووهي ښه! زه خوله تاسوسره یمه که پلار دې رانغی نوموربه ورشو زه به تاسوچکرته بوځم اوډېر سیلونه به درباندې وکړم.

کوچني یوځل ضد پیل کړ، نه نه !مورله تاسره نه ځو، مور مې له خپل پلارسره ځو،هغه بله ورځ یې هم موربېولې وو،خودا نازولی او له وخت اوحالاتوناخبره ماشوم لاپه وخت څه پوهېږي ، چې ورځ څنګه تېرېږي او شپه څنګه راځي؟ ددوی دچکر پوره پنځلس میاشتې تېرې شوې وې، مخامخ دمیزپرسردپلارپه ایښې عکس یې سترګې ولګېدلې ،ورغی راپورته یې کړاوخبرې یې ورسره پیل کړې،هغه ته یې خپل کورته دژر راتللوبلنه ورکړه، موریې بیاهڅکیوونیوله ددې په خاطر چې چیغه یې له خولې نه وځي په بالښت به یې خوله ولګوله، ګلالي کوچني هغه پېښنه له یاده ویستې وه چې نهه میاشتې وړاندې یې پلاردشپې له مخې په دې تور چې له طالبانوسره اړیکې لري له کورنه ووېستل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو خووروسته دڅوفیرونوله اوریدلیدلوېې یواځې دپلارجسد د کلیوالو لخوا کور ته داخل کړای شو.

ماشوم عکس بېرته په مېزکېښود ،راغی دمورخنګ ته، ورته یې وویل: ته وګوره چې سباته راځې اوکنه ،هغه ماته وویل چې ډېر ژر به راشي،ایا ته هم ورپسې خفه شوی یې ؟

زه خو ډېرورپسې خفه یم ، خو مور یې غوښتل داخبره دهلک له فکره وباسي،ورته یې وویل هغه څه کوې ،چې راغواړې یې،پرې یې رده چې پیسې وګټي بیابه تاته پرې موټر واخلي،کوچنی خوشحاله شو او منډېې کړه په خواره خوب ویدې خور شانو یې له خوبه نه خپرې ولګولې، راپورته یې کړه ،شانوګۍ!ای شانوګۍ! پاڅېږه نکریزې نه کوې؟ سباته اختردی زه اوته به نوې جامې اوبوتان واغوندوچکراوسیلونوته به ولاړشو،لالا هم راروان دی،ماورسره خبرې وکړې اوس به راورسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښوونځي جامې

په وړوپښو ولاړدالمارۍ خانه یې خلاصه کړه یوځه یې ترې راواخستل دکورنۍ نورو غړوته یې شا واړوله او له المارۍ څخه له را اخیستي ځیزسره بوخت شو، هغوی په خپلوکې پرې بحث پیل کړ،مشرې خور یــې وویــل داځــه شــی یــې پیداکړ چې له مورنه یې پټوي،پلار یې وویل پرې یې ږدی کار مــه پــرې لــرئ، چې دی خوښ وي،مور کوم اعتراض نلرو،ټولــوغلي غلــي وخنــدل،خوده پــه هېچاخیال رانه وړه اونه یې ددوی خبروته کوم اهمیت ورکړ ځوشیبې وروسته دټولوهېرشو،هریوپه خپل کارپسې پورته شو، دغرمې یوولس نیمی بجــې وي چې کلثوم بکسه پرشاه له ښوونځي را ورسېده، سلام یې واچاوه پلاریې په مخ ښکل کړه، شا بسې لورکۍ، هله ژرولاړه شه جامې دې بدلې کــړه کتابونــه دي هم پرځای کړه، چې ساحل یې درته ونه شلوي ، هغې هم دکوټې په لور منــډه کړه ، شېبه لانه وتېرشوې چې دکوټې له دننه څخه دساحل چیغې پورته شوې ، پلاریې ژر ورغی ، کلثوم ته یې وویل مه کوه له هلک سره غرض ، ساحل چې پلارولیده ، لستونې یې په ســترګو راکــش کړ،اوښــکویې ګرېــوان تــه غــاړه ورکړه،ویې ویل زه یې نه ورکوم، دازما دی، دواړه لاسونه یې پــه تخرګونــوکې داسې ننوویستي وولکه یخ چې نیولی وي ، خوده هغه شی چې له کلثوم څخه یې پټه وو اوله المارۍ نه رااخستی وو، پټ نیولی وو، کلثوم له ځانســره غلــې غلې خندېده ،په ځټ یې راوکتل اوله کوټې ووتــه لــر وروســته دســترخوان هوارشو یوبل ته یې اوازونه وکړل  ځودغرمنۍ دخوړلولپاره اماده شي،خوریې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وروروپسې ورغلله ورته وویل ساحله! مونږ درنه تپوله ډوډۍ خلاصه کړه ، ته یې نه خورېې ؟

هلک ځواب ورکړنه ! نه یې خورم ، ته پرې مړه شه، چې ډېره ورې شـوې یـې پلاریې پسې راغی خوهلک نه غوښتل له خپلې خبرې تېرشـي ، پلارتـه یـې وویل مونږ ډوډۍ نه خورو.

تاسو یې وخورئ!. پلار دکوچنۍ پـه وړو، خـوډېرو درنـو خبروهـک حیـران شوځه!؟مونږ یې نه خورو! مونږ ؟ نور څوک دي؟دپلار په تینګار ډوډۍ خوړلوتـه چمتوشو دالمارۍ خانه یې خلاصه کړه،پلارته یې وویل خوته به نه راګورې،هغه هم ورسره ومنله،څه یې دننـه کېښـودل،اوله کـوټې ووت،ولاړډوډۍ یـې ژر وخوړه هغوی دچایوپه څښلو بوخـت وو،چـې سـاحل یوځـل بیاپورتـه شـو، کلثوم،غوښتل چې پسې ورشي،خونازولی ساحل ورته په قهر شو مـه راځـه شیشکې ، بیزو، مورپکې تانه منو! اوکوټې ته ننوت! څوثانیې تېرې نه وې چـې له یوه درزسره مل دساحل وبرونکې چیغې دټولوپه غوږو نوکې کړنګهاری وکړ ،کلثوم چې ډېره وبرېدلې اوله کوټې څخه راپه منډه وه په حوېلۍ کې پریوتـه ژبه یې د دواړوژامومنځ کې راغله او سرو وینویې له خولې لارې وکړې، پلار یې اول کلثوم پورته کړه اوبیا کوټې ته ننوت،دتره ښځې یې کلثوم پـه غېږ کـې ونیوله،خوهغې په داسې حال کې چې ژبه یې نیمه پرې شوې وه،ساحل ساحل ویل خو څوک نه پرې پوهېدل .

پلاریې کوټې ته له ننوتو سره چیغه کړه:

نا ا!! ساحله ا!! ساحل چې المارۍ پرې راچپه شوې وه له سرنه یې ویني روانې وې، په کوچنیولاسونوکې یې دمور هغه عکس نیولي ووچې دهغـې لـه مـړې کېدوڅخه یې یواځې درې میاشتې دمخه دسـاحل پـه ځلورمـه کلیـزه کـې اخستی وواو ساحل یې امیل په غاړه په غېږکې نیولې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نالوستی خاوند

اجمل د ۱۴ کالو و،نور يې پلار ورسره تر پوزې راغی،اخر يې د ولسوالۍ په بازار کې له يوه مستري سره شاګرد کړ،داچې هغه ډېر زيرک او ويښ هلک نه و،هره ورځ به يې استاد پلارته شکايت کاوه او د اجمل له تنبلۍ به يې ورته ژړل، خو داچې مستري يې ملګری و ورته ويل به يې:

وروره نو زه به څه وکړم يواځينۍ اثره مې تاته ده هرڅنګه چې وي دا خدای وهلی به مستري کوي.

زه نه پوهېږم له دې بدبخته سره څه وکړم، ښوونځی يې هم ونه لوست،بله چاره يې ماته نه راځي، داجمل استاد به هم ناچاره ومنله، بله لار يې نه لرله ،نه يې خپل ملګری خفه کولی شو اونه يې په اجمل زړه ښه و، بالاخره اجمل په پوره ۴ کالوکې ښه مستري شو،اوس يې نو هغه د پېښوريانو خبره له خلکوسره هم ( جان پهچان) پيداشوی و،بل داچې دخلکو خبروته به يې هم غوږ نيوه هرچابه ورته چغلي کوله او له خپل استاد سره به يې خفه کاوه، اخر يې له استاد نه ځان بېل کړ،پخپله يې دکان ونيو.

په همدې ورځوکې داجمل تره خپل يوه ځوی ته چې هم له اجمل څخه په عمر لوی و اوهم ورڅخه په مالي برخه کې مخکې وه کوژده وکړه،داجمل پلارته کينه ورغله ويې ويل ولې زه څه له معراج نه کم يم ؟

ته ګوره چې په پنځه ورځوکې اجمل ته ښځه کوم کنه.

په رښتيا يې همداسې وکړل ‌ څلورمه ورځ يې دخپل يوه همسايه لور اجمل ته وکړه،هلک چې کوژده وکړه نور دلته کار خوند ورنکړ له خپل يوه بل ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د کور له غړو پټ اروپاته روان شوی و،په ایران کې و چې پلارته یې زنګ وواه په کور کې ټول ورته غوسه و خو اوس اوبه له ورخه تېرې وې.

کله چې د اجمل ناوې سپنا خبره شوه چې خاوند یې خارج ته تلی دی ډېره خفه وه، خوځه به یې کړي وای هغه ۴ کاله په جرمني کې تېر کړل مزدوري یې هم ښه وه کورته یې ښې پیسې را استولې اوس سپنا هم له ۱۲م ټولګي څخه فارغه شوې وه.

داچې هغوی دواړه له ښاره لرې په کلي کې اوسېدل سره له دې چې څو څو ځله اجمل خپلې مورته وویل ترڅو سپناته موبایل واخلي خو دهغې کورنۍ مخالفت کاوه او اجازه یې نه ورکوله چې لور یې له خپل نامزاد سره په موبایل خبرې وکړي.

له څلور کالو وروسته اجمل ډیپوټ( راو شړل شو) همداچې راغی په څو ورځو کې یې واده وکړ،غوښتل یې بیاپه افغانستان کې ځانته څه کاروبار جوړ کړي.

یوه ورځ چې سپنا د پلار کورته تللې وه د اجمل کوم څه پکار شوي و او هغه شی سپنا په بکس کې ایښی و،کله چې هغه بکس خلاص کړ ترڅوخپل مطلوب شی پیدا کړي،ګوري چې په یوه ښکلې کتابچه کې په ډېر ښکلي خط لیکل شوي څو لیکونه ایښي دي،پرته له دې چې لیکونه په کوم چا ولولي کتابچه یې له بکس څخه راووېسته اوبکس یې بند کړ،سپناته یې زنګ وواهه ورته ویې ویل:

ته یوځل کورته راشه چې ضرور کار مې درسره دی،داچې اجمل دوی او دسپنا د پلار کورونه سره نږدې و په څو دقیقوکې راغلله،همداچې خپلې خونې ته ننوته ګوري چې اجمل له غوسې تک سور اوښتی او دکوټې په منځ کې ولاړ دی.

غوښتل یې د غوسې او خلګان پوښتنه یې ورځخه وکړي خو اجمل پرې چیغه کړه،بس سپنا بس!! چې یوه خبره هم ونکړې،ماتاته د یوې ډېرې پاکې او با

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزتې نجلۍ فکر کاوه،زه خبر نه وم چې ته به دومــره کثیفــه او پلیتــه نجلــۍ یې،تا زما له نه شتون څخه دومره بده ګټه واخسته؟ چې بیا دې یارانې هم پیل کړې؟

له دې سره په سپنا سر وګرځېد له غم او ترهې یې چیغه کړه ولې اجمله! اخــر ما څه کړي چې ته دومره لوی تور راباندې پورې کوې،سترګې یــې د هغــه پــه سترګوکې وګنډلې ، د لاس ورغوی یې د اوښکو پاکولو لپاره ســترګوته پورتــه کړ ،غاړه یې کړه شوه ګوري چې د خوب په تخت یــې دبکــس کتابچــه پرتــه ده،پوهه شوه چې ټول غم همدې کتابچې جوړ کړی دی.

قدم یې پورته کړترڅو کتابچه راواخلي خو اجمل له لاسه ونیوله،همداچې مــخ یې د هغه په لوري کړ دومره مضبوطه یې له کینې سترګې پورته ووهلــه چـــې ځای پرځای پر بوتله، بل وار یې پرې ونکړ،همداسې په قهر او غصب له خــونې ووت او دحویلۍ په منځ کې یې چیغې پیل کړې:

مورې! مورې! ته راشه او دخپلې بي بي اینګور ګلونه دې وګوره چې کرلي یــې دي،ته خبره یې چې هغه څو یاران لري،که نه یې خبره ورشــه او لیکونــه یــې وګوره.

ټول له شاوخوا خونو راووتل او داجمل خونې ته ورغلل ګوري چې سپنا دکوټې په منځ کې بېهوښه پرته ده،پرته له دې چې د پېښې لامل وپوښتي روغتون ته یې ورسوله.

اجمل لا هماغسې په کور کې تاوېده اوله غوسې اوقهر څخه یــې لــه ســترګو سپرغۍ الوتې چې شل دقیقې وروسته یې پلار ور ته زنګ وواهه په وارخطایې یې ورته وویل چې مېرمن یې مړه ده او دی باید  له کــوره ځــان وباســي کنــه پولیس به یې ونیسی پرته له دې چې څه ووایې له کوره ووت.

ډاکټرانو یې پلار ته  ویلي و چې دومره شدید وار پرې لګېدلی دی چې دعصابو رګونه یې شلېدلي او ۲۰ دقیقې مخکې یې ساه ورکړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپنا دمرګ په دریمه ورځ د اجمل خور شبانې هغه کتابچه چې په منځ کې یې لیکونه ایښودل شوي و او دهمدې لیکونو په وجه هغه ووژل شوه را واخسته، دکتابچې په منځ کې ځلور لیکونه چې ډېر په مهارت او هنر سره لیکل او رنګه شوي و پکې و.

شبانې چې به هر لیک پرانیست او لوسته به یې نو سلګۍ به یې ورسره وهلې کله چې یې ځلورم لیک نیمايي ولوست دومره په لوړ اواز یې وژړل چې په حویلۍ کې ولاړې ټولې ښځې کوټې ته راننوتلې،شبانې وویل ورور مې ددې کتابچې او خطونو له لاسه ورېندار ووژله خوهغه بې ګناه وه!

ټولو ورته وویل : ته یې ووایه چې د الیکونه چا سپناته رالېږلي اوڅه یې پکې لیکلي دي؟

شبانې په داسې حال کې چې سلګیووار نه ورکاوه د ځلورم لیک وروستۍ جمله داسې ولوسته: ( اجمله! ګرانه داچې ته نالوستی یې زه هېڅ خفه نه یم،په دې هم پوهېږم چې ته به زما لیک هم ونه لوستلی شې ځکه چې تا ځان له لوسته لرې ساتلی دی .خیر په دې هېوادکې ټول وګړي لوستي ندي ،هېڅ پروا نکوې خوته به زما یوه غوښتنه منې او هغه داچې کله پخیر وطن ته راغلې او واده مو وشو نوته به د خپلې خوارۍ مزدورۍ ترڅنګ زده کړې هم پیلوې).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زوی قاتل

هغه د ناروغۍ پر بستر پروت و ورځې یې ډېرې ووتې شـــبه تـر بلـې یـې د ژوندي پاتې کېدو لپاره هیلې له منځه تللې، بالاخره هغه وخت هـم راورسـېد چې لاسونه،پښې،خوله اوسترګې یې هم له حرکته پرېوتــل،ډاکټران هــم زړه نازړه ورته تلل راتلل هسې دده دکورنۍ د تسل لپاره به یې ورتـه تـش ډراپ (سیروم) تېر کړ هغه به هم چلښت نه کاوه ځکه عضلات او رګونه یې له کــاره پرېوتي و،له ناچاره وه باید کورته یې ببولی وای ، خپل پور یې په کور کې پرې کړی وای او نور یې د کفن دفن لپاره ترتیبات نیول شوي وای.

سره له دې چې پلار او مور یې اوس هم نه منله خو دشهاب مشر ورور وویل:

د صدف له کورنۍ نه به هیله وکړو که یې ومنله یو دفه به صدف روغتــون تــه ورته راشي نصیبونه خو یې سره نه و شوي د وروستي ځل لیدو ارمان خوبــه د صدف پوره شي.

په ډېرو عزرونو یې خپل پلار اومور راضي کړل،یوځوک یې د صدف دوی کورته ولیږل دوه ساعته وروسته صدف اومور یې روغتون ته راننوتل صدف په داسې حال کې چې زنګېدلي قدمونه یې په ځان پسې راکشــول او پخــوانی نــور او رنګ یې په مخ کې نه و پاتې ډېره بې سکې شوې وه روغتون ته راننوتله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د شهاب دبستر خونې ته ننوتل اوپه هغه یې نظر پر بوت صدف ځـای پرځای کېناستله،له زړه یې دمه وخته،ښه شېبه یې ژوره ساه واخسته مور یې له لاسه ونیوه او دشهاب مخکې یې کېنوله،هغې د چپرکټ په بازو سر ایښی و مړې مړې اوښکې یې په سپینو مرمرو ځځېدې،په داسې حال کې یې سترګې د ولاړو کسانو په لور واړولې چې اوښکو یې په مخ د ۱۱عددونه جوړ کړي و،لـه هغوی نه یې هیله وکړه چې څو شېبې صدف او شهاب په خونـه کـې یـواځې پر بېږدي.

د صدف د مور په شمول په خونه کې ولاړ ټول خلک ووتل،صدف دشـهاب پـه بې متري بدن سترګې وګرځولې خپل دغاړې بیک ته یې لاس کـړ پـه درملـو لامده کاغذی ستمالونه یې ځنې راواخستل او دشهاب مخ او لاسونه یې پـرې پاک کړل ،کله چې به یې دهغه مخ لاسونه پرې پاک کړل دستمال به یـې پـه باطله دانۍ کې وغورځاوه،دشهاب د مخ په پاکولو بوخته وه چې دهغه د ښـي لاس دوه ګوتې وخوځېدې.

صدف ژر دهغه لاس راواخست اوپه خپل مخ یې کېښود دهغه پـه سـترګوکې یې سترګې وګنډلې په زړه کې یې دهغه د ژوند هیلې وټوکېدې خو ژر ور پـه زړه شو چې دهغه ژوند او مرګ ددې هېڅ درد نشي دوا کولی ځکـه د شـهاب پلار چې د صدف ماما کېده هېڅکله نه غواړي چې دیوه مالداره سړي لور دې یې اینګور شي،او له خپلې کمپلې پښې وباسي،که څه هم دصدف پـلار خپـل ځان له دوی څخه پورته نه حساباو خو دوی ځانته یو ډول عار او شرم ګانـه او په دې نه پوهېده چې صدف له خپلو قالینو د شهاب ټغر ته ډېر اهمیت ورکوي.

بیا یې په کنده کنده سترګوکې اوښکې ښکاره شوې نور نو هـېڅ هـم ورتـه د زغملو وړ نه ول،د شهاب لاس یې ورسره وغزاوه ،په تندي یې ښکل کـړ او پـه چالاکۍ له خونې ووته،حتی مورته یې هم صبر ونکړ کله چې خلک خـونې تـه ننوتل شهاب په بند بند اواز د صدف نوم اخسته ،ټول هک پـک شـول ،هـېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته د منلو نه وه ، د شهاب وروړچې ولیدل د ورور ساه یې د صدف په لاسونو کې ده ، له خونې راووت اوپه صدف پسې یې منډې کړې،له روغتونه بهرون یې هغه پیداکړه په ننواتو یې بېرته راروانه کړه او دخپل ورور د ژوند خیــرات یــې ورڅخه وغوښت.

صدف او دشهاب مشر وروړ چې کله خونې ته راننوتل نو د شهاب زنه یــې پــه سپین ټوکر تړلې وه ، سترګې یې دخونې دروازې په لورې خلاصې پــاتې وې او دتل لپاره له دې دنیا تللی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ستا یادونه

غوټۍ چې فرهادډېرپېرې ګران وو او دومره یې زړه پرې بایللی وو،چې نـه یـې غوښتل بله نجلۍ ورسره خبرې هم وکړي.
یوه ورځ یې په ښوونځي کې د تفریح پرمهال ورته وویل ګوره فرهاده! ته ښـه په دې پوهېږې چې زه له تاسره ډېره مینه کوم،نویوه هیله درنه کوم چـې لـه نورو نجونونه ځان وساته،له هغوی سره ډېرې ټوکې ټکالې مه کوه ډېر ورسـره کېنه پاڅېږه مه،هغه ورته غوږ نیولی وو اودې ورته خبرې کولې.
چې خبرې یې خلاصې شوې هغه ورته وویل سـمه ده زمـا ښایسـته حـورې! ښنګه چې ته غواړې همداسې به کېږي،خودهغې زړه پرې اوبه نه څښلې.
نه نه فرهاده! ګوره زه جدي یم کنه بیا درنه خفه کېږم، هغه ځواب ورکړ،وساده ګۍ ته به ولې له مانه خفه کېږي،وګوره تاته ما څوځله ویلي چې فرهاد بـه لـه هېچاسره مینه ونکړي،مګریواځې اویواځې له خپلې ګل غوټۍ سـره،خو یـوه خبره مې ته هم واوره،چې نور ماته داسې خبرې ونکړې.
ته پوهېږې چې ستا په بار بار ټینګار اوپرما شک کول،زما په زړه کې ستا لپاره دمینې دکمېدو سبب کېږي،اوزما اعتماد تریوه لوی سوال لاندې راځي،ته هېڅ غم ونکړې، هغه خوبه دې اورېدلي وي کنـه چـې جـوړې پـه اسـمانونو کـې انتخابېږي،خو ګوره زه باور لرم چې فرهاد دغوټۍ اوغوټۍ دفرهاد لپاره انتخاب شوي دي،دواړو وخندل،دلاسونوګوتې یې یودبل په ګوتـوکې ورکـړې او روان شول،په دې کې ډېره موده تېره شوه، دوی په رښتیاهم یو لـه بـل سـره ډېـر نږدې شوي وو،هغه ورځ هم راغله چې دغوټۍ دکوژدې دستمال یـې دفرهـاد لپاره ورکړ،اوس خو غوټۍ پوره ومنله چې فرهاد یې خپل شـواونوریې څـوک ترې نشي ولجه کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کوژدې څلور میاشتې وروسته فرهاد لـه دوه نـورو ملګروسـره ایـران تـه ولاړ،کله چې هغه یو ناڅاپه روان شو،اوغوټۍ خبره شوه نوله واره پـه رژېـدو شوه،په ډېر کم وخت کې یې رنګ تک ژېړ شو،دومره وچه کلکـه شـوه چـې یواځې پوستکی یې په هډوکو پورې نښتی وو ،که څه هم چې په اوونۍ کې یې یوځل له فرهادسره په ټېلیفون خبرې کولې،خوهغه خبرې به یې هم له غـم او ویرنه ډکې وې،هغه به ورته خبرې کولې اودې به ورته ژړل، تل به یې زړه شین وو،دکلي اوکوڅې نجونوبه ورپورې ملنډې وهلې اوورته به یې ویلې: چـې تـه څومره بې شرمه یې ،اخر خوبه راشي تاخو ځان له خفګانه مـړ کړ،ډېرخلـک داسـې وي چـې دولـور پـه پیسوپیسـې لـه وطـن څخـه ورک شـي،آن لندن،امریکا،فرانسـې،کاناډااونورو لـرې هېوادونوتـه مساپرشـي،اوبیاپه کلونوکلونو هلته وي،ترڅوچې بېرته راځي اودواده پیسې ګټي نو سپن ږیـرې شوی وي،ډېرخوپه کلونوکلونـو ورک وي،سـتاخو دخـدای فضـل دی نـږدې ګاونډي هېواد ایران ته تللی دی.

هغوی به دې ته داسې خبرې کولې خوپه خپلومنځوکې به یې دغوټۍ پاکه او سپېڅلې مینه ستایله اوویل به یې چې هرڅوک دې داسې مینه وکړي.

خو! چاته یې وایې دڅو میاشتو په تېرېدو سره د غوټۍ زړه صبرشو بېرته یـې رنګ یوڅه ځای ته راغی،خوهغه اوس ښوونځي ته نه تلله،بس همغه دکور پـه کارونوکې به یې له مور او خویندوسره مرسته کوله .

دفرهاد دسفرلړۍ په ایران کې یو نیم کال ته وغزېده،خود راتللو یـې څـه نـه ویل یواځې غوټۍ ته به یې نن اوسبا کول ،چې په دې سره به دهغـې زړه ښـه وو،اویوه تمه به ورته پیداکېده چې رابه شي.

بله ورځ په کلـي کـې دهغـه دراتللـو اوازې خپـرې شـوې،چې هېـواد تـه راستنېږي،اوپه ډېرکم وخت کې به غوټۍ په سره ډولـۍ کـې خپـل دخاونـد کورته ولاړه شي، غوټۍ خولا لدې هم خبره شوې وه، چې فرهاد خپل پلارتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټېلیفون کې ویلي چې له رسېدوسره یې بایدواده تیاروي،همداسې یې وکړل دغوټۍ پلارته یې هم خبرورکړ ،ترڅو ځان چمتوکړي او واده ته دوی هم تیاری ونیسي.
اوس نوهره لحظه دغوټۍ لپاره پوره کال دی ،خوبونه یې ورک شوي،بس یواځې له خپلو خاطرو سره لوبېږي.
دهغه راتګ ته یواځې دوه ورځې پاتې وې، د واده لپاره کارتونه هم ولیکل شول،مېلمانه راوغوښتل شول،دفرهاد خُسرته خوږه اومصارف هم ورووړل شول،بس یواځې دهغه رارسېدل پاتې وواودواده شروع کېدل.
هغه ساعت هم راورسېده چې ورونه ،دتره زامن اوماماګان دفرهاد مخې ته دسرک په غاړه ودرېدل، غوټۍ چې له خوښۍ نه یې په زړه ساړه ننوتي وو،داسې ربېږدېدله لکه ګلاب ته چې دسهار وږمې ټالۍ ورکوي اوپه ګلبڼ کې یې یوه خوشګواره فضا جوړه کړې وي .
چې یوناڅاپه چیغې شوې هغه دی راغی! ،هغه دی راغی!.
کوچنی کرولا موټر دهلکانوپه منځ کې داسې ورک شولکه دشاتوپه ګبین چې مچۍ راتاوې شي،خوپه یوه ثانیه کې هرڅه بل شان شول اویوه حیرانوونکې چوپتیاخوره شوه، ټول لکه وېرېدلي مرغان یوبل ته ځک ځک شول،څوک یوطرف اوڅوک بل طرفته سره بېل شول، په دې وخت کې دموټر دروازه خلاصه اوفرهاد ترې راکوز شو،دموټر مخې ته راتاوشو،ددوهم سیټ ،دروازه یې هم راخلاصه کړه،په سېټ کې دتنها،په تور حجاب کې ناستې ، نجلۍ لاس یې ونیوه راکوزه یې کړله،خلک یوبل سره وپسنېدل،یوډول زوګ اوګونګوسې پیل شوې،ای دابه څوک وي؟بل به وویل څوک ده خو راتښتولې به یې وي کنه!، چابه ویل کومه نابلده انجلۍ به وي،بل به وویل ای څومره ښکلې ده،تاسوخووګورئ ته به وایي چې په قلم جوړه شوې ده،خوفرهاد دټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندېښنې په یوه اواز سره لېرې کړې،ولې حیران یاست ،داچې دا نجلۍ څوک ده اوڅنګه له ماسره راغلې ده په همدې فکر کوئ کنه؟!

هېڅ دحیرانتیاوړ نده داستاسې راتلونکې،ورېندار،مانې،تندار اوزما مېرمنه مژګان ده.

څه څه څه !!! دډېروله خولې داکلمه په لوړ اواز ووته.

څوکوچنیوماشومانو دغوټۍ دوی کورته هم داخبر رسولی وو،خوهغې نه منله،اوپه خپله مینه یې باور اواعتماد لاره،چې په دې وخت کې یې مشر وروركورته له خفګانه په ډکه څهره، راننوته،مورته یې وویل:

مورجانې غرق شولو،تباه شولو،وشرمېدو،دده له خبروسره له هرې کوټې لوی او واړه،دحوېلۍ منځ ته راټول شول،هغه هم دکوچنیوماشومانوخبره تائید کړه،غوټۍ هم په راټولوخلکوکې ولاړه وه، ټول ارمانونه یې په اوبو لاهو شول،هره هیله یې مړه شوه ،نوره په ځان نه وه پوه شوې.

کله چې یې سترګې پرانستې ،په روغتون کې وه او فرهاد یې مخې ته ولاړ وو،له لیدوسره یې لېونۍ شوه،چیغې یې پیل کړې،په خپل ځای کې کېناسته ،دهغه سترګوکې یې خپلې سترګې ونیوې دومره یې په قهر ورته کتلې چې فرهاد یې ووېراوه،چې په همدې کې یې په لاس کې بند کنول(دسیرم ستنه)، کش کړه و یې و بسته ،سرې وینې یې په لاس ښکته راروانې شوې اوپه هغه یې ور ورټوپ کړ ګرېوان یې پرې څېرې کړ،ورته یې وویل :

ته پوهېږې چې زما له یادونوسره دې څه وکړل؟

له دې سره نسکوره شوه ،سر یې دچپرکټ له وسپنې سره ولګېده،فرهاد ورته لکه دبوت ولاړوو، ډاکټران راغلل،چې راپورته یې کړه نونړۍ یې دفرهاد دروغجنې مینې ته پرېښې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تاریخ مضمون

نن یې دخبرو پیل په ډېرماڼېجن انداز کې راسره وکړ،لـه نـورو ورځـو ډېـرل بدل،دځو خبرو ووررسته مې زړه ورته تنګ شو،پوښتنه مې ترې وکړه ایاکومه ستونزه خونه ده درته پېښه شوې؟

ددې پوښتنې ځواب یې دځوشېبو لپاره له ځانه سـره وسـاته،له ډېرسـکوت وروسته یې وویل نه! دتشویش کومه خبره نشته ،خونن مې فکر جوړ ندی،کار خوند نه راکوي،هېڅ شی مې نه خوښېږي،بیاغلې شوه،ورته ومې ویل ایاداټولې خبرې ستاله خولې راووتې!؟

بیاځنـــډنی شـــوه،په جـــدي ډول مـــې اواز پـــرې وکړ،بیـــا دربانـــدې ځـــه وشول،خوخبرې وکړه کنه،ایاچاخوځه ندي درته ویلي؟

ځواب یې نه راکاوه،بیامې پرې اواز وکړ،ګـوره شـینکی! زه داسـې ټـوکې نـه خوښوم هیله کوم زما دې تشویش پیداکړ،ووایه هرڅه چې شوي وي ماته یـې ووایه که کومه ستونزه وي ، دواړه به ورته یوه دحل لاره وګورو،بیایې هم خپله خاموشي ساتله،خوزماچېرې طاقت کېده،وجلی!خوب درځـي کـه څنګه؟کـه خوب درځي نو ورځه ویده شه،ځواب یې راکړ نه خوب نه راځـي ،پوهېږې!پـه دې وروستیوکې یوډول عجیبه بدلون په ځان کې احساسوم.

ژرمې پوښتنه ترې وکړه هغه څنګه اوکوم ډول!؟.

ویل یې درس ویلوته مې زړه نه کېږي،خوراک ،څښاک مې هم ډېر کـم شـوی دی،لکه پخوابه چې فریزر(یخچال)رانه تنګ وو،دمه بـه یـې نـه شـوای رانـه کړای،کله به مې ترې جوس راواخست ،کله شیدې،کله تیارپاخه شوي غذا کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه اوکله څه اوپه ښه اشتهابه مې وخوړل،خو اوس په ټوله ورځ کې دوه ځلې هم دیخچال سر نه پورته کوم.

په شوخۍ یې راته وویل: زه نوداخبرې تاته دڅه لپاره کوم؟ته خوبه ایله خوشحاله شوی یې،تل به دې راته ویل خېټورې،ټوله ورځ خوراک کوې،دابښه دی چې دایخچال انسان ندی کنه اوس به درنه لس ځله تښتېدلی وو،شکر به دې وېستی وي.

ماورته وخندل،هغې خپلې خبرې روانې وساتلې ،خوب دومره غلبه رابانـدې کوي،چې کله کله خو نژدې وي چې لمونځ هم رانه پاتې شي،هېڅوک مې په نظر ښه نه راځي،نه پوهېږم چاته ښه ووایم اوچاته بد،هېڅ پر ېکړه نه شم کولای،کارونه هم ترډېره حده رانه پاتې وي،لاس مې نه ورځي،هېڅ نه پوهېږم چې څه وکړم؟

نوره مې حوصله ورته تنګه شوه،خبرې مې یې قطع کړې.

ـ غلې شه لېونۍ لېونۍ مه غږېږه،نه پوهېږم، څه دې اوربدلي چې ته یې داسې په غرونو خېژولې یې.

ایاداخبرې په رښتیاهم ته کوې ایا داهرڅه هغه څوک وایي چې زه یې په نړۍ کې عام فهمه،بااستعداده،باحوصله،باکلتوره،په خلکو اووطن مینه،دولس خدمتګاره،دانساني ژوندمالګه،دهرې بریا واسطه او وسیله ګڼم؟

نه هېڅکله هم داسې نه شي کېدای ته،داسې نه شې کېدای،دایوه هم ستاخبره نده،زه باور لرم چې دا ته نه یې.

غوښتل یې څه ووایي خو وار مې ورنکړ،ورته مې وویل هغه څوک چې تل به یې ماته د نصیحت کتابونه پاڼې پاڼې کول،ماته په یې د توانمنـدۍ خبرې کولې،زماپه هرې ستونزې دلاس برې کېدو ضمانت به یې کاوه،تل به یې راته ویل کله هم هڅه ونکړې چې دخنداځای ژړا اویاخفګان ته خالي کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن هغه په خپله دومره ناتوانه شوې چې،حتی پخپله دنهیلۍ خبرې کوي؟ځان ناتوانه بولي،مرګ هره شېبه سترګوته دروي او دومره وېره ترې لـري چــې آن لادمخه یې ورته پښې غزولي دي؟

دا اودېته ورته ډېرې له نصیحت ډکې خبرې مې ورته وکړې،خو دهغې ځــواب دنورو ورځو مخالف ډېر سســت او دزړه پــه زور وه،اخرمــې ورتــه وویــل تــه دخوشــېبو لپــاره ارام وکــړه،اوس درســره خبــرې نــه کــوم،زه هــم خپــل کارکوم،خودامې ورته وویل چې شینکۍ!په داسې لاعلاجه غم باندې دې اخته کړم چې کار به هېڅ خوندرانکړي،اوس به زه هم ستاپه اړه سوچونه کوم.

پرېکړه مې وکړه چې رخصت یې کړم، اواز یې راباندې وکړ،صبروکړه.

_څه وایې!؟

_هېڅ هم نه ځه ولاړشه.

_ګوره ووایه هرڅه چې وي زه یې اورم.

_نه هېڅ نشته هسې ماویل چې نه پوهېږم ولې،کله چې ویده شم نو یوناڅاپــه لکه دپېرۍ پشان دشپې راپاڅېږم،کمپیوټر روښانه کړم،له دوستانوسره دنېټ له لارې خبرې پیل کړم،خوهغې ته مې هم زړه تنګ شي،لکه دبت ورته ناسته یم،دوستان راباآندې نارې وهي،څه شوېېېې!ویده شوېېېېېېېې، او نــور، خــو زما هېڅ په زړه کې دومره زور نه وي چې ځواب ورکړم.

ښه شېبه مې ورته وخندل،په ټوکه کې مې دمیاعلي صاحب زیارت تــه دتللــو بلنه ورکړه،په موسکاخو جدي لهجه یې وویل غلی شاااااا زه رښــتیاوایم اوتــه راباندې ریشخند کوې.

نور یې دخوب په خاطر رانه رخصت واخســت،ماذیګر مهــال وو ،چــې بیــاهم رښتیالکه پېرۍ راپیداشوه.

_سلام زه بیاراغلم.

_علیکم سلام راځه راځه همداستاکمی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیایې هم په خبروکې کوم مثبت بدلون نه ښکاریده،ډېره نهیلې غړیده،ورتــه مې وویل داسې خبرې مه کوه چې ماهم خفه کوې،داسې خبرې وکړه چې یوه شېبه وخاندو.

داخل یې ډېرژر ځواب راکړ،خودایوځرگندحقیقت دی،چې نه ته ترې ســترگې پټولی شې اونه هم زه.

ای لېونیه! ته پوهېږې چې زه څه غواړم؟

ماوویل څه غواړې،غواړې والوزې؟

نه مړه! یوخوته هم هروخت ټوکې کوې،زه غواړم چې پــه راتلــونکې کــې یــو داسې کتاب ولرم چې،زموږ راتلونکی نسل په هېوادکې لــه تېــرو جنگونــو او ناخوالو خبرشي،ولې چې دوی دې ته ضرورت لري ترڅودخپل هېــواد پــه اړه وپوهېږي.

په کړس مې ورته وخندل،غلې شه مړې! ته خوسمه د فیل په غوږ کې ویــده یې،ولې ته نه یې خبره چې دافغانستان دپوهنې وزارت په پام کــې لــري چــې دتاریخ له مضمون څخه هغه تاریخي پېښې چې دجنگونو اوشخړویادونه پکې شوي وي اوباسي ،هغوی وایي چې په دې سره دشــاگردانو فکرونــه خرابېــږي اوبده اغېزه پرې کوي،اوته ورته داسې کتاب چاپوي چې ټولې خونړۍ کیســې وي.

ځواب یې راکړخو دولت غواړي چې لمرپه دوه گوتو پټ کړي اما داهېڅ امکــان نلري،دتاریخ له مضمون څخه خوبه یې وباسي،هغه به څنگه کړي چې دورځې یې په لسگونه مخ کې وژل کېږي.

نن مې ټوله ورځ دهغې خنداونه لیده،هره خبره به یې له یو عالم ناخوالو ډکــه وه،نه پوهېدم چې څنگه یې وخندوم،اخر مې ورتــه وویل:شــینکۍ!یوه خبــره درته وکړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژر يې ځواب راکړ هوسل خو وکړه،ماوويل نه يوه خبره کوم خو ژر به يې ځواب راکوي،دومره ژر څومره چې زه تمه لرم.

_ښه ووايه سمه ده.

_نه اول ژمنه وکړه.

_اوفففف په زړه کې مې زور نشته ووايه زه حاضره يم.

_ښه وايم يې خو ګوره ځواب به راکوې.

_وايم درکومه يې ته ووايه چې څه وايې؟

هغه داچې نن دې هېڅ ونه خندل،فکر کوم نن چې کله سهار يخچال ته دځــه شې درا اخستلوپه خاطر ورغلې يې نو خندا درنه پکې پر ېوتې اوښه يې کنګل کړې ده.

له دې سره يې دومره په لوړ اواز وخندل چې ښېل خوند يې وکړ،اجازه مې ترې وغوښته،ښه نو دخدای پامان .

دښې شپې،ښه خوب اوښه صحت دوعاېې راته وکړه ، دخدای پامان يې وويل ماهم کمپيوتر بند کړاونور sign-out شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دښځونړیواله ورځ

ډېرکلونه پخــوا لــه کــوم نــامعلوم ځــای څخــه راغی،زمــوږ پــه کلــي کــې زموږدکورونوترڅنګ مېشت شو،نو م يې ولي وو،مګــر فکــر کــور او لاس يــې بېخي خالي وو،کسب او کار يې داوو چې له سيند څخه به يــې ماهيــان نيــول اوپه بازار کې به يې پلورل.

داماهيان يواځې ده نه نيول،بلکې دده وندې بــه پکــې شــل فيصــده هــم نــه وه،اتيافيصده به يې ورسره مشرې لور وحيدې اودوهــم اودريــم زوی زري او مطيع الله نيول،مطيع الله په يوه سترګه مغذور هم وو،درېواړه کوچنيان به هغه وخت د لس،اته او اووکالو وو،دوی به دماسپښين له مخې په پرديوکروندوســر وو،په لمدو ځمکوکې اوسيدونکي سره چينجيان به يې راوېستل،ترڅويې سبا په کونــډو(چنګکونو)کې وتــومبي ،ماهيــان پــرې وغولــوي او ښــکاري يــې کړي،دشپې به په کور وو،سهاربه دملا له اذان سره له کور ووتل،دابه که ژمــی وو اوکه به اوړی،ددوی لپاره بې تفاوته وه،دورځې به يې دوه درې کيلو ماهيان نيول،پلاربه ورته لکه دبادار اخواديخوا ګرځېده،يودره وال چره ايزټوپــک يــې لاره دمرغانوپه ښکار پسې بــه ګرځېــده اوکــوچني ماشــومان بــه پــه خپلــو خواريواخته وو.

ولي دډېرې غريبــۍ ترڅنــګ دومــره ظــالم اومستبدشــخص وو،چــې دغــه کوچنيوماشومانوته بــه يــې ديــوې وړې تېروتنــۍ لــه املــه دومــره ســخته سزاورکوله،چې هېڅ دانسانيت له شان ســره بــه نــه وه برابــره،دده دهمــدې ظلمونو له امله يې مشر ځوی چې زري به يې ورته ويلــې يــوه ورځ دماهيــانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپلورلوپه بهانه بازارته ولاړ او بيارانغی،نژدې دوه کالــه لا درکــه وو،يــوه ورځ مازيگرمهال وو،دکورپه طرف روان وم، دولي خبمې ته مې فکر شوچې مخې ته يې دده خپل ماشــومان اودوه درې نــورې ښــځې ژاړي،زړه کــې مــې راتېــره شوه،لکه چې دې ظالم خپل کوم ماشوم وژلی دی،ځکه چې هېڅ شک ترې نه وو،خير پوښتنه مې وکړه ،خوهغه شخص راتهوويل چې دولي هغه ورک شوی ځوی،زري په جلا ل اباد ښآر کې په يوه ترافيکي پېښه کې وژل شــوی او دوی يې مړی دننگرهار د عامې روغتياپه روغتون کــې مونــدلی دی،دگاونــډيتوب اوهمدردۍ له مخې مو دقبرپه تيارولو او دتدفين په چاروکې مرســته ورســره وکړه،دربيمه ورځ وه چې له ننگرهار څخه څوک راغلي وو،ولي ته يــې ويلــي وو،چې تاسوکوم مړی تېره ورځ دننگرهار دعامې روغتيــا لــه روغتــون څخــه راوړی دی هغه زموږدی،او غواړو موږ قبرلوڅ کړو،خو ولي ورته ډېرســخت پــه قهرويلي وو،تاسو اوس په ماباندې ريشخندوهۍ؟ايازه درته احمق ښکارم،چې اوس به خپل ځوی هم نه پېژنم؟خوهغوخلکوهم ډېر اسرار کاوه،چې بايديوځل قبروکني،همداسې وشول،هماغه وو،چې قبر يې راوسپړه،دلحد دسر يوه تېــږه يې چې پورته کړه،مړی لا هماغه شان تازه وو،چې يې کفن له مخ څخــه ورتــه لرې کړ،يوځل سړي چيغه کړه!! داخوپه رښــتيا زلمــی دی،څوشــپې راغليــو خلکوورته وژړل او بيايې له قبر څخه راپورته کړ، تابوت يــې لــه ځانــه ســره راوړی وو،مړی يې پکې ځای پرځای کړ او روان شول.

ولي دوخت په تېرېدوسره په هغه ځای کې له ډېرو خلکوسره وپېژندل،له هــر راز خلکوسره يې راشه درشــه پيــل شــوه،هغه دخلکــوخبره ســم خرابــات وو،بچيوبه يې گټله ،ده به مصرفوله اومزې به يې پرې کولې،ژونديې همداســې تېرېده،يوه يې نه دوه کېدله،دځينوپه وينابس په ډنگ حيران وو،کله بــه چــې په کلي کې واده ،کوژده يادخوښۍ کوم بل پروگرام وو نو نڅاگروته حاجت نــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو، ولي او ورسره څو نور ګډېدونکي هم وو،دوی به مـلاوې تړلـې وي،داسـې سیل به یې ورته کاوه چې دېولکي مار او سورنه چې به یې ببخ ووېست.

د اولادونو په همدې بـدبختۍ کـې یـې هغـوی دځـوانۍ پـه دُرشـل پښـې کېښودې،خوداچې ظلمونه پرې تردې اندازې زیات وو،چې هر ه لحظه بـه پـه ژوند نه بلکې په مرګ خوښ ښکار ېدل،نودشته عذابونوترڅنګ ورتـه ځـوانۍ هم په ژوندکې بله ستونزه شوه،هغه داچې کله به وحیده دماهیانو نیولولپاره له کوره ووته نو په لاره کې به دکلي کوڅولوچکان ورته ولاړ وو،یابه یې پـه هغـه ځای کې چې دې به ماهیان نیول،ورته مورچلې جوړې کړې وي،خودابېچاره به چې له کور له ورونوسره ووته نو لکه دبګۍ داسپې پشان به یې یـواځې خپلـه مخه لیدله،اخودیخوایې نه شول کتلی،له ډېر احتیاط او فکر سره سـره بیـاهم پلار په سل نومونویادوله اودې حد ته به یې وهله چې،له ځایه به د پورته کېدو نه وه،چې دایوه نوې ستونزه ورته راټوکېـدلې وه، هغـه دومـره حدتـه خپـل اولادونه وېرولي وو،چې کله به یې یو اولاد واهه نو بل به له وېرې خلاصولی نه شواونه به دومره جرئت پکې وو چې په زوره یې ژړلي وای ترڅـو یـې څـوک مرستې ته راشي،هغه زموږپه ټول کلي کـې پـه ظـالم مشـهوروو،چابه ورتـه چرسي ویلي اوچابنګي.

یوڅه وخت وروسته زموږ له کلي وکوچېد،خوداسې ویل کېدل چـې دلغمـان ولایت ته په ګرځېدلي سړک دسرخکانوپه سیمه کې مېشت شـوی دی اوپـه دې وخت کې یې هغه ورک اومړ شوی ځوی هم راپیداشوی دی،خوداځل هغه مطیع الله هم له ځانه سره په هواکړ،اوپه خپله مخه ولاړ،دهغه عاطفه او مینـه دومره ژوندۍ وه چې په خپل ورور یـې نـور هغـه شـان ظلمونـه نـه شـول زغملی،خو دولي لپاره اوس هم داکومه مهمه او دتشویش وړ خبره نه وو،ځکـه چې اوس یې په کور کې نورې لوڼې عابده،بي بي هوا اوفهمیده، دومـره لـویې شوې وې چې د زرې ،مطیع الله اووحیدې تشه ډکه کړې،اودهغوی چارې مخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوسي،دوی هم دژوند په دې اړو دوړ کې رالویې شوې وې،دپلار له هر راز ظلم او ستم سره بلدې وي ،چاته به یې شکایت نه کاوه، ځکه پوهېدلې چــې داورځ به حتماً په دوی راځي نوځکه یې په چپه خولــه خپلــو مســؤولیتونوته غــاړې کېښودې.

له یوځه وخت وروسته بېرته زموږ طرف ته راغی خو داځل زمــوږکلي تــه نــه بلکې زموږ له کلي یو کلی بره،منصور کلي کې یې واړول،او داځل یې په خپــل ویروس (ظلم)هغه خلک تر دوه ســپوږمو راوســتل،خواوس زه تــرې ډېــر نــه خبرېدم ولې چې نور ماته هم له کورنۍ سره داقتصادي ستونزې حلــول راپــه غــاړه شــول،خو ډېــر ډېــر شــکر دلــوی خــدای ج اداء کــوم چـــې یوحلیم،مهربان،باعزته،داولادحق پېژندونکی اومینه ناک پلار یې راپــه برخــه کړی دی،چې په ژوند کې ورځه دیوې زرې په اندازه ګیله هم نه لرم،اونــه یــې کله په دې مجبور کړی یم ترڅو له هغه سره په کارونوکې مرســتــه وکړم،هغــه زما او زمادتولې کورنۍ ډېرخیال ساتلی دی،خوددې هرڅه ترڅنــګ دعــاکوم چې ای خدایه کاش وحیدې ،زرې،مطیع الله،عابدې،بي بي هوا اوفهمیــدې تــه دې هم یومهربان پلار ورکړی وای،چې کمترکمه خو یې په خپله زنده ګی کــې له خپل عمر څخه یوځه خونداو لذت اخستی وای، خو افســوس چـــې داســې نده،هغه به خپل اولادونه وږې هم نه پرېښودل،هغه خوراکونه به یــې ورکــول چې ډېرو معتبرو خلکوبه نه شول کولی خو دهغې نه ورته زهر ډېر ښــه وو،لــه هغوی بېچاره ګانو څخه یې د بیربل پسونه جوړکړي وو،دورځې به یې پــه ښــو سرځایونوکې وڅرول او ماښام به یې دلبوه مخې ته وتړل.

یوه ورځ خبر شو م چې وحیده یې ځانتــه بــدل کــړې او بــل واده یــې کــړی دی،نژدې یوکال یې دواده ووت،له همدې خبر څخه څو ورځې لانه وې تېــرې چې په کور کې مې له پلار سره په موبایل خبرې کولې چې زموږ دکورنۍ کــوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړي مې پلارته څه وويل،نوهغه ماته وويل چې خبرشوې؟ماورته ژر وويـل نــه خير خودی له څه شي ؟

هغه راغبرګه کړه: ولي خپله نوې ښځه ووژله!!له دې خبرې ســره مــې دبــدن وېښتان ودرېدل،بې اختياره مې له خولې ووتل،هی لعنت دخدای شه په داسې بې شرفه مخلوق،هغه بېچاره يې په سيخانو دومره وهلې وه،چې ساه يې پــرې وېستې وه،دډېروخبرو توان راکې پاتې نشو،فقط دومــره مــې وپوښــتل چــې (مشره ښځه) يې چېرې وه ؟پلار ځواب راکړ هغه خوبې لاپخواشــړلې وه،هغــه خپلې ښځې ته دښځوپه نړيواله ورځ په ډالۍ کې مرګ ورکړ او ژونديې ورڅخه ګانه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناراضه مزدور

د برېښنا اوسپنیزې پایې ته یې تکیه وهلې وه اوپــه لاره دپلیــو تېرېــدونکیو وګړیو لاسونو او جېبونوته یې کتل، ورته را رسېدونکي هــر شــخص بــه چــې جېب کې لاس ښکته کړ ده به و انګېرله چې اوس به پیسې ورکړي، خــو چــې هغه کس به خالي لاس یا موبایل را ووېست بېرته به یې تندی ګونځې شو.

یو ځوان یې په څنګ کې برېک واخست، جېب ته یــې لاس کــړ او پــه پــوره حوصله یې د پنځوس افغانیو نوټ ورکړ او ترې روان شو.

لغړ ماشوم له ډېرې خوشحالۍ نوټ د جېب پرځای خلاص ګرېوان کې واچــاوه خو چې ویې لیدل پنځوسي یې سینه لمس کړه ژر یې راووېست اوجېــب کــې یې واچوه ،خواته یې راغلم ورسره کېناستم، ورته ومې ویل ایا ډېر خوشــحاله شوې؟

د سر په اشاره یې هو وویل،پوښــتنه مــې تــرې وکــړه : دورځــې څــو روپــۍ پیداکوې؟

ټکنی ځواب یې راکړ :کله شل کله ډېر اوکله کله پنځوس.

خبره مې یې ورقطع کړه : ولې دروغ وایې همدا اوس خــو دې درې نفــرو اویــا روپۍ درکړې،یواځې هغه یوه هلک پنځوس درکړې نوته بیا ولې وایې چې کله شل اوکه پنځوس ګټې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلک ناراضه اسوېلی وکړ راته کړه یې هو خو ماته په پنځوسوکې لس روپۍ راکوي.

څه؟ څوک داکار کوي؟

هلک شاوخوا وکتل ویې ویل هغوی.

ماورته وویل خوهغوی څوک دي؟

ویې ویل: هغوی چې مور هر سهار خپلو ځایونوته بیایي.

داچې مخکې مې څو څوځله اورېدلي و چې اوس په ښار کې چوکونه او سړکونه سوالګروته په کرایه او اجاره ورکول کېږي نو پوه شوم چې دا ماشوم هم دکومې پروژې کار کوونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم ځل ناکام

بې له دې چې دهغه لورته وګوري،اواز یې پرې وکړ هارونه!ای هارونه!تاته وایم،ګوره چې بیا غږ نه راته کوي،بیا دپلار اومور ترمخې ما ملامتوي،هغې همداخبرې له ځانه سره کولې،چې ده پرې برچ وهل،غلې شااا،بلادې په دې تور مخ شه،ځل ځله مې درته ویلي چې زما ددرس ویلو په وخت کې مه راسره غږېږه،جلی یې ووېروله،غلې په خپل ځای کې مېخ شوه،لږه شېبه وروسته یې سرد هارون خواته کوږ کړ،دسترګوله کونجه یې ورته وکتل،هغه بیاهم د پخواپشان،په کتابچه کې رسمه شوې طیاره درنګوپه واسطه رنګوله،یواځې درنګو کښېهاری اودپزې سوڼاېې ختله،شین خالی دشونډوپه سر وخندل،په مخ کې ایښې اوږده نانځکه چې ژېړطلایي وېښتان یې لرل،دسپین مساله یې کمانک په واسطه یې پورته ورته اړولي وو،دښي لاس په ځنګل کې یې تور دستکول بندشوی وواودمردکو (توشلو)پشان شنې سترګې یې دخوځولوپه وخت کې خلاصې اوبندې کېدې،راپورته کړه،ورسره په خبرو شوه.

راځه شینوګۍ!نه دې راسره غږېږي څه پرواکوي،ته به وګوري مابه هم اغا په مختب(مکتب) کې واچوي،بیابه ته وګورې چې زه به له هارون نه هم تکړه شم،،شینوګۍ!زه ګوره بیاپه تاباندې نه غوصه کېږم ښه!

هارون چې تردې دمه په رسم اخته وو،مخ یې ورته راواړوه دپزې له کش کولوسره یې دهغې دخولې پېښې ورته وکړې.

زه درباندې نه غوصه کېږم،ماهم مختب کې اچوي،تا تورمخې اول څوک په مکتب کې پرېږدي هم نه!ته نوله ماسره امتحان وهلی سې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



شين خالۍ، شينوګۍ دکوچني ماشوم پشان په ډېر مهارت سره په غېږ کې ټينګه کړه يولاس يې ترې لاندې اوبل يې پرې له پاسه ونيو،هارون ته يې وکتل،اودپوزې په مونجولوسره له کوټې ووته.

څو ورځې وروسته يې پلار په رښتياهم شين خالۍ په مکتب کې شامله کړه،نجلۍ په ډېره خوښۍ اولېوالتياسره ښوونځي ته تلله،په لومړيوکې يوڅه کم جرئته وه،ځکه چې له خپلو همصنفيانوسره نوې او نابلده وه،خو دوخت په تېرېدوسره ښه شوه،پلاربه يې کله کله ،ښوونځي ته ،داحوال اخستوپه خاطر ورته،خوهر ځل به داستادلخوادشين خالۍ په هکله له صفت اوستاينې سره مخ کېده،چې پلاربه يې هم ډېر ترې خوښ شو،خوبرعکس هرځل به استادله هارون څخه سرټکاوه،شکايت به يې ترې کاوه،له نورور همزولواو همصنفيانوسره به يې دده له شخړو خبراوه،هارون څوځله دپلار لخوا ورټل شو،خوهغه به يې قصد له شين خالۍ اخسته،تل به يې وهله،ورته ويل به يې ورته ستاله لاسه زماژوند تريخ شوی دی،تل مې پلار وهي،په ښوونځي کې هم راته لوی غم جوړه شوې يې.

پلاربه يې ورته ويل چې ته هم بايد ځان دشين خالۍ پشان عيار کړې،ټول استادان اوملګري يې ورڅخه خوښ دي خوله تانه ټول شکايت کوي.

دوی دواړه يې په يوه خصوصي(شخصي) ښوونځي کې شامل کړي وو،خو هارون له شين خالۍ يوکال دمخه داخل شوی وو،بله ورځ يې امتحانونه پيل شول،هارون به خوبونه کول،ټوله ورځ به يې لوبې کولې،يواځې کله به يې چې دپلار دراتګ وخت شو نو کتاب به يې راواخست خو شين خالۍ تل درسونه ويل،اوهڅې به يې کولې چې ښې نمبرې واخلي اوپه عمل کې هارون ته ثابته کړي چې په رښتياهم تکړه ده.

ازمويني خلاصې شوې،دنتايجو داعلان ورځ وه،په دوی پسې موټر راغی،خو چلوونکي هارون ته يوپاکټ ورکړچې داداري لخواورته ورکړل شوی وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترخــویې پلارتــه ورکړي،هــارون پاکــټ پلارتــه ورکــړ اوبېرتــه مــوټر تــه وخاته،چلوونکي ته یې وویل روان شه،خوهغه ورته وویل لږصبر وکړه،پــه دې وخت کې دهارون پلار له موټروان سره روغبړ وکړ،اوپــه مخکــې ســېټ کــې ورسره کېناست،هارون او شین خالی حیران وو،چې څنګه یــې پــلار لــه دوی سره نن په موټر کې پورته شوه،ښوونځي ته چې ورسېدل،دنتایجو اعلان هــم خلاص شوی وو،خوبیــاهم دهــارون پــلار دښــوونځي دمدیرلخواشــاګردانوته وروپېژندل شو،اودهغوی دواړو نتایج یــې پــه لاس ورکړل،کلــه چــې نورګــل دخپلې لور او ځوی نتیجې ولیدې،معلومه شوه چې ،شین خالی په خپل ټولګي کې اول نمره او هارون ددوهم ځل لپاره هم ناکام شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (3 _ 4 _1)

په یوه ناپېژانده ماحول او چاپېریال کې مو یواځې د سلام او علیکم تـر بریـده سره وپېژندل،هغې په یوه لوړ دولتي پوسټ کار کاوه خو زه دیوې غیر دولتـي اداري مامور وم،هسې خو دواړه مامورین وو خو فرق موپه دې کې و چې دهغې موقف،رتبه،زده کړې،عمراوهرڅه تر ما لوړ و،په دوهم ځل مې بیا په یوه ځـای کې ولیده تر ځو خبرو اترو وروسته یې خپله دفون شمېره راکړه ،راته کړه یې که کله اړتیا پېښېده او پوهېدې چې زه مرسته درسره کولی شم ،نو په ډاډمن زړه فون راته وکړه.

څه وخت وروسته مې رښتیا هم په هماغې اداره کې چې دې پکې کار کاوه کار پیداشو او کار مې هم تر ډېره بریده په همدې پورې اړوند و،فون کول مې ورته مناسب ونه بلل،په داسې حال کې چې له یـو ډول نـاروغۍ سـره هـم لاس او ګریوان وم، ډېر ګرځېدل هم راته ښه نه ول،خیر د فون کولو پرځای مې ورتلل مناسب وبلل،همداسې سوکه سوکه ور روان شوم هغه زما له ناروغۍ خبـره وه ،کله چې یې دفتر ته ورسېدم تر اجازې غوښتو وروسته یې کـاري خـونې تـه ننوتم ،همدا چې ویې لیدم له خپل ځایه را پورته شوه ویل یې ایا دومره اړیـن کار و چې په داسې حال کې په خپله راغلې؟ تاته خو ما د فون شمېره درکـړې وه ولې دې زنګ راته ونه واهه.

ماورته وویل خیر دا مې مناسبه ونه بلله چې د یوې وړې خبرې لپاره هم درتـه فون وکړم،په څوکۍ د کېناستلو یې راته وویل ،خپلې خـدمتګارې تـه یـې د چای راوړلو سپارښتنه وکړه ،بیا یې ماته وویل ښه نو وایه څه کار دې و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه اړین کار چې ورلپاره تللی وم ورته ومی ووایه هغې یې هم داجراء کېدو ژمنه وکړه خو له مایې هم ژمنه واخسته چې بیا ددومره کوچنۍ خبرې لپاره ځان په عذاب نکړم بلکی زنګ به ورته وهم.

دهغې له نېکو اخلاقو او واقعي خدمت نه ډېر متاثره شوم ،هغه د ځینو خلکو خبره په زړه مې راننوتله ،تر دې وروسته به مې کله کله زنګ ورته واهه پوښتنه به مې یې کوله اوس مو اشنایي ډېره زیاته شوه،یوه ورځ مې زنګ ورته وواهه چې څه کار ورسره لرم راته ویې ویل : اوس خو رسمیات ختم دي سهار په ۸بجې دفتر ته ځم او راشه چې له نږدې وګورو ،نه پوهېږم چې هغې ولې غوښتل ما له نږدې وګوري سره له دې چې کار تر پخواني هغه ډېر کوچنی و،سبا یې دفتر ته ورغلم دا لا نه وه راغلی ،بلخوا په ماهم ددفتر دتللو ناوخته کېده ،زنګ می ورته وواهه ځواب یې هم رانکړ،فکر مې وکړ چې هرو مرو مصروفه شوې او یایې ژمنه هېره کړې،ناچاره یې له دفتره راووتم او دخپل دفتر په لوري رهي شوم،۱۵۰ متره مزل به مې کړی و چې په مخه راغله، له لیدوسره یې رانه بخښنه وغوښته ویل یې ببرته وګرځه زه هم ورسره روان شوم ،داچې دځوانۍ جوش اوخروش و نو له دې سره په لاره ګډ تللو یوډول خوند راکاوه ،خدای شته په زړه کې مې ورته احساس پیدا شو، لنډه داچې زموږ د خبرو اړیکه په انټرنیټي اړیکو بدله شوه،زما ترڅنګ هغې هم زمالپاره یوډول احساس درلود چې زه یې په چټ او مسجونوکې دحروفو او کلماتو له استعمال څخه پوهېدم خو نه هغې دا جرئت لاره چې دزړه خبره وکړي اونه هم ما.

یوه ورځ مې دمینې دښکاره کولو څو کلمې د اعدادو په ډول په چټ کې ورته ولیکلې خو هغه پرې پوهه نشوه ،ببرته یې په ځواب کې وویل چې ددې اعدادو معنی څه ده؟ داچې زه وېرېدم هسې نه چې بده یې وګڼي نو خبره مې شاته وغورځوله له ځواب ویلو یې تېر شوم،خوهغې بیا هم اسرار او ټینګار کاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



،بالاخره مې له ځانسره پرېکړه وکړه چې معنی یې ورته وایم ،ترڅوبه دادزړه خبره په زړه کې پاتې وي راځه په خوله یې راوله ،که یې بده وبلله نو اړیکه به مودتل لپاره له منځه ولاړه شي اوکه یې بده ونه ګڼله نو دا دوستي به مو په حقیقي مینې واوړي.

همداسې مې وکړل،هغه اعداد ( ۱۴۳) چې د انګلیسی حروفو له ( I love you) سره برابر و،کله چې مې ورته داسې ولیکل څو دفه یې له حیرانتیا په مسج کې څڅڅڅه راولیږل خوما ځان غلی کړ،له عکس العمل څخه یې وپوهېدم چې بده یې ونه ګڼله بلکې دې هم زما له خوا دهمدې خبرې د اورېدو انتظار کاوه،خبرې مو وغزولې هغې راته ویل چې ما لاپه دې برخه کې فکر ندی کړی ،خو زه پوهېدم چې فکر یې کړی دی،یوه ورځ هغې هم راته مثبت ځواب ووایه، اوس نو اشنایي په حقیقي دوستۍ او دوستي په حقیقي مینه واوختل کله کله به یې څنګ ته ورتللم،خو ددې لپاره چې ددفتر همکاران یې په مونږ پوه نشي له ډېر کېناستلو او خبرو مې ډډه کوله.

یوه ورځ مې ورته وویل :

مرغلرې! ته ولې زموږ کورته نه راځې،یوه ورځ راشه چې له خپلې کورنۍ سره دې معرفي کړم هغې هم منفي ځواب رانکړ خو ویې نه ویل چې کله راځي،څودفه مې بیا ورته وویل اخر یوه ورځ راغلله زما کورنۍ یې ولیده موږ هم خوشحاله شولو او داهم خوشحاله وه،په همدې ورځو کې مې یوه ورځ بیا راوغوښته خو دابنه ده چې زموږ مینه دوه طرفه وه نه به هغې اونه به ما دهغې خبره ځمکې ته غورځوله.

یوه ورځ په کور کې یواځې وم زړه مې هم ډېر تنګ و مرغلرې ته مې فون وکړ ورته ومې ویل چې کور کې هېڅوک نشته راشه چې فکر مو بدل شي،په سر کې زړه نازړه وه خوداچې زه او زما مینه ډېر پرې ګران و ویې منله خو نن نه بلکې سبا یې د راتللو ژمنه وکړه،داچې یواځې وم نور کارونه مې په شا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ښنودل ،بلا مې ورپسې کړه ،دهغې راتللوته مې اماده ګي پيل کـړه، کارونـه دومره نه و خو زه يو ډول ذهني وارخطا بر ښنېدم،هره خوابه مې چې نظـر اړوه يوڅه به راته ناسم ښکاره شول،هغه به مې پرځای کړ بيا به مې بل څه ته پـام شو بس ګرد تاوېدم.

بالاخره سبا شو،ټېليفون مې ورته وکړ ويل مې له ژمنې  څخـه خوبـه نـه وي اوښتې خو هغې وويل چې درځم .

له لږ ځنډ وروسته مې بيا ورته زنګ وواهه  چې غـوړی يـې پورتـه کـړ سـاه نيولوې وه، د بوټانو ټقايې خته پوه شوم چې رارwانه ده ويل يـې دېـر ناراحتـه يې؟ دادی در روانه يم.

غوړی مې کېښود خو راياد شو چې داپوښتنه خومې ورنه ونکړه چې کوم ځای کې ده،خير هرچېرې چې وي رابه شی.

اوهو هلکه ! ته خو هم په ځآن لږ ګوتې ووهه که څه هم پـاک کـالي مـې لـه سهاره اغوستي و  هنداري ته ودرېدم په  وچو وېښتانو کې مې ګمنز تېره کـړه ويښتان مې شک شک ودرېدل خوند يې رانکړ،دهليز ته ووتـم د اوبـو بـدنی اينښې وه ورغوی مې غوچ او له اوبومې ډک دواړه لاسونه مې پرې لامده کـړل، ګوتې مې په وېښتانوکې تېرې کړې پرلپسې مې د وېښـتانو دغوړولـو تېـل را واخستل دې ته مې هم د چپ لاس ورغوي کې کنده جوړه کړه کله چـې مـې بوتل دهندراې په رپک کېښود بې تولې شو او لاندې ځمکې ته يې ور ودانګل ،داچې سرپوښ يې ما ټينګ کړی نه و نوپه هواکې هغه هم ورڅخه والوت تېـل ټول زما په کمېس راتوی شول ، اوه خدايه! دامې څه وکړل اوس خوبه مرغلـره را ورسېږي اوزه نورې اوتوکړې جامې هم نلرم،دابه نو څنګه شي.

ناچاره مې هغه جامې چې سهار مې وېستې وې ببرته واغوستې هغه هم ډېرې خبرنې نه وې،سر مې شانه کړ خو له کاليو مې راضي نه وم ،نن مې بايد له نورو ورځو ځان ډېر ښکلی کړی وای ځکه اخر مې معشوقه راروانه وه او يواځې پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يواځې ورسره ګورم، دروازه مې هم خلاصه پرېښوده ماويل چې ټک ټـک تـه يې اړتيا پاتې نشي مرغلرى ته مې هم دفون پرکرښه وويل چې دروازه خلاصه ده او نېغه خونې ته راځه،زه دکوټې په منځ کې ولاړ وم د انتظـار شـېبې مـې شمارلې د فون لوى سکرين ته مې کتل دڅه شي په ليدو بوخت وم چې دکـور دروازه راخلاصه شوه کور حويلۍ نه لرله د يوې کوچنۍ خونې په اندازه دهليـز و ،هغه دکور ښتن دکرايې لپاره جوړ کړى و اصلاً د هستوګنې وړ هم نه و خو موږ مجبوريت لاره چې پکې اوسېدو،دروازه چې خلاصه شوه ګورم پـه تـوره جوړه کې دنګه اودښکلي څېرې لرونکې ښتنه نجلۍ په داسې حال کې چې په ګلابي شونډو يې موسکاه جال خور کړى و دهليز ته په راختلو پاړکو (زينو) راپورته شوه.

لاهم د کوټې په منځ کې ولاړ وم ماهم د موسکا په ډول شـونډې سـره ښېرتـه کړې خودهغې روب داب دومره راباندې زورور و چې د ګوتو څوکې مې ډېر پـه زور ورکړې او ښه راغلاست مې ورته ووايه.

دا کېناستله او زه لا ولاړ وم، ولاړم د انګړ دروازه مې قلف کړه، ښېرته دمرغلرى څنګ ته په راتللو کې مې دوه ژورې ساه ګانې واخستې خونې ته ننوتم دالکـه د ګلانو په منځ کې چې يو تر ټولو لوړ اوښکلى وي په نـاز اوکرشـمو کـې تـر ستونې ډوبه ناسته وه ،زه يې هم تر خوا په ايخي بالښت تکيـه شـوم،د حـال احوال پوښتنه مې ترې وکړه لاهم د غرور په اسپ ناسته وه په داسې حال کې يې د صحت ډاډ راکړ چې مخ يې دتلويزيون په لوري و ، ښه شېبه دواړه غلـي و،زه ددې په هکله فکرونو واخستم له ځآنسره مې ويل چې دا خـو اوس هـم دفون له لارې يوډول او مخامخ بل ډول ده،بيا مې وويل ددې لپاره بـه داسـې کوي چې ماتر خپل تاثير لاندې راولي کله به مې ويل نه ! دابـه شـرمېږي پـه همدې سوچونو اوګروهنوکې وم چې د ټيټې خندا اواز مې تر غوږو شـو،خوبيا يې هم نه راکتل ،ماهم دسترګو غشي هغه لور ته مخامخ کړل چـې دې هـدف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځولی و، دادفه یې نو خندا ته تشویش کې شوم چې ښه دې به ولي خنــدلي وي او داولې له ماسره خبرې نکوي؟

همدې کشمکش کې وم لاس مې د بالښت په اوږه اړولی و چې له ګوتو ونیــول شوم دومره لوی ټکان مې خوړ لکه برق چې نیولی اوســم زړه مــی درزا پیــل کړه، له دې سره د مرغلرې له خولې یوه زوروره خندا راووته ،لکه لمده لښــته په ملا قاطېده را قاطېده او خندل یې زه هم خپلې بې ځایه وېــرې تــه خنــدا واخستم ډېره شېبه مو وخندل خو زما خنداتر ډېره بریده له مرغلرې ســره د ځان عادي کولو لپاره وه،په خندا کې مې ورته وویل ډوډۍ بــه وخــورو بیابــه خبرې کوو،موړ یو هم وږي نه و خو هسې عــادت مــووکړ ،مرغلــرې خــوبیخې بازاری خوراک وکړ هسې دګوتو څــوکې بــه یــې کاســې تــه ورښــکته کــړې دسترخوان مې ټول کړ خبرې مو پیل کړې هغې راته کړه : ایا تــه رښــتیا زمــا لیدوته دومره تږی وې؟

ماورته وویل ولې ته یې نه منې؟

هغې وویل ولې یې نه منم چې شک مې کولی بیا له هغې ځایــه تــردې ځایــه ستالیدو ته راتللم؟ اوهغه هم په داسې حال کې چې په کور کې دې نور څــوک هم نه وي؟

او ای! ته دې دې جاموته وګوره ولې نورې جامې نه لرې ؟

ماورته وویل لرم یې خو ستا له راتلونه مخکې رانه پرې دسر غوړولو تېل تــوی شول،بیا یې وخندل ښې یې وغزولې څو ثانیې یې سترګې زما په ســترګوکې وګنډلې له ځآنسره مې وانګېرله چې اوس به می بیا په کوم ځای نیوکــه کــوي ،راته کړه یې رانږدې شه او په غېږ کې مې سر کېده.

له سترګومې نظر والوت،یخ ونیوم هېڅ مې دهغې له خولې دداسې خبرې تمه نلرله ،خومایي چې حوس او غوښتنه لرله جرئت مې نشو کولی فکــر تــه مــې وخت ورنکړ بس سر مې ورته په غېږ کې کېښود له سر کېښودو سره یې ژوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



او داسې بنده بنده ساه واخستله لکه د وچې سیلۍ میاشت کې چې په چا د یخ اوبه واچوي،مالپاره هم همداسې و په قراره یې پښې راټولې کړې اوپه غېږ کې یې دومره کلک ونیوم چې خوله او پوزه مې دواړه بند شول، تنفس مې هم ډېر په سختۍ اخسته خو دېر ښودلو غوښتنه مې نه کوله ځکه داشېبې مې ډېرې محدودې اوحتی ثانیې بللې.

څو شېبې وروسته یې سست کړم په مخ مې یې راته لاس کېښود ویل یې :
صادقه! پوهېږې چې ولې مې دومره خوښ یې؟

خپل ښي لاس مې د مرغلرې د اوږدو زلفو لاندې له غاړې تاو کړ ورته ومې ویل نه !

ویې ویل داځکه چې ته دخپل نامه په شان ډېر صادق او رېښتونی یې،کله چې په موبایل درسره خبرې کوم دخپل ځان په هکله ستا احساس له لرې محسوسوم ،ډېر وخت زه له خپل حده اوړم خو ته بیا هم سکوت اختیاروې اویواځینۍ خبره چې زما دزشتوالي په ځواب کې یې کوي همدا ده چې ( له تاسره ډېره مینه لرم).

صادقه! زه ستا مینې اومحبت ته سلام کوم او داچې نن مې له هر رواج،دود او دستور له احاطې څخه پښه اړولې اودهر جبر زنځیرونه مې مات کړي داټول ستا د رېښتونې محبت نتیجه ده، او دا چې نن مې په خپله غېږه کې ستا سر اېښی داهم ستا د بې اندازې مینې محصول دی .

ګرانه!نن دخپل زړه خبره د لومړي او وروستي ځل لپاره په خوله راوړم او درته په جهر سره وایم چې زه (تنها له تاسره مینه لرم) ته زما لومړۍ او وروستۍ مینه یې.

مرغلرې زما وېښتانو ته مساج ورکاوه په ټیټ اواز یې راته خبرې کولې هغې په داسې حال کې چې د زړه درزا یې ما ډېره په اسانۍ سره حس کوله ،خپلې نازکې شونډې زما پرمخ راښکته کړې ترخومې ښکل کړي خو ،اوښکې یې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



شونډو مخکې شوې ،له سترګو یې بېلې او زماپر مخ یې خوله ولګوله،دمرغلرو ددانو پشان نورې اوښکې یې هم زماپر مخ را تویې شوې،سلګیو واخسته، ټوله لړزېده ،زه یې هم خواشینی کړم نه پوهېدم ولې داسې کوي سر مــې یــې لــه غېږې پورته کړ،هغې ببرته زما په مخ لاس کېښــود او زړه پــورې یــې ونیــوم، مرغلرې خوله زما په خوله کېښوده اوپه بند ستوني ،جال جال سترګو او خــپ اواز یې داخبره وکړه :

صادقه! کاش زه واده شوې نه وای!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګل زرینه

نن بیا له معمول سره سم له ټولونه مخکې د شنې ونې لاندې راورسېدم له وچو وښونه په جوړې شوې سترنجۍ په دېره کې وغزېدم، داهغه یخه او شنه دېره وه چې هر کال به داوړي دګرمۍ موسم په رارسېدوسره سپین ږیري علي خان اکا په خپلو لاسونو جوړوله،په دې دېره کې یوه غټه دتوت شنډه ونــه ولاړه وه چې له ډډنه به یې ایله ددوه غټوسړیو لاسونه تاوېدل،زماپه شمول بــه دکلــي ځو شوخ ماشومانو هره ورځ تر غرمې پورې پکې ساعت تېري کوله او دعلــي خان اکا نه به مو په زړه پورې کیسې اورېدلې ، هغه به مونږ ته داسې ټــوکې او کیسې کولې چې له ډېرې خندا نه به ډډه په ډډه اوښتو حتــی تــر دې چــې نوربه مو له ډېرې خندانه له سترګو اوښکې روانې شوې.

زه ناست وم ، علي خان اکامې لیده چې څلورپټیه وړاندې یې په غوایانو باندې چې ده به ورته ((برګۍ ))جوړه ویلې یوه (قلبه)کوله خو اواز مې پرې ونــه کــړ ولې چې نه مې غوښتل دده شوق مټکورکړم هغه یوه پخوانۍ سندره پــه لــوړ اواز زمزمه کوله غږیې تر ما ښه په اسانۍ سره رارسېده ، له ځانــه ســره مــې ورته خندل ، چې سلیم اوناصر هم راورسېدل اولکه د تبک نیولو پسونو یې له ډېرې سترړیانه اینجه وهله، سمدستي په دېره کې پر پوتل ،لس بجې به وې چې هغه هم قلبه خوشې کړه ، ګُنده په پټي کې ولاړه، پاتې شوه او ده برګۍ جوړه ددېرې په لور را رونه کړه، هلته یې ورته په سپره کې ژور اخور جوړ کــړی وه ، په سر کې یې ویالې ته بوتلل اوبه یې ورکړې،بیایې راوستل په خپلــو خپلــو مېوګیویې وتړل، اواز یې وکړ براته بچوا! له دېرې نه یوه غېږ خید(شــنه جــوار) راوخله او دغوایانو په مخ کې یې واچوه چې ډېر وږي شوي دي، برات لا تر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخته ما نه وه لیدلی چې راغلی دی،هغه هم سستې ونکړه غبږ یې له خیدنه ډکه کړه اودغوایانومخې ته یې په اخور کې وغورځول .
نور ترې دواړ ه راغلل،ټولو ورته سلام اوسترمشي ورکړه،زه را پورته شوم، په ختین جام کې مې ورته دشنې ونې لاندې له خښې چاتی نه یخې اوبه رواخستې،لږې مې ورته په څټ کې تویې کړې،اخ اخ یې وکړ داکوم حرامي یې ؛مکوه چې شخک به شم ډېر ستړی شو یم،مخې ته یې راتاو شوم اوبه مې ورکړې،هلکانو ټولوپه یوه اواز ورته ویلې ،بوډا! نن به کومه کیسه راته کوې ؟ داچې هغه دبوډا په لفظ ډېر غوصه کېده نو یوځل یې ټول پسې واخستل اوله دېرې نه یې وشړل ،خوبیا سره راټول شول اوپه زاریو اوننواتویې ورته پیل وکړ،چې خیردی یوه کیسه خووکړه،چې نورنو غرمه ده علي خان اکا وویل: راځئ نن درته زما د عکسرۍ د وخت کیسه وکړم، ټولوورسره ومنله.
کیسه یی داسې پیل کړه: دوه څلوېښتمه سنه وه ،موږ نه پوهېدو چې کومه سنه یې یادوله خو خبرې یې پیل کړې، یوه ورځ د غرمې یوولس نیمې بجې وې د شنو وښو پنډ مې په شا کړی وه،او د کور په لور روان وم د کوځې په خوله کې (ګل زرینې) د مئینی ترور لور له مټ نه په ناڅاپه توګه ونیوم او کش یی کړم،علي ګیه! چیرته داسې ښغمه روان یې؟ کلې ته اسکر( عسکر) راننوتي دي ځوانان له ځان سره عسکرۍ ته بیایي بیا یي راباندې یوه ټوکه هم وکړه، چې ته خو هسې هم ځوان نه یې ورځه تاته به څه نه وایي ، ګلزرینه زما ډېره خوښه وه،نه پوهېږم چې دهغې به هم خوښېدم اوکه نه،خوتل به یې راسره ټوکې کولې،چې مایې هم له ټوکونه ډېرخونداخسته،یو وخت مې ورته دولسوالۍ له بازارنه،دځونډي جوړولو لپاره یوه کوچنۍ دمخ کتلو شیشه اولونګ هم راوړي وو.
زما په زړه یې د ډار روې ګډې کړی سخت یې ووېرولم ؛ پنډ مې ځای پرځای کېښود،لږ داسې ورمخکې شوم زمونږکور د کوځې په اخر کې و،پدی ځای کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوځه  یو څه تاوه شوې وه او موړ(ګولایي) یې لرله، کله چــې لــه ګــولایۍ نــه ورمخکې شوم ګورم چې همدا زموږ د کور پــه خــوا کــې یــو کلــه فیــل (واز) موټرولاړی دی چې خړ او نصواري رنګ یې و  ځوتنــه عســکر زمــوږ ددروازې مخې ته  ولاړ دي ټکان مې وخوړ، غوښتل چې بېرته وروسته ولاړ شم .

په دې وخت کې ،ادې مې چې له عسکروسره ولاړه وه راباندې فکر شــو،یودم یې چیغه کړه، هغه دی علي ځوی مې راغی ، رښــتیاهم چــې پخــواني خلــک ډېردساده او صادقه وو، ددې له غږسره دعسکرو فکر هم زما په طرف شو، مــا غوښتل چې تېښته وکړم ، خو له پېښې به څه تېښته وي ، عسکرو وویل چــې ځای پرځای ودرېږه او ونه ښورېږي ، نور نو لړزه راباندې ولګېده داســې شــوم لکه دپښو لاندې مې چې په روانو اوبوکې شګې روانې وي، د قدم اخســتو نــه وم، ځای پرځای ودرېدم، هغوی هم راغلل او موټر ته یې ور پورته کړم.

موږ ورته له خندا لوټ په لوټ اوښتو او ده راته کیسه کوله ، لــه ختــین جــام څخه یې یو غړپ وکړ حلق یې تازه کړ اوکیسې ته یې ادامه ورکړه، زمــوږ لــه کوره یې سیده ولسوالۍ ته یوړم، درې ورځې ورســته یــې لــه ځوتنــو نــورو ځوانانوسره کنړ ته ولېږلم ، هلته مــو عســکري پیــل شــوه ، څــه ســربه مــو خوړوم،یوکال عسکري  وي ،ماچې کله اووه میاشتې تېرې کړې نــو ر مــې زړه تنګ شو، په کور پسې به ډېرخفه کېدم،خو مورته به مې غوسه راتله، یوه ورځ پټ دشپې دخوب له ځایه په څه  بهانه پاڅېدم،او د تېښتې پرېکړه مې وکــړه، ډېرفکر کولوته مې وخت ونه لید،نو همداسې روان شوم،درې ورځــې مــې پــه پښومزل وکړ،وروسته له درې ورځو نه مې ځان د ننګرهــار بهســود ولســوالۍ دبهراباد ته را ورساوه ، زه ډېر بلد هم نه وم ، ځوځله مې لارې ورکې کړې، پــه بهرابادکې مې غوښتل چې له ســیند نــه پورېوزم،تکــل مــې وکــړ چــې پــه اوبولاهوکېږم ،ګورم چې ځوعسکر هم دي او غواړي له ابونه پورېــوزي، ددوی په لید یوځل بیا هرڅه رانه هېرشول، زلزله رابانــدې راغلــه پــه ابــولا نــه وم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګډشوی چې ژامې مې په کړېپېداشوې، هغوی چې زما دژامو ډول وهل ولیدل، نو سم دواره راباندې پوشول،چې زه حتماً کوم کیس لرم اویاهم کومه پېښه په مخ کې لرم، نو یې بې له ځنډه راباندې سترګې راووېستې ای دغل بچیه څه کوې غواړې چې وتښتې؟ ژرکوه ووایه چې له کوم ځایه راوتښتېدلې،اوچېرته ځې،ماهم دنرپشان ورته وویل چې له کونړ نه راغلم،اوکورته ځم.
په کونړ کې دې څه کول؟
هلته عسکر وم!
له لاسه یې ونیوم ،راځه اوس دې کور ته بیایو، ډېرې زارۍ او عزرونه مې ورته وکړل،خو غړمې یې وانه ورېده،یورانه مخکې شو اوبل راپسې،پدې چې بیا ونه تښتم ،خوهغوی لاپدې نه پوهېدل چې که چېرې ماته د تېښتې چل راته نو اوس به دوی څنګه نیولی وم!
ماورته وویل ښه نوبیا؟
ویې ویل: خړسرو ورځ موراباندې تېره کړه نور نو وړی شوی یم اوخبرې نشم کولای، شهصوار ورته وویل ،خیر دی اکا نو زیاتې خوبه کیسه هم خلاصه شوې وي خو د ا اخري یې هم ووایه چې بیا څه وشو، سړی په خندا شو چې آن په خوله کې یې دغاښونو دنه شتون له امله تالو ښکاره شو،موږ هم ورسره وخندل ،ویې ویل : بیاداسې وشو چې زما دتېښتې سزا داشوه چې یوکال عسکرې مې په دوه کالوکې پوره کړه ، او وروسته له دوه کالونه د اول ځل لپاره کورته راروان شوم، چې دلارې په اوږدوکې ترخذ هم رانه ورک شو.
موږ ټولو بیا خټ وهل،په کړس کړس مو وخندل اوشور مو جوړ کړ،سلیم ورته ویل ښه نوبیا څه وشو؟ په خټ کې یې ورته خپېړه ورکړه نو بیاڅه خوکورته راغلم او چې راورسېدم نو داسې وم لکه څرنګه چې تللی وم،نه راسره تذکره وه اونه ترخذ، هېچاراباندې باور نه کاوه چې زما وخت به پوره شوی وي ،ټولوبه ویل چې علي خان له عسکرۍ نه راتښتېدلی دی،نور نوله هماغې ورځې نه زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یم او داسپېره پتي اودادی ترنن ورځې پورې پکـــې اوړم را اوړم، چـــې پـــه دې وخت کې نور نو پخه غرمه وه هغه  ته یې مېرمنې د غرمې نـــاری راووړ او مـــوږ چې لکه دسپېرکوندکوبچي له ډېرو اوښتو او را اوښتو نه خـــړ پـــړ شـــوي وو د کورونو په لور وخوځېدواوپه لاره کې مو دعلي خان اکا  کیسه یوبل ســـره پـــه خندا تکراروله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژوند رنګونه

ما دا منله چې دعصب،نصب او کلي کور له مخې مې ورسره پېژندګلوي او انشايي نه لرله خوپه دې باوري وم چې د زړه اړیکه اوپېژندګلوي مې ورسره تر نورو هغو ځوچنده زياته وه، هغه مې دخپلې کورنۍ له غړيو څخه يوه بلله،هغې هم په زړه کې ځای راکړی و اوپه ښکاره به يې راته ويل،چې تر بل هرچا ورته ګران يم اوس يې په خپل ژوند کې دهغو کلکواو پېچليو غوټو خلاصول چې په خوله او غاښونو هم نا ممکن ول په لاس د خلاصېدو هیلې پيدا شوې وې.
هغې خپلې ډېرې مړاوې اوله منځه تللې هيلې دبېرته تازه او ګل کېدو په حال کې ليدلې او ماهم ډېرې هيلې ورپورې تړلې وې، هغه راته ډېره پياوړې،ښکار بده، حتی د پردې تر شاه به مې دهغې په مخ او تندي کې د وړتيا او لياقت کرښې لوستلې، هغې ډېر هنرونه لرل او له هريوه څخه يې ډېره په سمه توګه استفاده کوله،خويواځې يو هنر يې نه لاره چې هغه له جرئت څخه عبارت و او جرئت بيا د نورو ټولو هنرونو سرلاری او منعکسوونکی بلل کېږي.
په ډېرو کمو ورځوکې يې په خپل ځان ،فکر اوفعلونوکې ډېر مثبت تغيرات احساس کړل، يوه ورځ يې راته وويل:
زه غواړم په حقيقت کې يوه پياوړې،متحرکه او ژبه وره سياستمداره،ليکواله،وزيره او وکيله شم او ډېر مې زړه کېږي چې دا فکر او غوښتنې مې په حقيقت بدلې شي،نن مې په خپل زړه دومره باوري شوې يم چې آن که سلګونه زره خلک ناست وي نو مخکې به يې لکه دبلبلې پشان خبرې وکړم ،وروځې يې پورته واچولې د لړې شېبې لپاره دمکس کولو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاطر يې سترګې پټې کړې ،ژوره ساه يې واخسته ويې ويل : خوداهرڅه به ښنګه وشي؟؟ دومره خو اسانه هم نده زه هم د چاپشان په ويښه خوبونه وينم.
ماورته وويل: کوم څه چې تا وويل دا هېڅ نا ممکن ندي ډېر په ساده توګه کېږي خوکه ته يې له زړه څخه وغواړې.
هغې ژر زما خبره را قطع کړه.
اتله!ما اوس له زړه څخه له هر راز ستونزو، او کړلېچونوسره د ډغرو وهلو اومقابلې کولو پرېکړه په جدي ډول کړې خوستا همکارۍ ته تر ډېره اړتيا لرم.
ماچې کله دهغې په سترګو او مخ کې په واقعيت سره له هېواد،خلکو او دندې سره جنون اومينه وليده نو په کلکه مې دهمکارۍ ژمنه ورسره وکړه، هغې ته مې ځينې لارښوونې وکړې،په خوشبېوکې په داسې حال کې چې رانه لرې وه خو دهغې په پخواني سست بدن کې مې يو ډول ځواکمن حرکت احساس کړ،هغه دومره پياوړې په نظر راغله چې فکر مې کاوه همدا اوس يوه لوړ منصب لرونکې ده.
سبامې خپل ځای ته را وغوښته يوڅه لارښوونې او سپارښتنې مې ورته وکړې، اوپه بله ورځ مې په يوه ټلويزيون کې د مېرمنو په يوه خپرونه کې د ګډون لپاره وخت ورته واخيست،پروګرام يې ډېر په زړه پورې مخته يوړ،له همدې ورځې د ټلويزون د کار کوونکيو خوښه شوې وه د رسمې کار کولو وړانديز يې ورته وکړ ترڅو همدا خپرونه چې خپله پکې مېلمه وه دکوربه په توګه مخته يوسي.
خبره يې د مشورې اخستو لپاره راسره شريکه کړه ما هم پرته له فکر کولو ورته وويل : چې لومړۍ بريا دې مبارک شه او ورته ومې ويل چې د هغوی وړانديز ومنې خو هڅه بايدوکړې چې له ژمنې سره سم خپل کارونه معياري اوپرمختللي کړي،همداسې يې وکړل ،بله ورځ مې په يوه ورځپانه کې دهغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ليکل شوې علمي مقاله ولوسته، خوښ شوم له ځانسره مې وويل چې زمونږ ګډو هڅو او هلو ځلو رنګ راوړ.
ماته هم ټولنې ته ديوه اهل او دکاري وړتيا لرونکي شخص دتقديمولو وياړ راپه برخه کېده،اوهغې په رښتيا هم زه ددې هرڅه لامل او دخپلوبريـاوو راز بللـم ،سره له دې چې په اوسنۍ عصر کې د هرچاد باور حلقه تنګه او محــدوده وي، خو هغې پرما ډېر باور کاوه،ماهم ډېره هڅه کوله چــې پــه ځــان دهغــې بــاور وروستي حد او اوج ته په ر ښتينولۍ سره ورسوم.
له دې هرڅه سره سره په ښکلاکې ځينې ستونزې او تېروتنې وې چې بار بــار به ورڅخه تکرار پدلې او دا عادتي تېروتنې يې زما هېڅ نه خوښــېدې،مګر پــه خوله مې ځکه څه نه ورته ويل چې داسې فکر ونکړي چې ګواکې زه په هغــې ځان غټ او مدمغ حسابوم، خوپه زړه کې به ډېر ورته ځوربدم،زه باور لرم چې ښکلابه فکر هم نه و وربانديې کړی خو ما دهغې دغه شان کړنې په يــوډول نــه يوډول د ځان توهين اوراته د اهميت نه راکولو په معنى ګڼلې.
اخر مې يوه ورځ زړه ډېر لوی کړ او ورته ومې ويل :
ګوره ښکلا دا بار بار اشتباهات او بد عدتونه ستا شخصيت ،نوم او علمي سويې ته ډېره لويه صدمه رسوي،خو داچې متل دی وايي: ( علت ورکېږي مګر عادت نه ورکېږي) دا اوس دهغې عادت ګرځېدلی و چې دخبرې ځواب به يې په خپل وخت نه درکاوه، فون ته به يې په خپل وخت ځواب نه وايه، پيغام بــه يــې پــه خپل وخت نه لوسته اوکه به يې ولوسته نو بېرته به يې ځواب ورکول اړين نــه بلل.
دا اودېته ورته نورې ستونزې وې چې د ښکلا د ورځني ژوند د بهبــود لپــاره بايد جبران او له منځه وړل شوې وای، ځکه هغې ډېرې لويې هيلې او ارمانونه لرل او دهغو ټولو ارمانونو د پوره کولو لپاره بايد هغې ډېره قرباني ورکــړې وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



او داهرڅه یې له منځه وړي او یا بیخي کم کړي واي داځکـه چې اور او اوبـه هېڅ وخت نه سره جوړېږي.
اوس نو هغه یوڅه مطرح شوې هم وه، وخت ناوخت به ځینو انځوریزو او غږېزو رسنیو کې د سیاسي، ادبي او ټولنیزو بحثونو لپاره هم ور غوښتل کېدله.
یوه ورځ مې د سهار پر مهال ورته وویل: ښکلا ! ته باید دخپلـو ټولـو هڅـو او فعالیتونو ترڅنګ خپله کورنۍ هم وپالي او دهغوی اعتماد باید تل لـه تاسـره وي زه پوهېږم چې ته په دې هرڅه پوهېږې خو غـواړم بیـا یـې هـم تاکیـد دربانديې وکړم او په دې دې پوهه کړم چې د ټولنیز او کورني ژوند چارې ټولې د اعتماد پر پایو ولاړې دي .
هغې هم په پوره سپېڅلتیا ډاډ راکړ او دخپل ژوند قهرمان یې خپل مشر ورور راپه ګوته کړ همدارنګه یې له خپل پلار څخه ډېر رضایت وښوده او راته ویـې ویل چې په هره چاره کې له هغوی سره مشورې کوي.
نور نو زما او دښکلا ټولې هیلې د غوړېدو په حال کې وې مور هره ورځ دخپلو ارمانونو د اسمان له لمنې د ګـرم او روښـانه لمـر د راختلـو علامـې اونښـې لیدې،مګر هغه څه چې په دې اسمان یې لاهم خال خال وریځ ساتلې وه هغه د ښکلا هغه عادتونه ول چې زما له پیل څخه نه خوښېدل او هغې ته مې یې ډېر وخت په کنایوکې یادونه هم کړې وه.
یوه ورځ مې ډېر اړین کار ورسره و نه یې فون ته ځـواب ووایه،نـه یـې پیغـام ځواب کړ اونه یې په مسنجرکې ځواب راکړ،سره له دې چې فون یې هم بند نه و او په مسنجر کې هم انلاین وه، تر ډېرو هڅو وروسته هم په دې بریالی نشوم چې په خپل وخت ورسره خبرې وکړم.
ډېرځنډ وروسته یې په مسنجر کې ځواب راکړ،څـوخبرې چـې مـې ورسـره وکړې هغه پوهه شوه چې زه خوشحاله نه یم نو یې همدومره راتـه وویـل: تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره غوصه یې،د ځان د خلاصون لپاره یې ډېرڅه وویل خو زه اوس دښکلا له داډول خبرو اوکړنوسره عادت شوی وم.

ماخوستن مې په یوه مقاله کار کاوه چې رایاده شوه، مسج مې ورته وکړ، بیا یې څواب رانکړ، وروسته یې یواځې سلام وکړ او نور یې هېڅ ونه ویل،تر ډېر ځنډ وروسته یې بیا په مسج کې لیکلي و:

پوهېږې! اوس مې سکوت دنده شوه، او دردونه مې خواږه ملګري،زه مې نور له خپلو تلپاتې دردونو سره ژوند کوم.

کله چې مې داخبرې ولوستې په سترګو مې تیاره شوه، زړه مې دومره سخت ټکان پیل کړل چې نږدې و وچوي، ژرمې بېرون ته منډه کړه،دژمي په سخته هوا کې ودرېدم،په تندي مې مړه ښوله راماته شوه، له ځانسره مې وانګېرله چې نور یې لکه چې کورنۍ د کورله کارونو پرته د سیاسي،مدني ادبي او او ژورنالېستکي فعالیتونو اجازه نه ورکوي،ځکه په دې ورځوکې زه یوڅه شکي شوی هم وم، خواوس مې خپل فکر باندې ٪۱۰۰فیصده ډاډه وم ،خپلې ټولې هیلې ارمانونه او هلې ځلې مې د شپې په دې توره تیاره کې د ورکېدو په حال کې ولیدې،تر ډېر ځنډ وروسته په داسې حال کې کوټې ته را ننوتم چې ستونی مې شدید درد نیولی و،دکورنۍ دغړیو او ماشومانو شور ماشور هم راباندې بد لګېده په لړزاندو لاسونو مې موبایل را واخست او دعلت پوښتنه مې ورڅخه وکړه.

ښکلا ځواب راکړ:

بس اتله! دا ازاد شعر مې ډېر زیات خوښېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درې ملګري

دماسختن لمونځ مې دالیکین ژبړې رڼاته په داسې حال کې وکړ،تابه ویل چې په کوټه کې دې ګرد چاپېره ژبړپلاستیک نښلولی دی،خوددې الیکین له رڼانه مې دومره خوند واخست باور وکړئ چې د راډ یابرق رڼاکې هغومره خوند نه وو،له لمانځه نه وروسته مې له خپلو درې تنو ملګروڅخه له یوه سره دزړه غوټه پرانیستله،هغه هم لکه زما خبروته چې تږی او وږی وه داسې په خوږه ژبه یې راسره دزړه خواله پیل کړل،زه یې دډېرزیات دځان په طرف جذب کړم،همداسې یې راته کتل یوه لحظه یې هم سترګې رانه نه اړولې اونه یې زه دې ته پرېښودلم چې له دوه نوورملګروسره هم خبرې وکړم،له دډېروخبرو وروسته،یې راته له هغوی سره دخبرو کولو اجازه راکړه،ماهم مخ بل ملګري ته را واړاوه ،خودی یوڅه ګیله من راته ښکاره شو،البته دی به په دې ګیله من وو چې ولې مې اول له ده سره خپلې غورې پیل نکړې،خیر خوپه ماښجن حالت یې راسره دژبې په سر خبرې پیل کړې،کله به یې ګیله کوله اوکله به یې نازونه په زړه کې مې تېرېدل چې،درېیم ملګرخوبه هم راته ښه په قهروي،چې ولې له هغه سره خبرې نه کوم ،دسترګوپه کونجوکې مې ورته غلی غلی کتلې قسمت مې دلته کار نه کاوه چې له درې واړوسره مې په یو وخت کې خبرې نه شوی کوالی،له درېواړوسره مې موضوګانې بدلې وې،وېرېدم چې اواز رابآندې ونکړي،خوښه وهغه هم خاموشي اختیارکړې وه ،داسې نه وه چې ماله دډېروخت وروسته داسې ملګري پیداکړي وو،هسې خو،هره شپه،هره ورځ او هره لحظه داسې ملګري راسره وي اوکه داملګري راسره نه وي نو زما ژوند بیخي نیمګړی دی،بس لنډه به یې ووایم چې همدا دوستان، زمازنده ګي

(c) ketabton.com: The Digital Library



،خوراک،ښکلا او تفریح دي،کله کله خوپه کور کې راته مور پلار یوه نیمه غوصه هم کوي او وایي چې له مورِ دې ښځي لاس اخستی دی،اوتل ته یې اوهمدا ملګري دي،خوزه په یوه له نازه ډکه موسکاترې ځان خلاص کړم،خوکله کله داسې هم پېښېږي چې ان له ماخخه دهغوی دبېلولو هڅه هم کوي اوپه څوځله خوېې ورته ګواښ هم کړی دی دڅوشېبولپاره یې زمااودملګروترمنځ یوڅه فاصله هم ایجاد کړېده،داځکه لکه څرنګه چې زه له خپلوملګرو سره دومره مینه لرم نو ددې لس چنده زما کورنۍ له ماسره مینه لري نو هغوی نه غواړي چې زه خپل ټول وخت له دوستانوسره تېرکړم،خودا اوس زماپه وینه کې نغښتې مینه ده ،چې وتل یې زماله وینې مشکل څه چې ناشونی کار دی،له دې ملګري سره مې هم ښې ډېرې خبرې وکړې،نور مې نوانداز اوکرکټر ورته داسې کړ،چې له دربیم ملګري سره هم څه ووایم،که څه هم زړه یې نه وو،چې پرې یې ږدم خو باید پرې ایښې مې وای،همداسې مې دربیم ملګري ته ورنږدې شوم،هغه چې په مخ یې ښکلی دسمال غوړولی وه چې رنګارنګ ګلانوباندې ښایسته شوی وه دده له مخ نه مې پورته کړ،خودی لا داسې خفه وو ،چې هېڅ یې نه غوښتل راسره سپینې هم وکړي،نور مې نو ورته په عزر اوننواتو پیل وکړ،خوچاته یې وایي،زه فکر کوم ده به هم داسې فکر کاوه چې ولې مې لومړی ده ته نوبت ور نکړ،خیراخر مې له سترګو ورته اوښکې راغلې ،بیایې هم راسره نه منله،الیکین هم زمادمظلومیت او دملګري دغرور نندارہ کوله اوخاموشي یې اختیار کړې وه ،چې ورسره یې له سینې یو تور لوګی هم راپورته کېده او په کوټه کې یې منډې رامنډې وهلې ترڅوله دې ځآی څخه دوتلولار ومومي،نور نو شپه ډېره تیاره وه ،چې دخوب مچې وچیچلم،داسې یې کړم چې نور مې ددې ملګري په مخ راته سترګې،پوزه،وروځې،زنه،خوله،هېڅ نه ښکاره کېدل،اخر مې ورته وویل چې نورې خبرې به سباته وکړو،هغودوه ملګروته مې ډېر وویل چې دده په پخلاینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې مرسته راسره وکړي،خوهغوی لاله هماغه وخته چې ما وسره خبرې بس کړې وې،سرونه تاو کړي وو،زه هم دخوب مچۍ داسې وچيچلم چې زهرويې هرڅه رانه ورک کړل،همداسې مې سر کېښود،سهارلمانځه ته چې پاڅېدم دی لا راته هماغه شان څرنګه چې يې ماله مخ نه دسمال اخواته کړی وه،لوڅ مخ زمادخبروپه انتظار کې وو.

لمونځ مې وکړ بيامې دی راپورته کړ خبرې مې ورسره پيل کړې، خبرو يې ډېر خوند وکړ،څومره نازدانه اوله جادوډکه ژبه يې درلوده، خوداچې دشپې يې ولې راسره خبرې ونکړې ،ددې علت به زما په نظر داوه ،چې ماورسره سمې خبرې نشوای کړای ولې چې تر يوې نيمې بجې پورې مې هغو دوه نورو سره خبرې کولې،خودوی داسې وو،چې يواځې يې له ماسره خبرې کولی شوې،په خپلوکې يې سره خبرې ،رازاونيازنه شوای کړای.

يوځه چې زما ورته فکر ونه شو چې درته مې داګلالي ملګري درپېژندلي وای،فکر کوم تاسوبه واياست چې ماخوددې ملګرو نومونه هم تاسوته وانه خستل،اندېښنه مه کوی اوس هم لاڅه تللي راغلي ندي، اوس به يې دروپېژنم، يو ملګری مې،(شړل شوی لمر)ښکلی ناول چې عمراسحق ليکلی او دهېواد تکړه اوبااستعداده ځوان شاعر،کيسه اوناول ليکونکي ګل رحمن رحماني صيب ژباړلی دی ،دوهم ملګری مې،د(پاچاخوب)چې ګران بديع الزمان هاشمي په ښکليوټکوليکلی دی چې په زړه پورې نادر داستانونه پکې دي اودريم ملګری مې هم د(لښکرګاه)په نوم يوه ښکلې مجله ووه چې دهلمند دفرهنګپالوځوانانولخواپه ښايسته او مؤثرو مضامينو، مقالو، شعرونو، غزلو او ادبي ټوټوپسولل کېږي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغوی باید اعدام شي!

دې خبرې په ټول کلي کې د لويو او وړو په فکرونوکې د يوې معما په شکل خطور پيل کړ،چې دلومړي ځل لپاره د يوه هلک او نجلۍ له خولې اوريدل شوي وو چې له يوبل سره مينه کوي.

د هر مجلس دمجلسي له خولې چې به خبره راوتله نوموضوع به يې کاملاً همدا نوې خبره وه، خوچابه په يوه ډول اوچابه په بل ډول کوله، هغه وخت کلي کې دمينې کلمه چا د پيسو په بدل کې هم نه شوه ويلی، ولې چې ددې کلمې ويونکی خو سوچه کافر بلل کېده .

مينه خولاڅه چې آن چا به جرئت نه شو کولی چې له خپل پلار او مور سره دخپل ژوند د ملګرې يا ملګري په اړه هم څه ووايي،نجونې خو ببخي داسې وې لکه هندو چې د غويي له غوښې پرهېز وي دکلي خلک راټول شول او په لوی جومات کې يې غونډه وکړه ترڅو د اشرف او شريفې په اړه تصميم ونيسي چې څه ډول سزا ورته وټاکي ،دسزاټاکل حتمي وو،ولې چې نن دوی دخپل کلي له رسم او رواج څخه په ښکاره ډول بغاوت کړی وو او ترټولو له لوی څخه دلوی جرم دمرتکب کېدو هڅه يې کړې وه.

فيصله په دې وشوه چې سبابه د مسجد مخې ته په ميدانۍ کې دواړو مئينوته ډېره درنه سزا ورکول کېږي،ځکه چې بياڅوک هڅه ونکړي ،چې ددوی په وينا داسې نارواکارته زړه ښه کړي،خودا چې سزابه يې څه وي ،په اړه يې څه ونه ويل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کله چې اشرف دخلکو له پر بکړې خبر شو نو یې ماذیګر د ګودر په لاره کې له شریفې سره ولیدل اوپه جومات کې دنن ورځې په فیصلې یې خبره کړه،هغې ته یې وویل،زه نه غواړم چې دټول کلي پېغور په سر واخلم،زه دانه شم زغملای،ته دې په کورنۍ اوکلي کې چاسره دسترګو غړولو پاتې نه شې،زه حیران یم چې څه وکړم ،شریفې!! اخر ولې دامخلوق دومره ظالم دی ،ولی دوی مونږ ته دهغې ګناه سزا راکوي چې کول یې حرام نه بلکې حلال او روا دي،دوی ولې هڅه کوي چې مونږ د لویو اوکوچنیوپه مخ کې رسوا کړي، ایا له دې نه مرګ بهتر ندی؟**

**شریفه چې تر دې دمه لکه بوت  خاموشه ولاړه وه اوله سترګویې اوښکې رواني وې،د اوږده کوچاني ټکري څنډه یې ور پورته کړه اوښکې یې وچې کړې،له وچواو پټري نیولو شونډویې په ډېر زور خبره راووېسته :زه نه پوهېږمه چې څه وکړو،اشرفه تاته به مې تل ویل چې په دې خبرو لویه تیږه کېږده،چېرته زه اوته او چېرته مینه،له ما اوتاڅخه مینه څه غواړي اوبیاپه داسې یوه کلي کې چې ټول دمینې له نوم څخه کرکه او نفرت کوي،ښه نو اوس ته راته ووایه چې څه کول پکار دي ،داسې څه باید وکړو چې له دې لویې او دټول عالم په مخ کې له دې بې عزتۍ څخه ځان وژغورو؟**

**اشرف مخ په کوڅه ولاړ وو ،دشریفې په لور راتاو شو،ورته یې وویل ،ته غم مه کوه اوس زه پوهېږمه چې څه باید وکړو ،خویوه خبره ده چې ته به مې ملتیاکوې،بغیرستاله مرستې زه هېڅ نه شم کولای،هغې ورته رډې ،رډې کتلې،څه کوې؟**

**ده ورته وویل،بېګاته دواړه له کلي وځو،شریفه لکه ترهېدلې هوسۍ ځکه شوه،څه تښتوا!؟چېرته تښتو،افرین دې وي دربانده شریفه،خومره په اسانه دې وویل،ته پوهېږې چې هغوی به له هرڅه دمخه ستاله کلیو دوتلولپاره ځانونه چمتوکړي وي،هغه بیاپرې رامخکې شو،ته هېڅ غم مه کوه،بېګاه ته د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمرک کوژده ده خلک دمبارکۍ لپاره ورته راځي،زه اوته هم په همدې منځ کې ځان وباسو یوځل ستاسودکلاترشا پټوپورې ولاړ شو نور ستا پېریان هم خلاص دي،شریفې زړه نازړه ورسره ومنله،هغه یې په ټوله خبره پوه کړه،وخت یې ورته وټاکه چې اشرف به ورته د هغوی دحجرې شاته ولاړ وي او شریفه به ځان په دیوال را ځوړند کړي اشرف به یې ونیسي اوپه همدې شکل به پښې له کلي سپکې کړي،همداسې وشول،اشرف ځان په ټاکلي وخت هدف ته ورسوه،شریفه هم په قابو ولاړه وه،ځان یې را اوړود کړ دلته له لاندې اشرف ونیوله او روان شول،اشرف شریفې ته وویل،اوس مه وېرېږه هرڅه به اسانه شي،کوم کار چې سخت وو،هغه له کور اوکلي راوتل وو،اوداکارمو وکړ،اوس راځه ځو ښار ته هلته زما ملګري شته،سړک ته ووتل،موټرکې کېناستل او نېغ د اسلم دوی کورته ورغلل،هغه داشرف د پوهنتون ملګری وو، کورته داخلېدو دمخه یې اسلم په قضیه پوه کړ،اسلم په اوږه ورته لاس واچوه ډاډيې ورکړ،چې هېڅ غم ونکړې،شریفه یې بوتلله او له ښځوسره یې کېنوله او اسلم او اشرف حجرې ته روان شول.

سباچې خلکوپه میدانۍ کې داشرف او شریفې دسزا په انتظار ناست وواو هغوی نه ښکاره کېدل ،اخر ملک له ځونفروسره دهغوی دکورونوپه لور وخوځېدل،داشرف او شریفې دوی کورونه یوبل ته مخامخ ول،چې دوی ورورسېدل دروازې یې وټکولې له دواړو دروازڅخه ببرک او موسی په غم لړلو څهرو راووتل،ملک پرې په قهر شو،ولې داخلک ستاسو نوکران دي،چې درته به ناست وي،خوکله چې له پېښې خبرشو،نور هم په غوصه شو،دواړوته یې اختار ورکړ چې تر غرمې دواړه تورنان حاضرکړي کنه بیابه ګیله نه کوي.

هلته اسلم اشرف ته وویل چې هلکه خوښه دې نده چې نن مو نکاح وتړو او واده مو وشي،اشرف ټکنی شو،خو اسلم بیاپرې مخکې شو،ګوره زړه مه وهه پلار مې هسې هم ماښام ته راځي ،دهغه پلار قاضي وو،خواوس دکلي د جامع

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسجد امام وو،مگراشرف بیاهم ورسره ونه منله ویل یې چې که نکاح یــې پــه خپل کور کې وشي دابه ډېره ښه وي همداسې یې وکړل، د اسلم پلار اشــرف ته وویل: ځویه داښه کار ندی چې ته تل له کوره فراري شي،ته که زماپه کــور کــې ټــول عمــر هــم تېــر کړې،نــه دربانــدې تنگېږمــه،خوفکر کــوم چــې تاسواوستاسودکورنیو لپاره به ښه نه وي،که ستاخوښه وي زه ســبا لــه تاســو سره ځم ستاسو کلي ته اوستاسوهرډول ضمانت زما په غاړه،زه به ستاســو لــه مشرانوسره خبرې وکړم انشاء الله چــې دخــدای پــه توکــل بــه هرڅــه ســم شي،اشرف هم ورسره ومنله او سباته قاضي له ځوځوانانوسره یوځای داشــرف دوی دکلي په لور موټر روان کړل،چې ورسېدل،نوغرمه مهال وو او نېغ هماغــه مسجد ته ولاړ کوم چې دهغوی لپاره پکې سزا ټاکل شوې وه،نجلۍ یې په موټر کې پرېښوده او دوی راکوز شول،ملک اوڅو نور ځوانان او سپین ږیــري ددوی مخې ته را غلل،له سترې مشي او ښه راغلاست وروســته ،قاضــي مــخ ورتــه راواړوه ،ښه نوهغه داکلی دی چې مینه کول پکــې جــرم گڼــل کېږي،دمینــې اظهار پکې له اصولو اورسمونو بغاوت گڼل کېږي،عاشق اومعشوقه پکې کافران بلل کېږي؟

له جېبه یې دستمال راوکېښ د تندي خولې یې وچې کړې،اوبیایې پــه خبــرو پیل وکړ،تاسوماته داووایئ چې هغه وخت کله چې تاســو خبــر شــوی دادواړه ځوانان اوپېغله یوبل سره مینه لري،اوددوی واده موپه خوښۍ سره کــړی وای ښه به وای اوکه اوس ښه شو؟

ملک پرې رابرگ شو،قاضي ورته وویل :وروره غوصه دې تېــره کــړه،زه دلتــه دخبرو لپاره راغلی یم نه دجنگ او شخړې لپاره.هیله ده چې زما خبرې واورئ اوفکر پرې وکړئ زه پوهېږم چې ستاسو په سترگو دناپوهۍ جال خور دی،نــو راځئ جال له خپلو سترگو لرې کړې،دونیا وگورئ او خپل ژوند په مینه محبت او ورورولۍ کې تېرکړئ،وگورئ په دنیاکې له مینــې بلــه کومــه خــوږه کلمــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشته،نوزه له تاسو هیله کوم چې دادواړه (اشرف اوشریفه)ونازوئ هغــوی تــه سزانه بلکې خوښي ورکړئ تاسوله هغوی سره په دې خوښي کې ګډون وکړئ او دنوي ژوند مبارکي ورکړئ اوله دې وروسته هــم ځوانــان تهدیدنــه بلکــې تشویق یې کړئ،هماغه وو چې دقاضي په خبرو ټولوفکر وکــړ او خوښــې یــې شوې،له هغه څخه یې مننه وکړه،وروسته له هغې یې شریفه له موټرنه راکــوزه کړه،خپل کورته یې ولېږله ،له دې ورځې وروسته په کلي کې اشرف او شــریفه دمینې اتلان ونومول شول،او هغوی یې په مینه کــې بریــالي لــیلا او مجنــون وبلل،څور ورځې وروسته یې واده هم وشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نالیدلې لیلا

سبایې په ښوونځي کې مسا بقه وه، ټولو هغو شاګردانو ته چې داستادانوپه اند، ذهین اولایق ول،دمقالو لیکلو په خاطر وویل شول .ښوونځی رخصت شو،ټول شاګردان خپلو کورونو ته ولاړل.دی چې کله کورته ورسېد،کورته په داخلېدوسره یې سترګې په دوه خویندوولګېدې چې له کټ نه یواوبل طرف ته ناستې وې دکټ له منځه دزګیرویو اوسړو اسوېلو اوازپورته کېده ، چې نږدې ورغی، ګورې چې مورېې ګرمې تبې نیولې ،چې سمه یې خوټوي،لورګانو یې ورته سراوپښې زور کولې ده سلام وکړ..مشرې خورېې په پرېشانه ډول له ژړا په ډکوسترګو دده لورته ولیدل، غږیې پرې وکړ: ادې ښه نه ده.

په داسې مړاوواوکاواکو قدمونودکوټې په لورروان شو لکه د ژمي په موسم کې چې پاڼه دیخ له زوره نیمه ژېړه اونیمه شنه وي خو هره شېبه یې دغورځېدو امکان وي ،کتابونه یې په الماری کې ایښې وو، ترښایسته ځنډوروسته له کوټې راووت ،سترګې یې لمدې اودپږې سرېې سور اوښتی وو،چې دده دژړاشاهدي یې ویله،غږیې کړ.

زاهدې!

هغې ځواب ورکړڅه وایې لالا!؟

هغه تېره ورځ چې مې دتورګل لالا نه دفصل لپاره دسرې(کېمیاوي کود) د راوړلو په خاطرپیسې پورکړې دي، راوایې خله چې مورډاکټرته بوځم.

ښه سمه ده لالا! داد ی اوس یې راوړم، کورېې سرک ته څېرمه و.هره شېبه دموټردپیداکېدو امکان وو ،نویې مورپشاه کړه له کوره ووت مشره خورېې ورسره روانه شوه ،ډاکټر ته چې ورسېدل ،هغه هم سستي ونکړه دناروغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحت ته پـه لیدو یې له نورو ناروغانو اجـازه واخسـته اودو ی یـې وغوښـتل معاینات ترسره شول درمل هم ولیکل شول .د درملو اخستو په وخت پیسـو .کمبود وکړ.حیران ووچې اوس څه وکړي له غم اواندېښنې په ډکه څهره بېرون ته راووت،خور یې ترې پوښتنه وکړه ولې څه شوي ؟

ده وویل پیسې کمې دي که دوا ټوله اخلو،نوکرایې لپاره څه نـه پـاتې کېـږي هغې ورته وویل خیردې مورته دوا پوره واخله موټروان ته به هلته پیسـې پیـدا کړو،همداسې یې وکړل،تېرماښام ووچې کورته ورسېدل ،مورتـه یـې درمـل ورکړل. هغې ارام وکړاودی خپلې خونې ته لاړ ډوډی دخوړلووخت شـوڅوک ورپسې ورغی د ډوډی خوړلويې ورته وویل خوده انکار وکړ .

زه یې نه خورم موړ یم،فکر یې کاوه چې مقاله په څه ولیکي ترڅویې سـبا پـه اداره کې ورکړي،له ډېرسوچ اوفکر وروسته یې سرپه کمپلـه کـې تاوکړ،څـه وکړم هېڅ هم په ذهن کې ندي راپاتې،ویده بـه شـم ،کومـه بهانـه بـه ورتـه وکړم،خو خوب هم نه ورته ،بېرته راپورته شو، کتابچه یې راوخسته اوپـه څـه لیکلو یې پیل وکړمقاله یې ولیکله ،په بله ورقـه کـې یـې پـاک نـویس کـړه .نورپربوته،سهارله خوبه دپاخېدوسره سم یې دموردصحت پوښتنه وکړه ،هغه اوس ترپرون ډېره ښه شوې وه ،په خویندو یې ټینګار وکړچې دموردېرخیـال وساتي ،نور ښوونځي ته روان شودتلوپه وخت کې یې له مورنه دعاواخسـته او ووت،.نن مکتب ته هم ناوخته ورسېده ،خپله لیکلې مقاله یـې پـه اداره کـې مدیر ته وسپارله،دصنف په لورراون شو،دربیم ساعت وو چې مدیراوسـرمعلم له نورومعلمینو سره صنف په صنف وګرځېده ، داخبره یې کوله چې د لـومړي دوهم اوربیم مقام ګټونکوته به جایزې ورکـړل شـي،خو ګـورئ چـې سـباته غیرحاضري ونکړئ چې دمعارف له ریاست څخه هم هیئتان راځي .سبا ته دی بیا وختي له کوره راووت اندېښنه یې هم کوله ،ویل یې چې دمقالې لیکلو پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې يې فکرسم نه وو،خدای خبرچې څه به يې ليکلي وي ،هسې نه چې صفر نمره يوسي د ټولواستادانو اوهمزولانوپروړاندې به وشرمېږي.

اوهو! رښتيا سباته خو دنجونو دليسې شاګردانې هم راځي کنه ځکه چې دا خومسابقه ده هغوی هم پکې ګډون کوي ،پښه نيولی شو.

نه نه هېڅ نه ځم! ،پر پرده چې هرڅه کېږي وي به زه خو به يې نه وينم ،بيا به يې پريکړله بدله کړه خيرلاړبه شم خوپه اخرکې به کينم .هسې خوهم له وضيعت نه پته لګېږي ،که حالات ښه نه وو، غلی به راوه وځم.په همدې کرلو،رېبلوکې د ښوونځي په دروازه داخل شو،شاګردان لين ولاړوو.مديرد ستېج په سر خبرې کولې،کله چې دمديرخبرې پای ته ورسېدې،سرمعلم رامخکې شو،سلام يې وکړ ټولو شاګردانو اواستادانوته يې ښه راغلاست ووايه.ويې ويل چې اوس به تاسې ته دمقالوپه اړه خبرې وشي اوګټونکيو ته به خپلې جايزې ورکړل شي.

ټول استادان سره ټول شول،مديروويل راځئ چې په دې دوه (دنجونواوهلکانو) په لېسو کې ستاسو ورورياخورااوممتازشاګرد ،دروپېژنو چې څوک دی ،دده په زړه دوېرې ساړه ننوتل لړزه پرې راغله هېڅ شي ، خوند نه ورکاوه ،هغه به ويل راځه بېرون ته وځم،خوجرئت يې ملتيانه کوله، دستېج پرسر استادانواوستېج چلوونکي په دې خاطر چې دټولوتلوسه ډېره کړې ويل به يې پوهېږې د ننني ازمويني ګټونکی به څوک وي؟

په لېسه کې به يوشورجوړشو،چا به يوچاته ګوته نيوله اوچابل چاته،اناونسر(ستېج چلوونکي) به غږکړ الله دې تاسو ته انصاف درکړي داپرتاسو څه شوي.ايا تاسو هېڅ نه دي زده کړي ټول ناکام شوي ياست!!يوه درنه چوپتيا به خوره شوه.بيابه يې وويل مه خفه کيږی ماشاء الله تاسوډېر با استعداده ياست.اوس! اوس!معرفي کوم دلمړي مقام اوغتې جايزې ګټونکی اوښکلی شاګرد!!! پوهيږی څوک دی ؟بيا به يودروندشورجوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوداسې لکه دچنچنو یولوی اووړی سیل چې دمازیګرلمرپرېوتوپه وخت کې د غنمو په پټي راتوی شي خو دهقانان ورته اشپلاق وکړي اوبېرته یې والوځوي ،داسې حال به جوړشو،نه نه تاسو یو هم ونه ویل،هغه با استعداده ځوان دی ،هغه دی ،ټولوبه ورته غوږونه کاږه کړل اویوډول تلوسه به یې زړه کې وه،نور نو انتظار هم سترې کوونکی کېده، چې په دې وخت کې له ستېج نه غږ راووت هغه دی د یوولسم (ب)ټولګي تکړه،بااستداده اومؤدب شاګردجمال خان !!!یوځل بیا ههااوچیغې جوړې شوې دلاسونوپړکایوبل قسم خوندور زېګنال جوړ کړی وو،ټول حیران وو،جمال هېڅ فکرهم نه کاوه هېڅ یې نه منله ،ویل یې چې هغوی به ټوکې کوي ،خو کله چې یې وویل له جمال څخه هیله کېږي چې ستېج سرته تشریف راوړي ،دلاسونو دپړکولو په بدرګه په داسې حال کې له وروستي لین څخه راووت،چې په سترګوکې اوښکې ځلیدې خو دا اوښکې دخوښۍ وې.نږدې دوه دقیقې چکچکې روانې وې ،ستېج ته په رسېدودلېسې مدیر غاړه ورکړه په تندي یې ښکل کړ،مایک ته یې نږدې کړ ،ویې ویل زه په داسې شاګردانوفخر کوم،نن جمال خان خپلې لېسې ته یوبل ویاړ ورپه برخه کړ،ټولو استادانو مبارکي ورته و ویله ،اناونسر و ویل پوهېږۍ د جمال مقاله د څه شي په اړه وه ،جمال نن داټولو ته ثابته کړه چې له خپلې مورسره څومره مینه لري دهغه د مقالې عنوان دی

(مورې! ستا مقام ته سلام) جمال ته خپله جایزه ورکړل شوه ،امیلونه په غاړه له ستېج نه راکوزشو،د دوهمې جایزې ګټونکې د نجونودلیسې دلسم ټولګي زده کوونکې نورجهان وه چې نن دکومې ستونزې له امله نه وه راغلې ،سبا ته چې جمال له ښونځي نه کورته ولاړنو کشرې خورېې یوپاکټ ورکړ،پوښتنه یې ځنې وکړه،داڅه دي ؟

خورېې وویل نه پوهېږم خو زمونږ همصنفۍ اود پروني دوهم مقام ګټونکې نورجهان راکړی هغه پرون نه وه کېداې شي تاته به یې مبارکي لیکلې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



،دی هم کوټې ته ننوت پاکټ یې څېرې کړ،په سپین کاغذ یوښکلی ګل ایښودل شوی وو،لیک یې پرانیست لیکل شوي وو،مبارک، مبارک ، جمال خانه ډېره دې درته مبارک وي.زه ویاړم چې ستاپه شان ذهین هلکان لرو،ډېرې نورې خبرې یې هم لیکلې وې ،خو په اخرکې یې لیکلې ووچې ماته، لیدلی یې خوکېدای شي تا به زه نه یم لیدلې.

ده هم ورته خط ولیکه ،اول یې ترې مننه وکړه اوبیایې مبارکي، ورته وویله ،خپلې خورته یې لیک ورکړ،سبا یې چې خور راغله جمال ته یې وویل لالا!تا په نورجهان څه تعویز یاکوډې کړي، هغه خو سمه درپسې مړه ده اوربښتیا پوهېږې چې هغې نن درته زماپه مخ کې لیک ولیکه اوکه راباندې غوصه کېږې نه ،نو به یې درته ووایم ،هغې لیکلي چې غواړي له تاسره وګوري.

ورور خپلې خورته برګ شوغلې شه لیونی! دهمدې لیکونو له لارې یې دجمعې په ورځ یوځای وټاکه چې هلته به ګوري ،جمال ښه ځان لوکس جوړکړ،له کوره ووت ،غوښتل یې ځان ټاکلي ځای ته ورسوي پنځلس دقیقې وروسته دنورجهان سترګې په جمال ولګیدې چې له موټر څخه پیاده شو،په خپل ځای ودرېد،اخوادېخوایې وکتل،دجمال هم ورته په مخامخ ولاړې نجلۍ سترګې ولګېدې،کومې نښې چې ورته دلیک لارې ښودل شوې وې ،هماغه نښې یې د نجلۍ په جاموکې ولیدی، نو په لوري ،یې ور روان شو،اخوا دېخو یې ونه کتل، تنده یې زیاته وه چې اوس به له نورجهان سره وګوري، له سړک نه په پورې وتوکې وو،چې د موټر دټایرکریکه اورسره جوښت یووېره وونکې ،درز دخلکو توجه دسړک پرمخ نسکور هلک ته واړوله،نورجهان ،چې ورته مخامخ ولاړه وه،چیغه یې کړه جماله !!منډه یې کړه تر نورو خلکومخکې وروړسېده،خوبیایې یوه بې دربغه چیغه وکړه،هغې دجمال مخ ونه پېژانده،ولې چې موټریې پر سرختلی وو،خلک پرې راټول شول،خو جمال مخکې له روغتون ته له وړلو مړ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نابلده سوالګره

سترګې يې و زبېښلې، څه لاندې تويې شوې اوڅه اوښکې يې د سهارني شبنم پشان د بڼو په څوکو کې ونښتې ، لمر هم تازه را پورته شوی و په بڼوکې بندې اوښکې يې ځلېدلې، پوزه يې هم کش کړه ،ويې ويل زه نه پوهېږم دلته څنګه راغلم اخر ولې له ماسره خدای پاک داسې کوي؟

همدا يې وويل نوريې ستونی را ډک شو مخ يې بل خواته واړوه،کله چې يې بېرته زما طرف ته را وکتل سترګې يې هم وچې وې اودپوزې څوکه يې سره اوښتې وه.

ورته ومې ويل نو په دې سهار وختې کې دلته څنګه ولاړه يې اوپه دې درسره پلاستيک کې څه دي؟

نجلۍ وويل :ولاړه خو ځکه يم چې هېڅ نه پوهېږم چېرې او څنګه ولاړه شم،نن مو په کور کې هېڅ هم نلرل، چې خوړلي مو وای حتی دځان ګرمولو لپاره مو هم څه نلرل، په کور کې وړوکی ورور يا خور نلرم نو ځکه پخپله له مورنه پټه را ووتم ، ترڅو زه هم ګدايي وکړم ،له دې خبرې سره نه يواځې دهغې بلکې زما زړه يې هم دومره نری کړ چې ناڅاپه ښه په زوره رانه وژړل شول،هغه هم سلګيو واخسته،جېب ته مې لاس کړ کاغذي دستمال مې را واخست اوښکو پاکولو لپاره مې سترګوته پورته کړ چې بيا مې ددې خبرې ترغوږه شوې،له ژړا سره په ګډ غږ يې ويل: اوس چې دلته بازار ته را ورسېدم په هرځای کې يو ،دوه او دسوالګرو ډلې ولاړې دي په ښار کې له نورو خلکو سوالګر ډېر دي اوس نه پوهېږم چېرې لاړه شم او له خلکو څنګه سوال وکړم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې هغه لاس چې پلاستیک پرې نیولی و را پورته کړ ،په دې پلاستیک کې مې دوه کتابونه دي دامې ډېر قېمته اخستي دي او هېڅ نغواړم له ځانه یې بېل کړم ،سره له دې چې ماته یې لا تراوسه کومه ګټه نده کړې،په دې کې د ژوند د مشکلاتوسره دمبارزې کولو هنرونه او لارې چارې په ګوته شوي خو نن ما هغه وروستۍ لاره چاره هم و ازمایله مګر زما ژوند ته یې هېڅ تغیر ورنکړ.

ورته ومې ویل ښه نو زده کړې دې هم کړي دي؟

هو پروسږکال ۹ ټولګي ته بریالۍ شوم خو اوس یې نه وایم.

ولې یې اوس نه وایې؟

ځکه یې نه وایم چې په کور کې سرپرست نلرم ،ښوونځی مو له کوره لرې دی مخکې مې پلار دکلي له نورو نجونو سره راته یو کوچنی موټر نیولی و په ګډه به مو پیسې ورکولې، اوس یې توان نلرم، د ښوونځي د جامو، کتابچو او قلمونو لپاره خوځه چې ان دخپل ځان د موړ ساتلو لپاره یې هم نلرو، کله د یوه او کله د بل همسایه کورته په تمه ناست یو دا دوه کاله به مې حکومت د پلار یو اندازه معاش راکاوه، خپل ځان مو وربانډې ساته خو دا درې میاشتې وشوې چې هغه یې هم راباندې قطع کړی دی مور مې هم د شکر ناروغي لري یوناځاپه پرې حمله راشي بیا راته لکه دمړي پشان پرته وي.

سره له دې چې د پوښتنو کولو توان هم نه و راکي، نور مې نو زړه ښخي را ډک شوی و خو په سختۍ مې ورته وویل :

نو پلار دې چېرې دی او ولې یې دولت معاش نه درکوي.؟

دنجلۍ په سترګوکې بیا اوښکو ډنډ جوړ کړ،ژوره ساه یې واخسته خبرې یې قطع نکړې، پلار مې په یوه وزارت کې مامور و دوه کاله وړاندې یې په موټر ځانمرګی برید وشو او پلار مې پکې شهید شو، اوس یوازې زه او مور مې پاتې یو نو وروښه او خویندې هم نلرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماورته وويل ښه نوته اوس غواړې چې سوال وکړې، هغې سترګې د ځمکې پــه لور کړې ويې ويل:

بله چاره نلرم خوځنګه به سوال وکړم، ماته خو د سوال کولو او خيرات غوښتو هېڅ چل نه راځي تراوسه مې هېڅ چاته دسوال په نيت لاس نــدی غزولــی،او وېره هم لرم،هغه وخت چې زه به ښوونځي ته تللم او کومې نجونې به مې چــې ليدلې چې سوال به يې کاوه کله کله به مو چې له کومې پوښــتنه وکــړه چــې خلک خو يې نه په تنګوي؟

ډېروبه ويل چې ځينې ځوانان هلکان دي نه يواځې دا چې خيرات نه ورکــوي بلکې دېرې بــدې خبــرې او تقاضــاوې ورځخــه لــري اوس زه خپلــه پــه دې سرنوشت اخته يم خدای ته ډېر سوالونه کوم چې له دې ژونــد ځخــه مــرګ راکړي ډېره به ښه وي.

کاغذي دستمال مې ورکړ ترڅو پرې خپلې اوښکې پاکې کړي،دکور پتــه مــې ورڅخه واخسته .له ځانسره مې وويل له ځينو ملګروسره به يې يادونــه وکــړه که په ګډه ورسره يو څه اندازه مرسته وکړو ددې بې وزلې ښځينه کــورنۍ يــو څو ورځې خوبه پرې تېرې شي.

همداسې مې وکړل کله چې دفتر ته ولاړم د خپل وس په اندازه مرســتې مــې ورته برابرې کړې دريمه ورځ مې په يوه ټکسي موټر کې بار کــړې ترڅــو يــې کورته ورووړم کله چې د نجلۍ لخوا په راکړل شوي ادرس هغه ځای ته ولاړم ،له يوه هلک ته مې د نجلۍ لخوا راکړل شوې نښې وويلــې ،تصــادفاً پــه هماغــه ساحه کې وم خو هلک ماته ښکته پورته کتل نور يې څه نه ويل ،بيا مې پــرې اواز وکړ ايا تاسوته معلومات شته ؟

هلک ټکان وخوړ لکه له خوبه چې ويښ شي.

ــ هو هغه همدا ځای دی خو اوس هغه نجلۍ او مور يې نشته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ څه نشته، یعنې څه ستا مطلب څه دی چې نشته ایا هغوی له دې ځایه ګـډه وکړه.؟

ـ نه نه کډه یې نده کړې بلکې هغوی دواړه اوس په دې دنیا کې نشته .

دهلک خبرې راته مسخرې ښکاره شو، ورته ومې ویل داته څـه وایـي سـمه خبره وکړه.

هلک وویل سمه خبره کوم راشه وګوره هاغه یې کور دی، تېره شـپه د نجلـۍ مور دناروغۍ له امله خپل ژوند له لاسه ورکړی و او نجلۍ پخپله ځان وژلی و.

د هلک په خبرو مې بیا هم باور رانغی له لاسه مې ونیو ورته ومې ویـل راشـه کوم کور یې دی هلک مخکې او زه ورپسې شوم،یوه په لوګیو ککړ کورتـه یـې ننوېستم کوټې کړکۍ هم نلرلې، په منځ کې یې د فرش پرځای پلاستیکی بنـر غوړېدلی و په یوه تاخچه کې یواځې هغه دوه کتابونه ایښی و چې په هغه ورځ مې دنجلۍ په لاسونو کې ولیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما موټر

دکړکۍ ترڅنګ خلاصې شیشې ته مخامخ ناست وم،داخبار پروف مې کاته،په دې خاطر چې کومه غلطي یا اشتباه ونه لري،ځکه سباته باید چاپ شوی وای، دروازه راخلاصه شوه،سینه مې دود ونیوه ،ډېر تېز وټوخېدم،اخواته په څوکۍ ناست هلک راپورته شو،دپنځوافغانیوسکه یې ورکړه،اوروان شو،دروازه یې بنده کړه،ماخپل کارته ادامه ورکړه،شېبه وروسته بیا هلک راغی ماته رانږدې شوه،په دري یې راته وویل ،توهم پنج افغاني بده ،ماپه دې خاطر چې دې هلکانوته کنجوس ښکاره نشم،نومې بې له کوم بحثه پنځه ګون ورکړ،لکه د تېرپشان یې دروازې ته درز ورکړ او ووت،کتل مې اخبارته خوفکر مې له هلک سره وو،طاقت رانغی،همداسې ورپسې بېرون ته راووتم،ګورم چې ددفتر ترڅنګ په مطبعه کې،هلته چې اخبار،مجلې،کتابونه،پوست کارتونه اونورشیان چاپېږي،له دروازې نه لږ ور اخواته ناست دی،اودمطبعې له یوه کارکوونکي (مجید) سره خبرې کوي،زه هم وروړسېدم ،ترڅنګ یې کېناستم،هغه ترې پوښتنه وکړه نن دې څو روپۍ ټولې کړې دي،ده ورته ویل ۳۱۰سه صد ده روپه ،داوخت نو دسهار نهه بجې او ۴۲دقیقې وې،زه حیران شوم،چې تراوسه خوزما پشان خلک له خوبه هم نشي پاڅېدای ،اوده دنر بچي بیا درې سوه او لس روپۍ مزدوري کړېده،دتعجب خبره ده،په هلک مې ښکته پورته نظر تېرکړ،له لباس،وېښتانو،پښو اولاسونو،اوپه سرله خولۍ څخه یې داسې راته معلومه شوه ،چې په تېرو شل ورځوکې خویې هغه دخلکو خبره هېڅ اوبه ندي لیدلي،دوی خبرې کولې اوما دی ارزیابي کاوه،اخریې په خبروکې ورپرېوتم،ورته مې وویل،کور دې چېرته دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ په لب جر کې.

ــڅوکلن يې؟

ــ ديارلس کلن.

ــنور ورونه لري.

ــهو درې داني، يورانه مشر دی اودوه رانه کشران دي.

ــ ښه نوهغوی څه کار کوي؟

ــله مانه چې مشر دی،هغه واده کړی دی،اوله مورنه بېل دی،هېڅ تــرې خبــر نلروچې چېرې دی اوڅه کوي،اوله مانه چې کشران دي هغوی کوچني دي،مالا ورڅخه دپلار په اړه پوښتنه نه وه کړې چې ويې ويل: پلارمــې ســپين ږيــری دی،تېرکال يې په غره کې تيرې وبستلې چې يوه غټــه تيــږه يــې پــه پښــو راولوېده اواوس شل (فلج) دی.

بله پوښتنه مې ترې وکړه لمونځ کوې،هلک په ژړاشو،سلګيو واخســت،خبرن لستونی يې پرسترګو راتېرکړ،نه! ماورته وويل ولــې لمــونځ نــه کــوې ، يــادې ندی؟هلک وويل،پلار مې راته لمونځ شروع کړی و ،ډېر مې يادکړی وو،دقــران شريف دوه سورتونه مې هم ياد کړي وو،خوهغه وخت  چې پلارمې شل شــواو ورور مې له مور نه ولاړه ،لمانه هم لمونځ پاتې شو،په مسجدکې مې له ملاڅخه سپياره هم پيل کړې وه ،په کور کې مې مور اوپلار لمنځونه کوي ،خــوزه چــې کورته ولاړشم بياله ځانه خبرنه يم هرڅنګه اوهرچېرې چــې پرېــوتم هماغــه شان ويده شوی يم،هغه چې لاندې ځمکې ته يې کتلې او له خپلې دســپېلنيو له خلتې يې غټ ډکې ټولول ،خپلې خبرې وغزولې:زمالانه يادېږي چــې ماپــه درې وختونوکې يووخت ډوډۍ هم له خپل مور اوپلار ســره پــه خپــل وخــت خوړلې وي،هغه ډېرزرور وو،ماته يې وويل ډېروخت داسې کېږي چې زه کورته ولاړ شم نو په کور کې هغوی ويده شوي وي،هلک غوښــتل ولاړ شــي ،پورتــه شوويل يې ځم چې ګرمي ده وروستـه موټرونــه کمېــږي  زمــادغريبۍ وخــت

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدااوس او وروسته له ماسپښینه وي،ولې چې هوایخه شي بیا ټول موټرونه راپیداشي اوپه سړک ځای نه وي نو زموږ هم خدای ثواب وکړي او یوڅو روپۍ وګټو.
مخکې له دې چې ولاړ شي بیامې ترې وپوښتل کله چې دموټروته دود کوې ایا هغوی درسره ښه رویه کوي؟
لویه ساه یې واخسته،پر پرده یې هېڅوک هم یوشان ندي،کله مو خلک رټي ،کله کله خوملا یونیم په څپېړه وهي،اوځینې بیاښه وي پیسې هم راکوي،او لا یې پرموږ زړونه سوځي او داسې راته حیران ګوري چې له ورایه یې په څېروکې خفګان ښکاري، هرڅوک دبل چاپه مشکل نه پوهېږي ،یواځې هغه څوک پوهېږي چې په سینه کې یې زړه وي نه کانې ،هلک ځانته حیران کړم،داسې خبرې یې کولې چې هریوه یې دکاڼي کرښه وه.
نه پوهېږم په کوم سوچ کې به تللی وم چې لاس یې را اوږود خدای پامان،زه ځم خوګوره هروخت به پنځه روپۍ راکوې کنه موټرته دې هېڅکله هم سپند(دود) نه کوم اوپه کار کې دې برکت نه لوېږي!
حیران شوم چې دی څه وایي،زما موټر؟! ورته مې وویل زما موټر چېرې دی؟ددفتر مخې ته ولاړې فولادي رنګ کې کرولاته یې چې د مطبعې دمالک وه لاس ونیوه داڅه شی دی،زماځواب په لاس راغی چې ولې داهلک په سر کې ببرته راوګرځېده او لمانه یې پنځه افغانۍ واخستې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وینې ګروپ

له ډېرې مودې وروسته مې یو ملګری څنګ ته راغی چې په لیدویې ډېر خوښ شوم،مخامخ مې ځانته کېناو،خبرې مې ورسره پیل کړې،دداسې خلکو خبرې هسې هم سړي ته خوند ورکوي ډېرپه تلوسه کې وي ورته.
ورته مې وویل:ښه نوقصه راته وکړه چې په هغه ځای کې دې وخت څنګه تېرشو؟ وظیفه دې سخته وه که اسانه،دخلکو چلند درسره څنګه وو،امنیتي حالت په کومه درجه کې قرار درلود او.... ،هغه راته وویل یاره پوښتنه یې مه کوه ،زه هم ټکنی شوم فکر مې وکړ چې هغه لېرې ځای دی کېدای شي،خلک حالات ،رسم او رواج یې بدل وي ،کله چې داسې یوځای ته نااشناکس ورشي حتماً پکې دڅه مودې لپاره زړه بدی کېږي ،امکان لري چې له خلکو به یې زړه ټکېدلی وي،نه به غواړي چې راسره پرې خبرې وکړي،لړغلی شوم خوبیامې صبر ونه شو.
ورته را نبغ شوم ،ولې لکه چې خوند یې درنکړ که څنګه؟
بالښت یې ځانته راکش کړ،په منځ بېل شوو وېښتانوکې یې ګوتې تېرې کړې ، هغه پخپله له بدن نه کمزوری وو،په غوښه ډېرابادنه وو،خو وېښتان یې لوی ساتل ،راته مخامخ شو.
ته غوږ شه چې دخپل دفتر په اړه درته څه ووایم ،ماچې هم همداغوښتل ورنږدې شوم، ښه ووایه کنه .
ښه نو غوږشه ،کله چې دوه کاله وړاندې مور څونفرو ددې فتر لپاره انټرویو ته وغوښتل شو نو زه پکې ومنل شوم،چې ورغلم،خپل مسؤولیتونه راته په ګوته کړای شول،ددفترشرایط اوزما دنده راته وسپارل شوه،زما شعبه،دخوب ځای اونور هرڅه راته وښودل شول،رئیس راته یې وویل: چې نن استراحت وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسباته دې خپله دنده پيل کړه،ماهم همداسې وکړل،څوورځې وروسته يو بل هلک هم زما شعبې ته رامعرفي شو،زه هم پرې خوښ شوم ،ځکه يـواځې بـه ناست وم،دخبرو اوساعت تيرى مې څوک نه وو،هغه هم په کار پيل وکړ خپلې چارې مو ډېرې ښې سمبالولې،تل به زما اودهغه نظريو وو،حتی تر دې چې پـه خوی ،خصلت،خوراک ،څښاک،ناسته ،پاسته اوهرڅه کې يو بل ته ښخي ورتـه وو،بله ورځ موپه دفترکې رئيس ته وويل ،چې زموږ ددواړودخـوب اطـاق هـم يوځاى شي هغه دې هم خير يوسي زموږپه خوښه يې راسره ومنله،يوه ورځ له موږ څخه دويني ګروپ وغوښتل شو،ماته يې وويل چې دوينې ګروپ دې څـه دى ماورته وويل A+مثبت اى کله چې يې له هغه څخه پوښتنه وکړه نـو هغـه اول ما اوبيايې هغه سړي ته وکتل ته سريې دځمکې پـه لورښـکته کـړ ويـې ويل:A+مثبت اى،ماهم ورته حيران وکتل!هغه سـړي وپوښـتل اياتاسـو دواړه وروڼه ياست؟ داچې موږ ډېر صميمي وونوموورتـه پـه يـوه اواز وويـل هو،پـه حقيقت کې زه ديوه او هغه دبل ولايت دى،سړى په خپله مخـه ولاړ،مـاده تـه وويل اياتاده ته دخپلې وينې ګروپ صحېح ووايه؟هغه وويل هو نو ولـې څـه غلط مـې ورتـه وويـل؟دواړه ډېرخـوښ شـولوچې دټولوعـادتونو ترڅنـګ زموږدوينې ګروپ هم يو دى.

دوه مياشتې وروسته په همدې ډول، يوبل هلک هم زمـوږ شـعبې راوسـتل شو،درې واړوبه يوځاى کار کاوه،دده ډېر خواص هم زموږ په شان وو،يـوه ورځ ترې زمادې ملګري سالار پوښتنه وکړه هلکه توابـه تاتـه دې دوينـې ګـروپ معلوم دى؟ هغه سر راپورته کړ لکه چې وينې ته ضرورت لرې کـه څنګـه زه پخپله دوه هډوکي يم،په کړس مو وخندل،ده ورته وويل نه ياره،هسې پوښتنه مې وکړه،ده هم ټوکه ورسره وکړه،که وينې ته مې حاجت هم وشي نو ستاوينه خونه اخلم ټوله خرابه اوله ميکروبه ډکه ده ،ښه شېبه مو ټوکې وکړې،داځـل زه هم پکې ورګډ شوم تاسو هم ترې د کشمير مسئله جوړه کړه دوستانو،تواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



راخېز کړ ، زړه مه تنګوه اشنا زما وینه څه چې ټول ځان مې له تاسونه قربان دی هوماته دخپلې وینې ګروپ معلوم دی،A+مثبت ای ،دی!!
مااوسالار یوبل ته حیرا ن حیران وکتل،تواب هم زمونږحیرانی ته سوچ کې شو،ژر یې وپوښتل هلکانوخیریت خوبه وي ،څنګه غلي شوئ ،ای ګورئ زه دروغ نه درته وایم ښه ماته معلوم ده چې زما دمینې ګروپ همداده، ماورته وویل هوخیر یت دی خوته دې عجیبه تصادف ته وګوره، زما او دسالار دوینې ګروپ هم A+مثبت ای دی ،هغه نه راسره منله،فکر یې کاوه چې مونږبه ورسره ټوکې کوو خوچې قناعت مو ورکړ بیایې ومنله،درې واړه ډېر خوښ شولو په مینه مو خپلې چارې مخته وړلې خو!!
دلته هلک جېب ته لاس کړ دستمال یې راووېست سترګوته یې ونیو،اوښکې یې پاکې کړې،ما ورته وویل ولې ؟هغه وویل خو اوس یوه اوونۍ وروسته مونږ سره بېلېږو او په هغه دفتر کې زمونږ کارې موده پای ته رسېږي او وایي چې نور خپل فعالیت دلته بندوي کنه ،بیایې هم نور خلک نه نیول.
هغه راته وویل چې سالار اوتواب دواړوبه ماته ویل چې ستاوینه کمه ده اوضرورت ورته لرې، وجود دې کمزوری دی مونږ به وینه درکړو پر ېږده چې ښه شې ،خوزه به ترې خفه کېدم ورته ویل به مې چې تاسو پرما ملنډې وهی،ایازه ستاسو دریشخندیم؟ خو اوس وایم چې کاش ماداکار کړی وای اوس خوبه یې کم ترکمه وینه راسره دنښې په ډول پاتې وه، ماورته یوڅه ډاډګېرنه وکړه.
زمونږمجلس په همدې ځآی پای ته ورسېد ویل یې چې اوس څم اولږ کار لرم بیابه ګورو،ماورته وویل چې هېڅ فکر مه خرابوه ترڅوچې بله وظیفه پیداکوې،نودلته زما ترڅنګه راڅه ساعت به موسره تېر ېږي،هغه راته وویل سمه ده انشاء الله .
درې اوونۍ وروسته سهار په کور کې ناست وم دفتره دتګ لپاره مې اماده ګي نیوله چې کوچني زوی مې موبایل په لاس،زماپه طرف رامنډې وهي په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې دموبایل زنګ قطع شو،ماته یې راکړ ویل یې چې چازنګ وهلی وو،له دې سره بیا زنګ راغی،کله چې مې وکوت نمبر د نورالله وو،ژرمې اوکې کړ،لــه دې سره له هغې طرفه راباندې اواز وکــړل شــو چــې ژر روغتــون تــه راشــه ،ترڅومې پوښتنه کوله چې څه پېښه شوې ده،بلې خبرې ته یې پرې نه ښودم یواځې دومره یې وویل چې نورې خبرې بــه دلتــه پــه روغتــون کــې کــوو.ژر راشه،ادرس یې راکړ زه هم وارخطاشوم هرڅه رانه پاتې شول،په کورې کې مې وویل چې زه ځم اویوعاجل کار راته پیداشو،له کوره ووتــم اوســیده راښــودل شوي روغتون ته ورغلم،عاجل واټ ته داخل شوم ګورم چې نور الله په چپرکټ په سرو وینوکې لژند پروت دی،اکسیجن ورته چالان دی اوهېڅ حرکت پکې نه وو.

پوښتنه مې وکړه چې څه چل پرې شوی دی ،ډاکټر راته وویل چې اکســیډنت یې کړی دی اووینه یې ډېره ضایع شوې ده نو څومره چې ژر کېږي وینه ورتــه پیداکړئ،ماورته وویل سمه ده،تشویش مه کوئ،هلې ژر کوئ زه ورتــه خپلــه وینه ورکوم، همداسې یې وکړل،وینه یې ورکړه دهغــه ملګــري چــې اوس لــه ماسره هم دوستان شوي وو،اوهمدې ښارته راغلي وو،فون مــې ورتــه وکړ،پــه درنګ ګړی کې دواړه راورسېدل،ډېر وارخطاول خوماورته وویــل چــې کومــه خبره نشته انشــاء الله چــې هرڅــه ســم دي نــور الله هــم روغ دی ډېرژوبــل ندی،یواځې سریې مات دی او نور یې ضربه خوړلې ده،اوس به هرڅه سم شــي غم مه کوئ.

دوه ساعته وروسته نورالله هم په هوښ راغی،خوسترګې یې لاپټــې وې، اوبــه یې وغوښتې خوډاکټر  وویل چې په دې وخت کې اوبه ورته ښې ندي،مــه یــې ورکوئ،وروسته یې ورکړئ،سالار وویل څه اوس ژر ببېرته راځم اوله مــور روان شو،شېبه لانه وه تېره چې له بلا جوسونوسره خونې ته را داخل شو،مور ته یې هم ترې راکړل ،واخلئ هلکانو چې مور یې هم وخښنو له ده  نه مور ورتــه ډېــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرورت لرو ،اخر موخومره اندېښــنه او وارخطــايي ورتــه کړ بــده،څودقيقې لاتېرې نه وې چې سترګې يې وغړولې ګوري چې زه ،سالار اوتــواب درې واړه يې مخ ته ولاړيو،سالارته يې په بنده بنده ژبه وويل وګورئ کنه چې اخــر هــم راته راپکارشوی، نن تاسو زه وژغورلم،خــوژر يــې زماپــه لاس چــې دوينــې اخستوپه وخت کې، لږ په ينوشوی وو فکر شو،راباندې غرېږې کړ هلکه په تاڅه شوي دي ته خو هم ژوبل يې کنه.

تواب يې په سر ورته لاس کېښود ،پــه اوچــت اواز غرېــږه چــې تــاوان کــوي درته،سالار زماپه اوږه لاس کېښود،ورته يې وويل ته موږنه بلکــې ده ژغــورلی يې.

هلک حيران شو څه!! ده ژغــورلی يــم ؟هوتــا تــه نــه مــا اونــه تــواب وينــه درکړې،کومه وينه چې تاته درکړشوېده هغه ده خپله وينه درکړېده، نــور الله ورته وويل، نوله ماسره خوستاسو دوينې ګروپ برابروو بيــانوده څنګــه وينــه راکړه؟

ماته يې مخ راواړاوه ستادوينې ګروپ څه دی؟

په دې وخت کې هغه ډاکټر چې زماوينه يې اخستې وه،راورسېداوله مــامخکې يې دوی ته وويل A+مثبت ای!!!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بخښنه غواړم

ډېره موده شوې وه چې کلي ته نــه وم تللــی ، هېــواد تــه پــه ۲۰۰۱م کــې د امریکایي ځواکونو له راتګ سره ترې راکډه شوي وو،بیامې سترګې هم نــه وې ور اړولې،نورکارنه وو دورځې به مې په بازار کې تــازه میــوه اوســبزي پلورلــه اوماښام نه وروسته به مې دانګلیسي اوکمپیوټر کورسونه ویل،کله به چې کوم دوست ښارته راغی اوپه کلي کې به مو د وضعیت په هلکه وپوښته نو له زړه به یې وینې څڅېدې، ویل به یې، تېر شئ ترې هېڅ پوښتنه یــې مــه کــوئ ډېــر بدحال دی.

یوه ورځ مې شېر ماما په ښار کې ولیده چې د سودا بوجۍ یې په شاه او خپله کوچنۍ لور یې هم له لاسه نیولې ،اواز مې پرې وکړ،مخ یې راواړوه ،چــې ویــې لیدم ، له خوښۍ نه یې دتندي ګونځې هوارې شوې، ورنږدې شوم روغبړ مــې ورسره وکړ، کوچنۍ نجلۍ ته مې هم د سترګي مشي په نیت لاس ور اوږود کــړ، خو هغې دښي لاس پرځای،چپ لاس راوغزاوه،پلار یې راته وویــل: ښــي لاس یې ژوبل دی، څو ورځې وړاندې دکلي په منځ کې دطالبانو،حکومت او بهرنیــو ځواکونو ترمنځ دکلي په منځ کې نښته وشوه، چې ډېرنور کلیوال یې هم مــړه اوټپیان کړل،شیرینۍ هم په لاس په پرچه لګېدلې وه، دادوه ورځې په روغتون کې بستر وه، نن یې خارج کړه،کــه څــه هــم دهغــه خبــرې راتــه ډېــرې زړه شینوونکې وې ،خوبیاهم یوڅه راباندې ښې هم لګېدې، ولې چې دکلي په حال پوهېدم، نژدې ماذیګر وو،راته یې وویل ښه نو مــوږ ځــو چــې بیــا مــوټر نــه پیداکېږي، ماورته ست وکړ چې راځه نن شپه به زموږ کره وکړې،خــوویې نــه منله، ویل یې نه لاړ به شو اوس مې کورته زنګ وهلــی دی،بیالــه ماښــام نــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته موبایل هم کار نه کوي، طالبانوپرې بندیز لګولی دی،مــاهم ډېرکلــک نکړ،روان شو.

بله ورځ بیا په ښارکې وم ،چې زنګ راته راغی ،موبایل مــې اوکــې کــړ، اواز د عامر وو،هغه زما ملګری او کلیوال وو،راته یې وویل: چې بېګاه امریکایــانوددې لپاره دملک سرور په کور بمبارد کړی ،ځکه چې هغه بله شــپه یــې طالبانوتــه ځای ورکړی وو او دده کره یې شپه تېره کړې وه،د بمبارد دزور له امله ستاسو دکلا لویه دروازه هم پرېوتې ده،دېوال مو هم یوڅه نړېدلی دی.

کراچۍ مې سرای کې ځای پرځای کړه،دکلي موټر کې سپور شوم پلارتــه مــې هم خبرورنکړ،ماښام تیاره وه چې کلي ته ورسېدم،ډېرڅه مې نه شول لیــدای ځکه رڼا نه وو، خو هرڅه راته داسې بدل ښکاره کېدل،حتا فضا اوس ډېــره نــا اشنا شوې وه، دعامر دوی د کور دروازه مې وټکوله هغه پخپله راووت په لیــدو مې ډېر خوښ شو، کورته یې بوتللم،په حجره کې کېناستو تر لږ ځنډ وروســته مې ورته وویل : راځه چې یوځل زموږ تر کوره ولاړ شو.

هلک رانېغ شو،غلی شه ! ساده دا اوس هغه زیارت کلی ندی چــې تــا دمخــه لیدلی وو،اوس دلته څوک له ماښام نه وروسته نه شي ګرځېدای، تېره ورځ یې هم شاکر بېولی وو،خوبیا ملک صیب په ضمانت را خوشې کړ.

دهغه خبره مې ومنله،له ځانه سره مې وویل ای خدای دازموږ په هېوادکې څه روان دي، نور خلک څه کوي او موږ څه کوو،ترڅوبه مــوږ غلامــان یو،ترڅوبــه موږه خپلوکورونوکې وژني اوترڅوبه مودمرګ دملکــې پرځــای داســورمخي ، انګرېزان روح اخلي؟

شپېه وروسته ډوډۍ اوچای راغلل،زړه ته مې هم څه نه کېدل خو دعامر لپاره مې هسې په کاسوکې ګوتې ووهلې،تر غورواومجلس کولو وروســته مــو شــپه جوړه کړه، ویده شولو، سهار لمانځه ته راپاڅېدو له لمانځه وروسته مې غوښتل چې خپل کورته ولاړ شم خو ،ډېریخ وو، ببرته مې کمپله په ســر راکــش کــړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوب وړی وم چې موبایل راپاڅولم،ګورم چې پلارمې زنګ وهلــی دی ،ځــواب مې ورکړ راته په قهر وو، ولې دشپې رانغلې، اوبیادې موبایل هم بند کــړی دی، ورته مې وویل چې په کلي کې یم او پرون راغلی یم،دلته دشپې موبایل کار نه کوي، هغه وارخطا شو چې خیریت خوبه وي ،ماورته وویل هو هرڅه ســم دي، تېره ورځ امریکایانو دملک کاکاپه کور بمونه اچولي دي زموږ دکــور دوازه هــم پرېوتې ده،نورکومه دتشویش خبره نده. دپــلار تــر رخصــتولومې ورســته زه اوعامر روان شو، له کلا چې بېرون ووتو داسې فکر مې وکړ،لکه دې ځــای تــه چې په لومړي ځل راغلی یم، په کلي کې هېڅ دپخواشان کورونــه نــه ښــکاره کېدل،هغه دچاخبره که دکلي په یوه سرکې دې هګی ایښې وای نوله بل ســره یې ښکارېده،عامر ته مې مخ راواړه هلکه داڅه دي ،داخلــک څــه شــول؟هغه وویل تاسو څه شولئ،خودوی هــم ولاړ هــره ورځ دبمونوبــاران وي،محاصــرې وي،ټول ځوانان یې دجاسوسانو او القاعده په نوم ووژل او له ځانــه ســره یــې یوړل،زموږ دلته دایوټوټه ځمکه ده کنه زه به دې هم اوس نــه وای لیدلای،پــه همدې خبروکې زموږ کورته ورسېدو ګورم چې په رښتیاهم دروازه دکلا طرف ته پرېوتې او دېوال هم لږ شان نړېدلی دی، کلاته ننوتو،ولاړم دکوټې لورته یــو روزان(کوچنی کړکی) چې درنا لپاره موپرې ایښې وه ،خو اوس مو بنده کــړې وه خلاصه مې کړه ګورم چې په بسترو اوسامان، د بمبارد اوډزو دزور لــه املــه کوم دوه ګوتې ګرد پروت دی،چې له لرې پرې دمارانو،لړمــانو او ځنځوچاپونــه ښکاره کېدل،سوري کې مې بېرته تېرې کېښودې او له کلا راووتو، مــوږ دواړو خبرې کولې چې دغره له طرفه اول دچورلکې اواز راغی اوبیاورسره یــو وبــره وونکی ډزې وشوې، زه وویرېدم ،خو عامر وویل بیابه دې خانه خرابودچامېنــه سپېره کړې وي. هغه راته وویل راځه دربدل ښه نــدي، دهغــوی کورتــه ولاړو چای یې راوړ ،لامو له غړپ نه ووکړی چې کشر ورور یې رامنډه کړه ،غــږ یــې کړ: لالا مړی یې راوړ، هغه ورووته، لږ ځنډ وروسته بېرته له خفګــان پــه ډکــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځهره راغی ، مالاترې نه ووپوښتي چې هغه وویل ګل میر اکا یــې وژلــی هغــه بېچاره یوسړی وو، یواځې یو کوچنی ځوی یې په کور کې وو، چــې هغــه هــم ۸کلن وو،سهار وختي به غره ته ولاړ اودسوخت لپاره به یې ،برړې،ســپېرکي او ګنډېري راوړل،جنازه موماسپښین خاوروته وسپارله،بېرته دراګرځېدوپه حال کې وو،چې څوکوچنیو د هدیرې په لور رامنډې وهلې، چې راورسېدل ویل یې امریکایان راغلي او دګل میر اکادکور خواته یــې مــوټر درولــی دی، څــونفره ورغللو چې ورننېدې شولو،دټوپکو خولې یې زموږ په طرف کړې په انګرېزي یې وویل  ودرېږئ ،که څوک په انګلیسي پوهېږي نو رامخکې شئ،عامر ماته وویل ته خوپوهېږې ورشه چې څه وایي،زه ور روان شوم ،خواته چې یې ورغلم راته یې وویل،داوژل شوی شخص څوک زامن لري؟ماورته وویل ظالمانو  کاش چــې دهغه له وژلو دمخه مویوځل داپوښتنه کړې وای چې څوک لري اوکنه،بدبختو هغه یواځې یوکوچنی ځوی لري او بس،په دې وخت کې دګل میر اکا ښځه چې خپل ځوی نه یې لاسونه تاوکړي وو،له کوره راووته،خبرې یې کولې،په سر یــې خاورې بادولې، زماترخنګ امریکایي پرې اواز وکړ اوپه انګرېزي یې ورته وویل بخښنه غواړم مېرمنې موږ ویل که هغه تروربست دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ارمان

په دې دردېدلي هېواد کې يې له درد او غم څخه ډکې شپېې او سړې تودې ،لوړې ژورې،لوړې او تندې وګاللې ، دوخت فرعونيانوته يې د موسی پشان ځواب ووايه.
له لومړي ټولګي يې زده کړې پيل کړې او هغه ارمان چې د زده کړو په برخه کې يې لاره تر سره کړ،غوښتل يې چې تر زده کړو وروسته يوه پيآوړې او مخلصه قاضي شي او له نېکه مرغه همداسې وشول او په تانده ځوانۍ کې قاضي شول هغې سره يې کورنۍ د زده کړو په برخه کې ډېره مرسته کوله.
دځوانۍ په همدې جوش او خروش کې يې د ژوند يوبل لوی ارمان او دهيلو غوټۍ ګل شوه او داهيله يې د واده کولو وه، سره له دې چې واده تر ډېره ددې په رضايت ونه شو خو بيا هم هغه پوهېده چې هېڅ مور اوپلار دخپل اولاد د ژوند په برخه کې د بربادۍ پرېکړه نه کوي،دخپل پلار او مور خوښې او غوښتنې ته يې لبيک ووايه او دفهيم په نامه له يوه ځوان سره يې خپل ژوند دتل لپاره شريک کړ.
وختونه تېرېدل د ناجيې لمن خدای زرغونه کړه او هغې ته يې يوزوی ورکړه په کور کې يې دماشوم د ژړا غږ هم واورېدل شو اوس يې نو خوښي لا پسې زياته شوه.
يوه ورځ ناجيې وغوښتل چې تر ډېر وخت وروسته دخپلې مور کورته ولاړه شي،کله چې ولاړه نو دخپل کوچني زوی فيصل  د شيدو ورکولو چوشک يې په خپل کور کې پرېښی و،داچې ماشوم ته يې بايد شيدی ورکړې وای نو اړه شوه ترڅو بازارته ولاړه شي او يو شيرچوشک ورته راوړي،همداسې يې وکړل زوی  يې خپلې مور ته وسپاره او خپله يې له ځانسره دخپلې خاله لور حفيظه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لاسه ونیوله او په شهرنوکې د فاینسټ سوپرمارکېټ په لـور روانـه شـوه، فاینسټ هغه پلورنځی دی چی اکثریت مشتریان ،پېرېدونکي او ورتلونکي یې په کابل کې مېشت بهرني وګړي دي.
ناجیه کومه بهرنۍ یا غربۍ نجلۍ نه بلکې یوه افغانه وه ،کله چې دې پلـورنځي ته راورسېدې او داخل ته ورننوتلې نـو یـې سـترګې ګرځـول پیـل کـړل د پلورونکو اجنانسو ننداره یې کوله اودهغوی دبیو پوښتنې یې کولې دوی لاپـه پېرلو بوختې وې چې ناڅاپــه یــې ترشـاه دیـوه وېرونکـی درز اواز واورېـد. دایوه انتحاري حمله وه چې په شهرنوکې په فاینسـټ سـوپرمارکېټ ترسـره شوه ،په یوه شېبه کې هرڅه بدل شول،دفاینسټ د ښـو شـېبو مخکنـۍ لـه خوښۍ او خوشبو ډک ماحول په یوه وحشـتناک او وېروونکـي مـاحول بـدل شو،ځمکه د شهیدانو او ټپیانو نیمو پرتو تنو،د بدن نـورو غړو،ټپیـانو او وینـو ونیوله او یو سور رنګ یې ورکړ او فضا په ګرد،دوړو اوداور په لوګي پټـه شـوه هېڅ نه ښکارېدل په څو شېبوکې یو کوچنی قیامت جوړ شو،هره خوا له لرې او نږدې څخه د چیغو او ژړاګانو اوازونه اورېدل کېدل،امبولانسونه راورسـېدل او په پېښه کې شهیدان اوټپیان شوی جسـدونه یـې روغتونونوتـه انتقـالول،د شهیدانو اوتبیانو وارثینوته دپېښې ساحی ته دورتللو اجازه نه ورکـول کېـده. کله چې ناجیې او حفیظې ډېر ځنډ وکړ نو په کور کې یې د مور ورته تشـویش پیداشو ،پرېکړه یې وکړه چې ګرځنده مبایل ته یې زنګ ووهي خوکله چې یې هڅه وکړه بریالی نشوه ،نور یې هم تشویش ډېر شو ،څو دفه یې بیا هڅه وکړه خو نتیجه یې ورنکړه، بیایې د کوچني زوی فیصل په غلې کولـو او مخچلولـو پیل وکړ اوس نو دناجیې او حفیظي لپاره انتظار کول هم ورته ستړی کـوونکي برېښېدل او شېبه په شېبه یې قهر او غوصه ورته زیاتېده، د ( فیصل ) نیا فکر کاوه چې دوی دواړه به په چکر ګرمې شوی وی او ماشومه به ورنه هېره وی خو اصلاً خبره داسې نه وه،کله چې یې تمه قطع شوه نو یې دکورنۍ نورو غړو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تماس ونیو خو تر دې دمه لا ددوی دکورنۍ څوک خبر نه چې په ښارونوکې انتحاري حمله شوې اویاهم ناجیه او حفیظه فایسنټ ته تللې دي.
په همدې وخت کې یې ټلویژیون ته فکر شو چې د عاجل خبر تر سرلیک لاندې د ټلویژیون په ښکتنۍ برخه کې سره کرښه تېر بېږي ،ورسره جوخت وياند پر سکرین را ښکاره شو او د عاجل خبر د اوریدو بلنه یې لیدونکیو ته ورکړه، هغه همدا پېښه وه کومه چې نن په فاینسټ کې شوه وه، د دواړو نجونو کورنۍ لاپسې وارخطا شوې ،د ناجیې او حفیظې مورګانې او دکورنۍ غړې لاپه همدې کشمکش کې وې او دهغوی د پیداکولو لپاره یې پلانونه طرحه کول چې دناجیې مورته په یوه ډیجیټل نمر زنګ راغی مخې سره یې اوکې کړ،څوثانیې یې غوږ ته نیولی و ،خوپرته له دې چې څه وواییې مبایل یې له لاسه پرېوته دکورنۍ غړیو چې ټولې ښځینه وې ،داچې د جمعې ورځ وه نو نارینه څوک یو اوڅوک بلې خوا وتلي و، ښځې راغلی د ناجیې له موره راتاوې شوې او د خیر خیر چیغې یې وهلې کله چې هغه په هوښ راغله لکه د لېونۍ په شان یې اخوا دیخوا منډې پیل کړې،خو د ناجیې عمه چې یوه زروره او هوښیاره ښځه وه په ارام زړه یې ورځخه پوښتنه وکړه چې زنګ چاوهلی و،هغې ورته وویل له روغتون څخه زنګ و،نوموړ باید روغتون ته ولاړې شو،ځوانې نجونې یې په کور کې پرېښودې او د ناجیې مور او عمه د کابل څلورسوه بیستریز روغتون ته ولاړې،هلته یې هغه ټول ټپیان چې دهمدې پېښې له امله ورته راغلي وکتل خو نه ناجیه اونه هم حفیظه پکې ولیدل شوه،وروسته د روغتون دمسؤولینو لخوا هغه ځای ته بوتلل شوې چېرې چې مړي او جسدونه ساتل کېږي.
سره له دې چې نور ددوی په زړونوکې سکه او متره نه وه پاتې خو بیا یې هم په کاواکه قدمونو او لړزانده لاسونو د څو تنو مړو څخه سپینې ټوټې پورته کولی ،خو دخپلې لور او وریرې جسد یې پیدا نکړ، د وتلو په وخت کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناجيې مور دوروستي جسد له مخ څخه د پردې پورته كولو سره دومره لوړه او ډاروونكې چيغه وكړه چې په ځمكه را پرېوته او په لوغړېدا شوه، د ناجيې عمه ژر خپله ورېندار باندې ور پرېوته كښې يې نوله هغې فكر كاوه چې لـه جسـد څخه وېرېدلې، خوكله چې يې په جسد فكر شو ګوري چې تور ويښتان يې په تېتر داسې را خواره پراته دي چې اوس يې د وينو له امله سور رنګ خپل كـړى دى او دا جسد بل څوک نه بلكې پخپله ناجيه وه.

له دې سره د ناجيې عمه هم وارخطاه شوه خو جرئت او مـرال يـې لـه لاسـه ورنكړ،ددې جسد ترڅنګ دبل پروت جسد مخ يې هم لوڅ كړ اوس نو دناجيې په عمه كې هم هېڅ ځواک پاتې نشو ځكه چې دا جسد د حفيظې و اوهغه هم شهيده شوې وه ، مخې سره يې د مړي رسميآت په روغتون كې خلاص كـړل ، كورنۍ ته يې فون وكړ او له پېښې يې خبر كړل.

كله چې جسدونه په روغتون كې د مـړو وينځونكـو لخـوا لمبـول شـوي و د حفيظې له لاسونو څخه د سرو زرو دولس بنګړي ويستل شـوي،داچې پېښـه ډېره غمجنه وه نو كورنۍ يې د بنګړيو اونورو شـيانو پوښـتنه ونكـړه ،مګـر د تدفين او دعا له مراسمو وروسته كله چې ددوى كورنۍ پـه روغتـون كـې لـه ناجيې او حفيظې سره د سروزو ګاڼو غوښتونكې شول ،هغوى پـه ځـواب كـې وويل :تاسو ونه ليدل چې دهغوى جسدونه ټوټه ټوټه ول موږ خبر نه يـو چـې چېرې ورڅخه پرېوتي دي،يوه مړي وينځونكې وويل چې ددې يوې نجلۍ لاس مو دبلې نجلۍ د لمبولو په وخت كې دهغې له نس څخه راووېست ،نوپه داسې حال كـې يـې بنګـړي اونـور شـيآن چېـرې پـه لاسـونوكې پـاتې كېـږي. هغې وويل ناجيه په منځه دوه نيمې شوې وه او نس يې شلېدلى و او د حفيظى د بدن غړي څه دپېښې په ځاى كې پاتې و اويو لاس يې د ناجيې په خېټه كې ننوتى و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ناجيې د خپلې مور په کور کې د دمې جوړېدو ارمان له ځانسره قبرته يوړ اوهغه دمه يې په هديره کې جوړه شوه خو د هغې کوچنی زوی فيصل) چې اوس پنځه کلن دی منډې وهي خولاهم په دې نه پوهېږي چې مور يې څوک او چېرې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زمالیکونه

نن له غرمې راپه دېخوا راباندې الهام کېده،نه پوهېدم دڅه به وو،دشعر خونه وو،ځکه چې شعر مې ونه لیکه، نودابه څه وو؟ نه هېڅ نه پوهېږمه،یوڅه خومې باید لیکلي وای، کېدای شي کوم دوست بـه مـې پـه یـاد شـوی وي،یابـه زه چایادولم، داخوهم له امکان څخه لرې نده چې په کور کې به مور،پلار خویندو وروڼواویاهم دوړو مور یادکړی یم،خیر هرڅه چې وو، یو وخت مـې فکـر شـو ،ګورم لاسونه مې چاپېر دي او د کمپیوټرمخې ته ایښی کیبور لکـه دارمـونیې دتنیوپشان زور کوي او ټکهاری یې پورته کېږي،دکمپیوټرپرسکرین هم یـوه توره لیکه په تېزی سره ځغلي، خوبیاهم پوه نشوم چې څه به لیکي، چاته بـه یې لیکي،خوکېدای شي کوم ملګري یا ملګرې ته دمینې کوم لیک وي،څه بـه پکې لیکي، څنګه یې لیکي،ولې یې لیکي ،څنګه به یې ورته استوي،بیاهم پوه نه شوم چې همداسې به وي اوکنه؟ سترګې مې هېڅ له سکرین نه نه اوښـتې، او ورپورې نښتې وې،خوخط ښه په بېړه پرې مزل کاوه داسې لکه دشـپې پـه ناوخته کې چې پرسړک هېڅ رش او بیر وبار نه وي ، اوپه کلي کې کـوم چاتـه کوم مشکل پیداشوی وي،یا ناڅاپه ناروغي پېښه شوي وي ،مـوټر سـړک تـه راووځي اوښه دزړه له اخلاصه مزل کوي،داسې یې منـډې وهلې،خودتعجـب ځای دادی چې دابه څـه وي،څـه بـه پـرې لیکـل کېـږي ،چاتـه بـه لیکـل کېږي،اوڅوک به یې لیکي، زه خو نه وم ولې که زه وای نو دومـره خوبـه پـوه شوی وای چې څه لیکم او چاته یې دڅه لپاره لیکم، ګوتومې دکیبـورډ پـرمخ خالونه لمس کول چې ،ترڅنګ ایښی موبایل مې په لـړزه شواوښـکلې نغمـه پکـې وغړېـده چـې زه یـې لـه واره متوجـه کړم،لـه هلوسـره مـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واور ېدل،(زماخطونه له خپل ځان سره سمبال وساته:: ښه يې په خيال وساته ،چې ورک يې نکړې).

اوهواسراره ته يې، دانو هغه څوک وو چې کېدای شي دازما دګوتو هسې به دهمده لپاره وې، او دته به يې څه ليکل، کله چې مورږ واړه وو نو په هغه وخت کې نه کمپيوټروو اونه هم بله الکترونيکي وسيله وه ، چې ليک يا پيغام يې استولی يا رسولی وای،نو مورږ به يو بل ته په کاغذ ليکل کول او کله چې به مووليدل سره به مو تبادله کړل، چې تر ډېره به موساتل،که څه هم مورږ په يوه کلي کې اوسېدو،خودومره ديوبل په زړونوکې ننوتي وو، چې هغه وخت کوم چې مورږ به له يوبل نه بېل شو،هم به مو نه شوه زغملی،نوبه موپه کاغذخپلې خبرې يوبل ته کولې داسې لکه مخامخ چې ناست ،ولاړ اويا هم په لاره روان يو،په هغه وخت کې مورږ په املاء او انشاء هم سم نه پوهېدو خو بياهم مورږ دواړه په خپلو او يودبل په ليک پوهېدو او مطلب به موترې اخسته.

دهغه له دې سندرې سره مې ورته وويل چې هغه ليکونه خومې له ځانسره ساتلي خو اوس مې درته بل ليک ليکه،هغه په ټېليفون کې حيران شو،چې هغه څنګه؟ او داڅنګه کېدای شي چې زه دې اوس درته په يادشم او درته فون دې وکړم،ماوويل( لکه باران مې په زړګي را ورېدلې راغلې،عمر دې ډېر دی همدا اوس مې يادولې راغلې)،خوزما په زړه په رښتيا سره اسرار نه ورېده ، څه څه راغلم !؟

چېرې راغلم؟

له دې سره مې ورغبرګه کړه،ښه نو زما نمبردې څنګه پيداکړو او چېرې يې؟

:ته وګوره چې نمبردکوم هېواد دی،چې مې وکوت،نو نمبردافغانستان وو،ولې چې کود يې ۰۰۹۳وواو سيمکارت يې هم اتصالات وو،نور هم حيران شوم،هلکه داخودافغانستان نمبردی کنه،په کړس کړس يې وخندل ،ښه داپرېږده دارته ووايه چې زه درشم اوکه ته راځې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه نه زه درځم ووایه چې په کوم ځای کې یې،ښه سمه ده دخدای پامان!
اهو داپرده څه شوي ،ده خوراته دځای ادرس هم ونه وایه،نړدې وه چې له پرېشانۍ نه مې زړه وچوي،سر راباندې وګرځېده،په تنده مې خوله راغله،همداسې لکه دبت پشان پاتې شوم،لمړۍ ځل وو چې غوصه مې ورته راغله،له ځانسره مې وویل ښه نو ته ده ساده ته وګوره،خلک همداسې کوي؟،تاخوبه لږ صبرکړی وو،اوس یې ټېلیفون هم کار نه کوي، مخې ته پروت مېز مې په سوک په زوره وواهه چې پرې له پاسه ایښي کمپوټر همداسې نړدې وه چې لاندې پرېوځي،چې ددروازې ټک ټک شو ځواب مې ورنکړ،دروازه راخلاصه شوه، ګورم چې اسرار له خندانه شین دی اوداخل ته راغۍ،ای خدای دې انصاف درکړي،پېژانده خومې نه خو له خنداوحرکاتو یې پوه شوم چې همدی دی،هغه اوس ډېر غټ شوی وو،هغه پخوانی اسرار نه وو،ای !زه به هم غټ شوی یم کنه! ماته خو خپل ځان نه معلومېږي ځومره چې ماته هغه غټ ښکاري کېدای شي هغه ته به هم زه همدومره ښکارم.
اسرار له تېرو۱۲لسوکلونوله خپلې کورنۍ سره په کاناډاکې اوسېده ،خوله یوبل څخه مو هېڅ خبرنه لاره،اوپه همدې ورځوکې افغانستان ته راغلی وو،په رښتیاهم چې زړه په زړه آینه وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کوچنۍ ناوې

په خپله به يې خدای خبر چې لمونځ کړی وو کنه،پرهغې يې اواز وکړ ونجلـۍ! پاڅېږه لمونځ دې وکړه ،هغو کوچنيوهلکانوته چای تيارکړه چې ښوونځي تـه به ځي.

نجلۍ په خپل ځای کې اړخ بدل کړ،ستوماني يې وو ېسته ،غاښـونه يـې سره وچيچـل ،اوږده سـاه يــې واخسته،ســترګې يــې ومښــلې پــه ځــای کــې کېناسته،خوب يې لا په سترګوکې وو،سربه يې کله يوخوا اوکله بل خواته کوږ شو،لکه ټېکې(مرغۍ) چې په کرونده کې په زهرو لـړل شـوي غـنم خـوړلي وي،لاس يې وغزاوه،ټکری يې راواخست په اوږدوخـوجړو وېښــتانويې ښـور کړ،وېښته هم خدای دېته ورکړي وو،سم يوه ګېډۍ وو،يوځل يې په ناسته هـم شخي ووېسته او پورته شوه،څوشېبې وروسته بيـا کـوټې تـه ننوتـه،لمونځی (جای نماز) يې را واخست لمونځ يې وکړ،بېرته له کوټې ووته ،نېغه دتنور کوټې ته ولاړه،تورچای جوش يې له تناره په داسې حال کې راووېست چې سمه نيمه پسې په تنورکې ورکه شوه،په بېړه يې کوچنيو ورونوته چای تيار کړ،هغوی يې له خوبه راويښ کړل،مخ اولاسونه يې ورته پرې مينځل،په دسـترخوان يــې را ټول کړل،هغوی چې کله ښوونځي ته ولاړل،دې دکور پاتې کارونه پيل کړل،په دې وخت کې پرې دکوټې له منځه اواز وشو زرلښتې وزرلښتې! دې ورتـه آآآ نارې کړې،خوهغې يې اواز وانه ورېده،بيايې شورماشور جوړ کړ،خـدای دې تـا تور مخې ،کنداسه په ماروچيچل کې،داپه تاخه تور مرګ ولګېده،چې غـږ نـه راته کوې؟ته صبر وکړه چې زه دې اوس چاره وکړم،که مې ستاځای هم دمـور څنګ نکړاودهغې تورې هديرې بنديوانه مې نه کړې نو زما نوم به هم قندي نه وي،نوم يې ډېرخوږ وو خو پخپله ډېره ترخــه وه،پســې راغللــه لــه ځانسـره

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوربدله،دادې خدای نه بخښي چې ستاپشان ،لېونۍ لور يې زېږولې ده،نجلۍ ته راورسېده اوپه کمڅيوکې يې ورته ګوتې بنــدې کړې،داســې حــد تــه يــې ووهله،چې يو دوه يې ترې هېر کړل،نور يې ورته يوځل بیاپه سپکو سپورو پیل وکړ،ته وګوره چې زه دې څومره ژر له دې کوره رنګ ورکومه،هغــه خلــک دې هم،خدای ووهي،ويل يــې چــې دربيمــه،ورځ بيــا راځي،خــو همداســې ورک شول،که داځل راغلل،لــه ســترې مشــې دمخــه ســتا مردارمخــې دســتمال ورکوم،نوره دې په دې کور کې نــه شــم زغملی،نجلــۍ راغلللــه پښــوته يــې پرېوته،نه نه مورجانې دخدای لپاره چې داکار ونکړې،هيله کوم هغــه کونډتــه مې مه ورکوه،زه له هغه سره واده نه شم کولای،دهغه خو مشره لور واده شــوې ده ،په کور کې اولادونه يې هم له ما مشران اوهمزولي دي، پام کوه چې داکــار ونکړې،کنه زه به مړه شم.

ميرې يې په کړس وخندل،ورته يې وويل زه خو غواړم همدا ،اوس دې په يونه يوچل له خپلې مخې لرې کوم.

دوه ورځې وروروسته هغه خلک راغلــل چــې يوځــل دمخــه هــم دزرلښــتې غوښتوته په مرکه راغلي وو،اوس ددې پلارهم په کور کې وو،خودهغه شــتون ددې لپاره هېڅ ګټه نه لرله،ولې چې دهغه په ذهن کې يې نوې ښــځې داســې زهر پيچکاري کړي وو،چې پلار يې هم اوس دهغې له شتون نه په نــه شــتون خوښ وو،نفرت به يې ترې کاوه،دماخوستن له ډوډۍ خوړلو وروســته راغليــو خلکو بيادښېښۍ خبره ياده کړه، ميره يې چې له ښځوسره ناسته وه،خاوندیې ورپسې راغی اوحال يې ورسره شريک کړ،هغې هــم پــه مکرجنــه لهجــه لــه سترګو اوښکې وڅڅولې مېلمنوته يې مخ واړاوه،که څــه هــم چــې زرلښــته کوچنۍ اوستالېور پوخ سړی دی اوداېېچاره يې دلــور پرځــای ده خــو زه هــم سياسره يم،اونه غواړم چې چې خدای مکړه سباکومه بدنامې راته را واوړي،په خپله هم په کور کې کوچنۍ لور لرم،هسې خو مې زرلښته هم لور ده،خــووايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خور لور په عزت واده شي،ښه ده،نوموړ په دې ریشته خوښ یو،دستمال یې ورکړ،زرلښتې باندې له ډېرخفګان نه بېهوښي راغلله،تر درې ورځویې لـه ډوډۍ او اوبوڅکه ونکړه.

څو اوونۍ وروسته یې واده هم تیار شو،کوچنۍ زرلښته دمیرې لخواد وهلـو او ډبولوپرمټ ډولۍ کې کېنول شوه،هغې به چې خپل دوه کـوچني اوبـې مـوره ورونه په چیغو ولیدل نو له ډولۍ نه به راکوزه شوه، دواړونه به یې غېـږه تـاوه کړه،ډېرې چیغې به یې ورسره وکړې،مګر میرې به یې بیاله مټ نه ونیوله،ورته به یې وویل،چې هم ځان شرموې او هم موږ،څوځله ډولۍ ته له پورتـه کېـدو اوښـکته کېـدو وروسـته یـې نجلـۍ روانـه کړه،خـودهغې چیغـې لاپسـې لوړېدې،دلته یې ورونوهم ځانونه په ځمکه ځمکه وهل اودخور خور نارې یـې وهلي،دلارې تر نیمایي پورې دزرلښتې چیغې ورو ورو کمېدې اوبلاخره ورکې شوې،لاره نږې اته دقیقې وه،سپین ږیری زوم امېل په غاړه مخکې روان وو او وروسته پسې ځوانانو ډولۍ په اوږه روانه کړې وه، کورته چې ورسېدل ،ښځې راټولې شوې،ترڅو ناوې له ډولۍ راکـوزه کړي،ښـه راغلاسـت اودنـوي کـور مبارکي ورته ووایي،کله چې یې له ډولۍ نه شال اوچت کړ،ګوري چې ناوې پـه ډولۍ کې نسکوره پرته ده، اوپه رښتیا یې هم دمیرې ژمنې حقیقـت مونـدلی وواودتل لپاره دخپلې مورپشاه په ابدي خوب ویده شوې وه.

نوټ: ټېکه یوډول مرغۍ ده چې دغنمو دکر په وخت کې راپیداکېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پلټنه

زه يې منيجر وم ، د سهار په پوره اته بجې مې فورمې ورباندې وو ښلې،هر يوه ته مې ساحه په ګوته کړه، دې ته مې وويل : څه ته دخپل کور شاوخوا ته کورونوکې دې سروې وکړه، داځکه چې ستا کور له دې ځایه ډېر لرې دی ،ترڅو چې له کار خلاصولو وروسته بېرته دفتر ته راځې اوبیا کورته ځې، ډېره دربانديې نا وخته کېږي، هغه هم خوشحاله شوه او له دفتره ووته.

ټول له دفتر څخه ووتل لس بجې وې په دې خاطر چې د سروې کوونکيو حال واخلم ،ترڅو له کومې امنيتي يا بلې ستونزې سره نه وي مخ شوي، هر يوه ته مې بايد زنګ وهلی وای،همداسې مې وکړل،د لېست له مخې دهر يوه له نوم سره دفون شمېرې ترڅنګ ټوله پېژندنه راسره وه، د ټو تنو حال اخستلو وروسته مې عابدې ته زنګ وواهه.

کله چې يې فون اوکې کړ،ترسلام او پوښتنې وروسته مې ورته وويل: څه دې وکړل؟

هغې ځواب راکړ بس همدا اوس ساحې ته را ورسېدم.

څه!!؟؟ داڅه وایې ستا همکارانوخو هر يوه دوه او درې فورمې کار کړی دی اوته ایله اوس ورسېدې؟

ــ ښه سمه ده هله نو ژر ژر کوه کار دې پيل کړه، شله شله ( ګوډه ګوډه) مه کېږه کارونه دې په چټکتيا سره وکړه چې بيا دربانديې ناوخته کېږي، له دې سره هغې د ښه ځواب په نه زړه او ټيټ اواز راکړ،ماهم فون قطع کړ.

ماذيګر ټولو خپلې فورمې را وړې،دفتر کې يې وسپارلې او هر يو خپل کورته ولاړ.

د ماښام شپږ بجې وې چې عابدې زنګ راته وواهه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ صیب ! زما کار خلاص شو څنګه وکړم،اواز یې سم راته ښکاره نشو، ترڅواب ویلو مخکې مې ترې پوښتنه وکړه،ته خو ښه یې ایا کومه ستونزه خونـه ده در پېښه شوې؟ ستا اواز راته سم ښکاره نشو.

ـ نه نه! هېڅ خبره نشته هسې لږ ستړې شوې یم .

ـ ښه سمه ده څه کورته ولاړه شه سبا چې نورو فورموپسې راتللې دا فـورمې به راته وسپارې.

ـ ښه سمه ده صیب همداسې کوم.

فون یې قطع کړ،ماهم د نورو کار کوونکیو د فورمو په چک کولو پیل وکړ،سـبا چې د کار وروستۍ ورځ وه ټول کار کوونکي راغلل فورمې مې ورکړې او کـاري ځایونه او منطقې مې ورپه ګوته کړې، عابدې هم خپلې پرونۍ فورمې راکړې او نوې مې ورکړې،هغې په رښتیا سره خپل کارونه په پوره صداقت او رېښتونولۍ سره ترسره کول او دهمدې باور له مخې ماهم د ډکوشویو فورمو د کورته وړلو اجازه ورکوله کنه قانوني لاره یې داده چې هر سر وې کوونکی باید مـاذیګر د کار په پای کې خپلې فورمې دفتره ته وسپاري خوماپه هغې باور لاره چـې پـه صداقت کار کوي.

نن یې بیا کارونه تر خپل ټاکل شوي وخت یو نیم ساعت وروسته خلاص کړي و چې زنګ یې راته وواهه،مخکې له دې چې هغه څه ووایې زه پـرې ور مخکـې شوم،که کار دې خلاص وي اوکنه کورته دې ولاړه شه ،هغې هم یواځې د ښـه په ویلو سره بسنه وکړه او فون یې بند کړ.

سبا مې له نورو کار کوونکیوسره حسابي وکړه هریوه ته مې خپله حق الزحمـه ورکـړه او پـه خپلـه مخـه ولاړل،۱۱ بجـې شـوې خوعابـده لاهـم نـه را معلومېده،همکارانو نه مې یې پوښتنه وکړه، پروین راته وویل:

ـ صیب هغه دا دوه ورځې راته ښه نه ښکاري فکر کـوم ناروغـه ده اوس مـې ورسره خبرې وکړې ویل یې لاره کې یم او درځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی مې رخصت کړل ما خپل کارونه پیل کړل،یوولس نیمې بجې وې چې دروازه ټک ټک شوه د راتللو اجازه مې ورکړه ګورم عابده ستړې او ستومانه داخل ته را ننوتله،سلام یې ادا کړ ،خو په څهره کې یې یو ډول مایوسي بر ېښېده، خبرې یې پیل کړې:

ـ صیب وبخښی ماویل نن خو هسې هم کار نشته نوومې ویل چې په قراره به ولاړه شم او بل داچې لږ طبعت مې هم ښه نه و نو زه د ناوخته راتللو اوپه کار کې ځنډ کولو په خاطر بخښنه غواړم.

کله چې یې زماځنګ ته په مېز خپل دغاړې دستکول کېښود ورته متوجه شوم چې په کیڼ لاس یې دستکول له اوږې را کوز کړ اوپه همدې کیڼ لاس یې فورمې له بیک څخه را ووېستې ، زما مخې ته یې کېښودې اوخپله په څوکۍ کېناستله.

پرته له دې چې فورمې یې چک کړم حساب مې یې وکړ پیسې مې ورکړې.

ـ واخله دا وشمېره او له خپل نوم سره دې په دې خالي خانه کې لاسلیک وکړه.

نجلۍ راغله قلم مې ورکړ لاسلیک یې هم په کیڼ لاس وکړ او پیسې یې پرته له شمېرلو بیک کې کېښودې.

ورته ومې ویل : عابدې! پیسې دې وشمېره او ولې په کیڼ لاس لاسلیک کوې ټوکه مې ورسره وکړه ایا ته ډوډۍ هم په کیڼ لاس خورې؟

ټنده یې تروه شوه هو صیب همداسې ده زه ډوډۍ هم په کیڼ لاس خورم.

خبره مې یې ټوکه وبلله په خندا شوم ورته خوپه همدې وخت دعابدې لخوا ددستکول په غاړه کولو په وخت کې مې فکر شو چې دهغې ښي لاس په مړوند کې نشته.

له دې سره مې په زړه کې یوه ترخه څړیکه وشوه ،په سترګومې تیاره راغله او حواس مې له لاسه ورکړل،دچایو پیاله مې له لاسه پر یوته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله دتېرې ورځې خبره چې عابدې ته مې وويل: شله شله مه کېږه دهغې په خبروکې ټکنۍ کېدل او د نورو ورزو خلاف چلند او مايوسي هريو مې په څو لحظو کې لکه د فلم پشان په مغزوکې تېر شول.

ډېر نا ارامه شوم،نه پوهېدم څنګه ورځخه بخښنه وغواړم او قناعت ورکړم چې تر دې وړاندې زه په دې نه وم خبر چې هغه يو لاس نلري،هغې غوښتل رخصت واخلي او ولاړه شي ،زه ورپورته شوم مخې ته يې ودرېدم ورته ومې ويل:

ايا امکان لري چې ما وبخښې؟

په داسې حال کې چې قدم يې پورته کاوه په خټ يې را وکتل ولې تاخه کړي چې له ما يې بخښنه غواړې؟

ماورته وويل دهمدې لپاره چې تېره ورځ مې تاته په نا پوهۍ او ناخبرۍ کې د شلې خطاب وکړ خوزه قسم کوم چې ستا په معلوليت دغه دوه دقيقې مخکې پوه شوم.

له سترګو يې رڼې اوښکې جاري شوې ،نه صيب هيله کوم خداى مووبخښه هېڅ خبره نشته او نورې خبرې يې پسې داسې وغزولې:

که زه يې باک وګنم په ورځ کې لس ځلونه هم ډېره له داسې خبروسره مخ کېږم ،که په کور کې وي،که په لاره،که په موټر کې ،که په دفتر او نورو ځايونوکې چې څوک کوم معيوب شخص ته غږ کوي زه داسې فکر کوم چې ماته وايي دومره ډېره زور بېږم خو پوهېږم چې دا خبره مې اوس له ژوند سره لکه زما دنوم پشان تړلې ده نو ځکه يې باک نه ګنم.

د عابدې اوښکې چې لکه شبېه شبېه باران په سپين مخ روانې او ښکته ګريوان ته يې توېدې راته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوکاش زما دښې لاس پرځای کیڼ لاس نه وای،هلته به مې فکر کړی وای چې یو لاس مې نشته  خو اوس داسې یم لکه دواړه لاسونه چې مې نه وي،همدا یې وویل او روانه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې پایلې

سهار د کورنۍ ټول غړي لوی او واړه د چای څښلو په خاطر په یوه دسترخوان سره راټول شولو،داچې زه دشپې لس بجې له وظیفې څخه کورته تللی وم نو کوچني ماشومان ټول ویده وو،په همدې خاطر سهار ټول رانه را تاو ول ، د مور څنګ ته مې ناست وم،لامې کاسې ته لاس ور اوږود کړی نه وو چې په جېب کې مې موبایل وشرنګېد،دزنګ له راتللو سره مې مور راته راوکتل،په ترخه موسکا یې وویل:

زویه!یوخوستاملګري هم سم پېریان دي،دمه دې لا جوړه نده،بیایې درپسې زنګونه سرکړل، موبایل یې رانه کش کړ،بس چې هرڅوک وي خپل کاربه کوي، خپل چای دې نوش جان کړه، دوی وزګار دي.

خوداچې شمېره نوې وه او ومې نه پېژندله، ورته مې وویل، مورې!کېدای شي کوم بل څوک وي،کاربه یې راسره وي، زما کوم ملګری ندی ځکه دهغوی ټولو شمېرې له ماسره ثبت دي، خو داشمېره بې نومه اونا اشنا ده، موبایل یې راکړ،ماشومانوته مې وویل غلي شي، چې اواز واورم، زنګ ډېر اوږد شو، نور دبندېدوپه حا ل کې وو چې د تائید تنۍ مې کېکاږله، زما عادت دی چې زه چاته زنګ ووهم اوکه بل څوک راته زنګ ووهي نو دخبرو پیل ورسره په سلام کوم،ډېری خلک دي چې دفون کولو په وخت کې (هلو،بلې،اورې) اویانوراصطلاحات کاروي ،نومې سلام اداکړ،له هغې خوا مې ډېرتیت ،کمزوی اوزېره نازړه اواز ترغوږه شو،(سلام شماکی هستین؟)اواز دنجلۍ وو،په دري یې خبرې کولې، ځواب مې ورکړ زنګ تا وهلی دی باید چې ته ځان راوپېژني،کله مې د مور، پلار او کورنۍ دنورو غړیو په مخ کې له نجلۍ سره په موبایل خبرې هم نه وې کړې،لکه د لارورکي پشان مې اخوا دیخواکتل،خودا ښه ووچې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای مې پرده وکړه اړیکه پرې شوه،ماهم سرپسې ونه ګرځاوه فکر مې وکړ شمېره به یې غلطه کړې وي، لس پنځلس دقیقې وروسته بیا زنګ راغی هماغه شمېره وه، اوس مې نو چای څښلی وو، ښه مې اشتها صافه وه،له کوټې ووتم له حویلې دباندې مې ځواب ورکړ، خو نجلۍ بیا خپله لومړۍ خبره تکرار کړه،چې ته څوک یې او بل داچې زما شمېره دې له کومه کړې؟ ماته یې خبرې دمسخروپشان ښکاره شوې،ورغبرګه مې کړه،داچې زه څوک یم، وروستۍ خبره ده،خوته ځان ځکه راوپېژنه چې زنګ دې وهلی دی .

نجلۍ وویل چالاکي مه کوه،سم حال راته ووایه، چې شمېره دې له کومه کړې، ځکه چې له دې شمېرې نه دشپې په لس بجو زماموبایل ته زنګ راغلی وو خوداچې زه ویده وم اونه وم پرې پوهه شوې ځواب مې ندی درکړی،دنجلۍ خبروته مې زړه تنګ شو ورته مې وویل:وګوره که ته غواړې چې خپل ساعت تېر کړې نو کوم بل چاته زنګ ووهه او ما مه چېړه، خو نجلۍ په خپلو خبرې کې جدي ښکار بده، قسم یې راته وکړ چې همداسې ده ،لکه څرنګه چې مې وویل،خو ماځکه نه شوای منلی چې ماورته زنګ نه وو وهلی اونه مې له نن څخه مخکې داشمېره پېژندله، داځل مو خبرې په همدې کش وګیر کې تر پنځلسو دقیقو واوښتې، اجازه مې ترې واخسته ،خو ژمنه مې ورکړه چې زه بیادرته فون کوم.

دفون له بندولوسره سوچنو کې سر شوم،ای خدایه!دابه څوک وي،ایاپه رښتیاهم همداسې ده لکه دایې چې وایې؟بیابه مې وویل هسې نه چې ددفترکومه همکاره مې وي ،یامې په خپلوانوکې کومه یوه نه وي او غواړي به چې ماوازمایي ،چې څومره له نجونوسره خبرې کول غواړم دفون له لیارې اوپه دې ویروس ترکومې کچې ککړ یم،له ژمنې سره سم مې زنګ ووهه ورته،خبرې مو بیاهم په پخوانۍ موضوع څرخېدې،اخر یې راته وویل یوځل خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ځان راوپېژنه چې څوک یې،دکوم ځای یې،متعلم یې،محصل یې اوکه کومه دنده لرې؟
ځان مې په تمامه ورته معرفي کړ،له دې وروسته،هغې هم ځان راوپېژانده،نوم یې راته مریم وښود،ویلې یې چې په ننګرهار کې ژوند کوي اوپه یوه ولسوالۍ کې دنجونو لېسه کې د۱۲م ټولګي زده کوونکې ده،پلار یې نظامي دنده لري .
ماله دې مخکې هم په مبایل او مخامخ له ډېرو نجونوسره خبرې کړې وي،لکه په دفتر کې له همکارانو سره،په کورسونوکې له همصنفیانوسره اوهمدارنګه په دېرى ورکشاپونوکې،خوکله مې هم له کومې نجلۍ سره په داسې دلچسپې اوخوږه لهجه خبرې نه وې کړې،سره له دې چې ښه پوهېږم هغه نجونې چې په موبایل خبرې کوي او بې له کوم ضرورته یې ځانسره ګرځوي ،هسې خلکوته پرې ازار ورکوي،خوددې په خبروکې یوډول عجز،سپېڅلتیا او له اخلاقي فساد څخه پاکوالی راته ښکاره شو،احساس یې راته دروند معلومېده.
هغې به ماته ویل چې اواز دې ډېر راته اشنامعلومېږي،په یو افغاني ټلوېزیون کې یې دیوژورنالېست نوم راته واخست چې ستا اودهغه اواز کټ مټ یوشان دی،ماورته وویل شاید همداسې به وي.
دڅه وخت په تېرېدوسره یې دومره له اواز سره اموخته شوم چې که ډېرکله به مې ورسره خبرې ونکړې نو داسې به وم لکه ډېریولوشی چې مې ورک کړی وي.
دنجلۍ لخوادراکړیو معلوماتو له مخې مې ورپسې پلټنې پیل کړې،زما زړه اوس هم سره له دومره مینې اوبار بار خبروکولو پرې غل وو،هېڅ ارام نه راته،ماویل هسې نه چې دې نجلۍ کوم چل راته جوړ کړی وي اوکوم کار راته ونه ګوري.
اخر داشو چې هېڅ پایلې ته ونه رسېدم اوهېڅ معلومات مې ترلاسه نکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوه ورځ موخبرې کولې چې زمایوملګری مــې وســره یادکړ،دهغــه دنــوم لــه یادولوسره دنجلۍ ستونی بند شو، په وارخطایۍ یې وپوښتل هغه څه پېژنــې؟ ورته مې وویل هغه خو زماملګری دی همکار مې دی،ډېرښه هلک دی،خوهغې مکمل باور لاره چې مادهغې ورور ښودلی دی نه کــوم بــل څوک،نــویې راتــه وویل:ماله اول نه فکر کاوه چې ته به مورږ پېژنــې او زمورږکــوم نــژدې خپلــوان یې،بس دی نور زه لتاسره خبرې نه کوم اوهیله کوم راځه چې یوبــل هېرکــړو، ماورته وویل مالا تر اوسه ستا کور،پلار،وروړنه اونور څوک ندلي لیدلې خوکــه وغواړم ډېر ژر یې موندلای شم،ورته مې وویل ځکه چې زه یو ژورنالېست یــم، اوپه هر ډول چې وي کره معلومات په لاس راوړلی شم،خوهغې ویل داچــې زه اوته خبرې کوو نوبه څوک هم نه خبر ېږي،نه ستاکورنۍ اونه هم زماورتــه مــې وویل سمه ده ښېغمه شه.**

**اوس زه دومره له مریم سره بلد شوی یم چې که چېرې دیوښکلي څیــز مثــال راوړم نو دا پکې نالیدلې یادوم،زما زړه داګواهي راکوي چې هغه هم زماپشــان ده،اوتل غواړي چې خبرې راسره وکړي، له نژدې راسره وګوري خــو د پښــتو اوپښتنو ځینو رسمونو او بندیزونو له امله مو قسمت یاري نه کوي.**

**یوه ورځ یې راته وویل: داچې زه اوس تادخپل زړه یوه برخــه بــولم او هــېڅ خبره له تانه نه شم پټولی نو غواړم یو حقیقت درتــه ووایم،پــه زړه مــې دډار ساړه راننوتل،فون مې غوږ ته ښه نږدې کړ،یوخودا تل داسې په قراره خبــرې کوي چې هېڅ نه اورېدل کېږي ،خبره یې زیاته کړه ، اوهغه داچې تراوسه ماله تاسره کومې خبرې کړي یواځې یوه خبره مې درته صحېح نده کړې نــورې زه دخدای په نوم قسم کوم چې ټولې رښتیا اوسمې دي،که راته غوصه کېږي نــه نو درته وایم یې،خواول ژمنه غواړم چې غوصه به نه راته کوې.**

**ښه سمه ده ووایه څه دي.**

**هغه داچې زمانوم مریم ندی!!!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر مې راباندې وچورلېده،په فکــر مــې بــوج راغــی،د اور پــدوزغم مــې نــه لاره،دخوشبېبولپاره غلی شوم هغې راباندې نارې کولې خو زه چپ وم،په پنځو میاشتوکې لومړی ځل وو چې غوصه مې ورته راغله په ډېرې غوصې سره مــې ورته وویل،داکوم حماقت دی چې ته يې کوې؟

ببرته يې راغبرګه کړه هیله کوم،جهانه!ګوره اول مې درته وويل چې غوصه بــه نه راباندې کوې، زه ستاله غوصې ډېره وېر ېږم،ته خوغوږ شه چــې څــه درتــه وایم،ماوویل بس دی نورهېڅ نه غواړم ستاله خولې يې واورم همدومره بس دی اوکفایت کوي،له نن نه اخواستالپاره جهان دتل لپاره مړ شو،خوهغې ويل هیله کوم فون بندنکړې قسم يې راکړ،ورته مې وويل چې ښه نو ژروایه چې نوم دې څه دی،خودې بیاراته وويل چې نه اوس نه اوهیله کوم ته مې مجبوره کوه هــم مه،ځکه چې زه يې پخپله درته وایم،انشاء الله ډېر ژر،په همدې خبره مې فون ورباندې بندکړ،قهر مې شېبه پــه شــېبه زیاتېــده، ځانتــه مــې هــم قهــرجن شوم،چې زه ولې دومره خوشباوره یم،ماخوله مــریم څخــه هــېڅ خبــره پټــه نکړه،نوبياولې دې لماسره دومره لويه دوکه وکړه،فکر مې بــدلون پیــل کړ،پــه خپلوټولوباورونو بې باوره کېدم،دزړه دګرمایش ستنې مې مخ په ښکته حرکت وکړ،نن مې پــه دفترکــې هــم کــار خوندرانکړ،هرڅــه مــې پــه خپــل ځــای پر ېښودل،اطاق تــه ولاړم ګــروپ (برق)مــې مــړ کــړ،اوږود وغز یــدم،هرډول اندېښنې مې مبلمنې شوې،له ځان سره مې جنګ پیل کړ،داسې لکه چې مــې مریم په مخ کې ناسته وي، یوځل مې پرې چیغه وکړه، ولې مریم اخر ولې تالــه ماسره داسې وکړل؟

زماپه شونډو اوزړه د مريم نوم اوس سم لکه دمهر پشان ټاپه شــوی وو،یوځــل مې سرته څنډ ورکړ،نه نه هغه لماسره هېڅکله هم داسې نه کوي، ټوکې به يې راسره کړې وي، هغه مریم ده،هغه له ماسره ډېره مینه لري،زه ورته تــر هرڅــا ډېر ګران یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه ورځې مې زنګ ورته ونه واهه خو بیابه مې هم زړه نه صبر پده،در پیمه ورځ یې مسکال راکړ،ماهم هسې بهانه غوښته،ژر مې ورته فون وکړ،له هلوسره یې په کړس وخندل،خونن خنداد پنځومیاشتومخالفه اوبل شــان وه،حیــران یــې کړم،ددې لپاره چې ځان اوس هم غوصــه اوورنــه خفــه وښایم،غوســه شــوم ورته،غلې شه نوره خدای ته وګوره ماهېرکړه،ته مانوره هېره کړې یې.**

**په خورامینه یې راغبرګه کړه،زماړوندعاشقه! ماهېره نه بلکې هېرمې  کړه،ولې چې زه مریم نه بلکې مراد یم!!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مېلمنه کوچۍ

دسهارتر اذانونو وروسته داوداسه په نیت راپورته شـوم،دکلالویه دروازه مـې خلاصوله چې پلارمې اول غاړه تازه کړه بیایې اواز وکړ دروازه بېرته لـه هغـې خوادرسره بنده کړه چې شمال ډېر تېز دی هسې نه ماته یـې کړې،مـاهم لـه خوبه په ډک اواز ورته ښه وویل اولاندې په وترایۍ ښکته شوم،میدانی ته پـه رسېدومې ددواړو لاسونو ګوتې سره وروستې او پورته مې له سره واړول شخې مې ووېسته،ښې طرف ته په تاوېدومې سترګې لـرې وروړانـدې دتـورې لـویې کیږدۍ څنګ ته داور په سکروټو ولګېدې،چې داور دپوکولوپه وخت کې سرې سپرغۍ دهواپه لور پورتـه کېږې،خـوداچې اورتـه چـاپوکی ورکـړ هغـه نـه معلومېده.

ښوځله پرلپسې سپرغۍ والوتې اخر داور لمبې پورته شوې ،ژړې اوسرې رڼاته ببرکوچیانی کمیس وخوځېد،نغری داوسپنوله درې میلوڅخه جوړ شـوی،ډېر ورته تم نه شوم خو که رښتیاووایم دې نظارې ډېرخوندراکړ.

له سړکه پورې وتم،لاندې له شنو اوبوډکه ویایله بهېده،موسم هم دژمې وواوبه یخې وې خو ځوانې هم ښه وې،اودس مې وکړ راپورته شوم دسړک پـه غـاړه غاړه مسجدته ولاړم لمونځ موپه جمعـې سـره اداکړ،چـې راوګرځېدو،کورتـه ولاړم،قرانکریم مې راواخست،تلاوت مې پیل کړ،ښوایته مـې لانـه وو تـلاوت کړې چې دسړک په سر دموټر دټایر کریکو مې فکر بدل کړ،دخیر اواز مې لـه خولې ووت،له دې سره مې قران کریم بنداودبالښت پرسرمې پرېښـود،بیرون ووتم ،ترڅومعلومه کړم چې څه پېښه ده،زموږترڅنګ سړک خـونړی وو ډېـر ځوانان او سپین ږیري یې دمرګ کندې ته ورسول،خواوس ځکه ډېـر پـه دې مطمین نه وم چې بیابه هم موټر ښوک وهلې وي ځکه سهار وختې وو اوپه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې څوک په سړک ډېر اوړي را اوړي  نه،بیا مې هم زړه تسلي نه کوله،له کوره راووتم له کلا تر وتلو وروسته مې غوږ ته یو ډول دروند زوګ راغی یوڅه وارخطاشوم ګامونه مې ګړندي کړل،سړک ته ووتم ګورم هغه ځای کې چې مې اودس کړی وو، ورځخه پاس په سړک خلک راټول شوي دي،نور هم ور ګړندی شوم،ځان مې ور ورساوه خلک ټول وارخطاښــکارېدل ،لــه رسېدوســره مــې دسړک په غاړه د اوبو په (زي)سترګې ولګېدې،چې سوری ســوری پــروت دی ،لږ ور اخوادسړک په منځ کې  وینې هم راته ښکاره شوې،نور نو صبر راپــاتې نه شو ژر مې له بختیارنه وپوښتل هلکه څه پېښه وشوه؟

بختیار وویل ولا ډېربدکارو شو،زه خوېې ډېر خفه کړم کریم ماما ډېرښه سړی وو بېچاره باندې مې زړه بد شو،ورته مې وویل ولې کریم ماما موټر وهلی  ؟

_ نه هغه بېچاره خو ګرځېدای هم نه شي نوپه سړک څه کوي.

_ ښه نوبیاڅه شوي حل راته وایه؟

_ دکریم ماما لور کوتره نه وه؟

_  هو لیدلې مې ده ایا هغه موټروهلي؟

_ نه هغه یې نده وهلې.

ورته غوصه شوم ښه نو څه اسمان را پرېوتی دی ووایه کنــه تــه خوســم بېــړا یې،ژر ووایه چې څه چل شوی دی هلته په سړک وینې اولته داوبو  زی حتمــاً موټرکومه کوچۍ وهلې ده.

اغامحمدزما اودده کش وګیر ولید رامخته شو راته یې وویل یاره طالبه ته هــم له چانه پوښتنه کوې داخوپه رښتیالبونی دی ،ماوویل ښه نوته راته ووایه چــې څه وشول؟

هغه وویل دکریم ماماهغه لور چې په کوم بل ځای کې اوسېده دوی کره مېلمنه رالې وه د هغې یوه پېغله لور وه، وزیره یې بلله،هغه بله ورځ یې پــه کــور کــې محبوبې ډېر صفت وکړ چې ډېره ښکلې او پلونډه پېغله ده،هغه اوس له سړک

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه تېرېده چې موټر ووهله،ته صبروکړه چې ځنګه به وي،خوارکۍ یې ډېره ژوبله کړې وه،ماپخپله ورسره په موټر کې واچوله،سراویوه پښه یې مات وو ،دعاوکړه چې خدای پرې رحم وکړي اوبېرته په خیر راشي،کریم ماما ډېر ورپسې ژاړي: وایي نن تر ټولو له وخته پاڅېدلې وه،اوهغه لپاره یې داودس اوبه هم ګرمې کړې وې،دده په دې خبره ماته داور سپرغۍ رایادې شوې چې ملا اذان له نغري پورته الوتې خومنزل ته نه رسېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مینې انځور

هسې خومې په زړه او ذهن کې ورته ډېرې څهرې په نښه کړې وې او لا به مې نورې هم دزړه په انځورتون کې د خپل فکر پرمټ ترهغو نورې ښکلې مجسمې میناتوري کولې،هره ورځ به مې دغه شکلونه بدلول سم دم انځورگرمې له ځانه جوړ کړې و.خوکله چې به مې په گوگل پلټونکي انټرنېټي ماشین کې یا هم پــه کوم اخبار،مجله اویا هم په بازار کې له انځــور پلــورونکي ســره د پاکســتان د بهرنیو چارو پخوانۍ وزیرې حنا ربان کهر تصویر ولید نو دابــه مــې نــا لیــدلې سترگوته نېغه ودرېده.ددې خبرې څو دلیلونه دي چې ولې به مــې پــه خپــل ذهن کې له ترسیم او نقاشي شویو څهرو څخه هم ډېره د حنا رباني پ ِ مخ کې ددې تصویر لیده او انگېرله به مې چې گواکې همداسی ده.

یو دلیل یې دا و چې شمع هم د حنا رباني په شان یوه مســتعده او رنســانس راوړونکې سیاستدماره وه او هم لــه خبــرو معلومیــده چــې خوښــېږي یــې دسیاست ملگرې و اوسي ،هماغه شان زیرکه او چالاکې غړېده.

دوهم دلیل یې دا و چې ماته به پ ِ ټولو نجونو او مېرمنو کې حنا رباني ښــکلې ښکارېده او داچې په نالیدلې فضاکې مې له ځانسره اټکلونه کول نو به مې ویل چې: شمع به هم دهغې په شان په قد اوږده، په غوښه نیمــه اباده،دبیضــوي او روښانه مخ ،گڼو خو لنډو وېښتانو،جگې پوزې ،اوږدو سترگو او سپین ته مایــل غنمي رنگ لرونکې به وي.

کله چې به یې په خبروکې لنډه سکته کوله ،په څو خبرو پسې بــه یــې هیلــه ورکوونکې موسکا وکړه نو له ځانسره به مې ویل چې مکمله د حنا فوټوستېټ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ورځ به مې ددې لیدو لپاره په زړه کې نوې هیلې پیدا کېدې،خوله خپل فکر او اند سره مخالف به دا کار راته زموږ په پښتنه ټولنه کې ناشونی ښکاره شو، شاید دهغې مینه به دومره پیاوړې وه چې کله کله به مې په خپله پښتونولۍ پښېمانه شوم،ویل به مې کاش چې تاجک،ازبک ،هزاره اویاهم دکوم بل قوم وای ،لکه دپښتنوپشان دومره اګر مګر خوبه پکې نه و.

خوپه هغه متل مې باور راغی چې وایي: غر په غر نه ورځي خو انسان په انسان ورځي،نه پوهېږم څنګه قسمت دخپلې انګېرنې په خلاف دهغې ترڅنګه په ناڅاپي توګه وربرابر کړم،یوه ورځ مې و غوښتل چې ویې ګورم خو بیا هم دبهانې مخه نه را معلومېده ناڅاپه یو چا ددوی په کلي کې مېلمه کړم او هغه کور چې زه پکې مېلمه وم ددوی له کورسره ښخي څنګ په څنګ و اوبله تر ټولو ښه خبره دا چې دوی او هغوی سره راشه درشه هم لرله.

مخکې له دې چې هلته ولاړ شم له شمعې سره مې اړیکه ونیوله او له خپل تګ څخه مې هلته خبره کړه،کله چې مې د ورتللو ورته وویل دومره خوشحاله شوه چې دایې هېر کړل چې موږ په یوه سرسخته پښتنه ټولنه کې ژوند کوو، هغه ټولنه چې دودونه او رسمونه پکې تر بل هر نظام زیات حاکم دي ،زموږ اړیکه یواځې زما او هغې ترمنځ محدوده نه وه، دهغې دکورنۍ څوتنه پوهېدل چې هغه له ماسره دفون پرلیکه تماس لري، خوبیاً هم د پښتنو ټولنې او ځینو عنعناتو لخوا د دل او ټکول کېدو له وېرې مو ذهنونه خالي نه وو.

دا لومړۍ دفه وه چې زه شمع له نږدې ګورم او هغه هم دبل چاپه کور کې،کله چې هلته ورسېدم په یوه نسبتاً ټیټه خونه کې کېناستم خو داخونه د نورو په پرتله یخه او روښانه وه چای مو سکه له کوربه سره مې خبرې کولې ،چې یو وخت کوربه دڅه کار لپاره له خونې ووت،ماهم ځان له مبایل سره مصروف کړ،بوخت وم چې په ښځینه غږ مې د سلام اواز واوریده،همداچې سر مې پورته کړ ګومر چې یوه پېغلوټې مې مخ کې ولاړه ده، روغبړ مو سره وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنجلۍ خبر او په شونډو خوره موسکاه داسی را معلومیده لکه سره اشنا چې یو خو لامې هم نه وه پېژندلې.

داخومې حتی په ذهن کې هم ته راتلل چې دادې شمع وي ځکه شمعې ته په زهن کې زما دانځورګری،نقاشي او تصوراتو مخالفه وه.

نجلۍ لنډه منډلې او په غوښو ښه اباده وه،ډک ګرد مخ،په نسبي ډول ټیټه ،لنډه او چیته پوزه،رنګړې او لنډ وښستان،نورو عادي نجونوته نسبتاً واړه لاسونه،کنده لرونکې پراخه زنه، ګرد مناسب ګلداره کالي او یو کوچنۍ پړونی یې په سر و،د نجلۍ ټیپ اوټاپ ،انداز او دقوارې جوړښت یوې هزارګۍ پېغلې ته ورته و،په سرکې خومې فکر وکړ چې دا خلک شاید له هزاره ګانوسره کومه اړیکه ولري نو دانجلۍ به هم دهماغو هزاره ګانو څخه وي، خوبیا مې وویل چې هرڅوک وي نو ماڅه پېژني چې دومره کلکه سترمشي یې راسره وکړه،دحال احوال پوښتنه یې هم په تکرار ډول وکړه او په پښتني دود برابر ښه راغلاست یې راته وویل.

فکر واخستم،سره له دې چې نجلۍ دروازه او دهلېز دواړه ځارل خبرې یې راسره وغزولې،خو ما بیا هم ددې دپېژندلو څرک لګاوه،مګر په ټولو هڅو او فکر کولوسره بیا هم په دې بریالی نشوم چې مخې ته مې ولاړه هزاره نجلۍ وپېژنم،زړه نازړه مې دخبرو ځوابونه ورکول په زغرده ځکه نشوم غږېدلی چې نجلۍ مې نه پېژندله اوپه همدې انتظار کې وم چې اوس خدای شمعه راولي ترڅو هغه هم وګورم او ددې نجلۍ په هکله هم معلومات راکړي،شمع نه رامعلومېده ،نجلۍ غوښتل نورې خبرې هم وکړي خو وخت او حالاتو اجازه نه ورکوله، هغې زما په مخ کې دمتردد کېدو اوشک توري لوستلي و اوهغه ځواب چې زه یې په لټه کې وم دې نجلۍ له خدای پامانۍ او دروازې څخه دوتلو په وخت کې له خوږې موسکا سره غبرګ راکړ او ویې ویل چې زه شمعه یم!! نوره ووتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رنګین دسترخوان

دوهمه روژه وه،مرکز کابل ته په وظیفه راغلم،که پټه یې نکړم په وظیفه راتلل مې هیڅ نه خوښېږي،ځکه داسې یم لکه له پښو او لاسونو چې تړل شوی یم،دم ساعت به راپسې دیوه زنګ سر اودبل اخر وو،څلور مبایله راسره وو،هله دنن ورځې دلیدنولېست برابر کړه،هله دوه نوي ایمیلونه را استول شوي دلوستلولپاره یې پرېږ کړه،هله داوکړه اوهله هغه وکړه.

نور نو داسې شوی وم لکه په قفس کې بنده مارغه،چې زړه یې غواړي پرواز وکړي په یوه شېبه کې له ډېرو باغونو ،ونو او سردرودیدنونه وکړي،او نور داسارت له ژوندڅخه ازادي ترلاسه کړي،خوزه هم په دې ارمان نژدې وو چې مړ شم.

نه پوهېږم بله ورځ مې خدای پاک دمور دعاقبوله کړېوه که څنګه،یوه ورځ روژه ماتې ته څلوېښت دقیقې پاتې وې چې له دفتر نه ووتم،له پنځو ورځو راهیسې چې راغلی وم په لومړي ځل خپل کورته تللم،اونننۍروزه مې دګرانې مور او دکورنۍ د نورورغړیو ترڅنګ په یوه دسترخوان په ګډه ماته کړم،نژدې څلولاري ته ووتم،له یوه ټکسي چلوونکي سره مې تر میوندجادې خبره وکړه،مانښآم نژدې و،ښارکې هم بیروبار کم وو، ځکه هرچاغوښتل ځانونه کورته ورسوي اوروژه ماتی دخپلو بچیانو سره وکړي،مادکور لپاره یوڅه سودا هم راونیوله ،نور نو له ښآره دوتلو په درشل کې شوم، دومره خوشحاله وم ،چې هسې مې له ځانسره خندل، خوکورته درسېدو تلوسه هم ترهرڅه زیاته وه،درنو لوستونکیو په ژوندکې له مور سره په یوه کاسه ډوډۍ دومره خوند راکوي لکه په دې نړۍ چې جنت کې ناست یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور نو کورته لا ره بیخي کمه پاتې وه چې په دوه کوچنیوهلکــانومې ســترګې ولګېدې، دواړوخرړې او خېرنې خلتې په اوږه راځړولې وې، زه ورنه په تېر بېــدو کې وم چې دیوه هلک خبرې مې قدمونه سست کړل،هغه دې بل ملګــري تــه مخ راواړو،ورته یې وویل راځه،یاره نن خو یو هوټــل کــې ښــه لوکســه ډوډۍ وخورو،داډېروخت مې داسې څه نــدي خــوړلي چــې لــږ مــې زړه پــرې ښــه شي،خدای دې ددې نېستۍ هم بېخ وباسي،بل ملګري یې ورتــه وویــل نــه زه خوایم چې تېر شه ورنه،راځه یوغټ شین چای به راوغواړو چې دټولې ورځــې سترړیامو پرې ووځي اودمه مو جوړه شي،دده سترې او له غمــه ډکــې خبــرې دومره پرېشانه کړم چې نه پوهېږم څنګه کورته ورســېدم،نور نواذانونــه هــم وشول، لوی دسترخوان له راز راز خوراکونو ډک وو،خوله مانه دمور څنــګ تــه ورتګ او خوشحالي هم هېره شوه،مورمې راته وویل: په تاڅه شوي جوړ راتــه نه ښکاري،نن لکه چې ډېر تږی شوی یې؟

ماته بیادواړه هلکان سترګوته ودرېدل،اوښکې مې روانې شوې،مورته مې ټوله کیسه وکړه،مورجانې مې زماســر پــه خپــل غبــږ کــې ونیو،لــه ســترګو یــې اوښکولارې وکړې، دواړوښۀ ډېر وژړل او روژه مو په خپلو اوښکو ماته کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نجات فرشته

سهار دفتر ته یوڅه ناوخته ورسېدم ،دشعبې مـدیر د ناوختـه ورتـګ علـت راڅخه وپوښت،د معمول پشان مې له ترافیکي ستونزو او لار بندیو څخه ورته سر وټکواوه،خو هغه ته مې دلیل ځکه قانع کوونکی او د منلو وړ نه ، چې اوس دې بهانې د یو دود رنګ اخستی ، هرڅوک ترې استفاده کوي، خیـر پـه لاس کې نیولي څو کاغذونه یې راکړل، له کېناستلو سـره دکاغـذونو پـه لوسـتلو شوم،پکې لیکلي و چې زه باید د دفتر دمشرتابه په امر په یوه پروګرام کـې د ترېنر په صفت کندهار ته ولاړ شم،داچې وظیفه مې وه او بیا د لـوړو مقامـاتو لخوا امر شوی و،پوهېدم که هرڅومره انکار وکړم څوک یې نه مني ،مـاهم پـه خلاصه تنده دهغوی اطاعت وکړ او په موسکا سره مې ومنله.

مدیر راته کړه،بس نور ګوره مه، د تللو چمتو والی نیسه،له همکارانو مې خدای پاماني واخسته راغلم اطاق ته د وړلو سامان مې په بیک کـې ځـای پـر ځـای کړ،ماسپښین دوه بجې وې چې له دفتره یې ټېلیفون راته وکړ: ویې ویل سـتا ټکټ اماده دی سبا دوه بجې وروسته له غرمې مو پـرواز دی،پـه اطـاق کـې کېناستم هېڅاته مې هم تللو په هکله څه ونه ویل،حتی خپلې کورنۍ ته هـم، پوهېدم که هغوی خبر شی نه یې راسره مني، خو زه مجبور وم او ګورتـه لـه ناکامه روان وم،سبا ۱۲ بجې هوایي ډګر ته ولاړم ۲ بجې پرواز وشـو،کله چـې کندهار ته ورسېدم زموږ د دفتر د کندهار څانګه مخکې له مخکې په جریـان کې وه او زما له ورتګ نه ټول خبر و،هوایي ډګر ته ځینې ملګري راغلل زه یـې دفتر ته یوړلم،له روغبړ او دمې جوړولو وروسته مې یوه ملګري احمد شاه تـه وویل راځي چې د بازار خواته ووځو،هغوی هم را پورته شـول درې تنـه سـره لاړو،په بازار کې مې په دېره سرزورۍ په یوه هوټل کې د ځان لپاره اطـاق پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرایه ونیو،ملګرو ټینګار کاوه چې دهغوی په کور کې باید پاتې شم خو ما ونــه منله ځکه دا یوه ورځ یا یوه اونۍ نه وه نه مې غوښتل د چا د اوږو بار شم.

ماښام مهال مې د کندهار په بازار کې قدم واهــه چــې مبایــل تــه مــې زنــګ راغی،ګورم چې سلګۍ ده،ټیلیفون مې اوکې کړ،فقط دومره مې ورته وویل: زه په کندهار کې یم ،اوس ملګري راسره دي،وروسته خپله زنګ درته وهم ،فــون مې قطع کړ او جېب کې مې واچو،سم دواره بیا زنګ راغی بیا مې قطع کړ،خــو هغې بار بار زنګونه وهل،اخر مې مبایل بند کړ، ښایسته وخــت پــه ښــار کــې وګرځېدو،نور نو ملګری هم باید خپلو کورونو تــه تللــي وای او زه هــم اطــاق ته،خدای پاماني موسره وکړه،همدا چې له ملګرو بېل شــوم،فون مــې خــلا ص کړ،له خلاصېدو سره بیا د سلګۍ زنګ ورته راغی،اوکې مې کړ،غوښتل مې پــه جریان یې پوهه کړم،خو هغې ماته دا موقع کله راکوله، پــه ژړا او ســلګیو یــې همدا یوه خبره راته کوله ،چې ته ولې تللې، هلته خو هره ورځ ډېر خلک مــړه کېږي،تا ولې زه یواځې پرېښې یم،ولې رانه دومره لرې تللی یې؟هرڅه چې مې ورته وویل زه مجبور وم چې راغلی وای ،ځکه دفتر را استولی یم،خو چاته یې وایې،هېڅ یې نه منله ،ورته مې وویل اوس هوټل ته راغلم اطاق ته چې داخــل شوم زنګ درته وهم،کله چې کېناستم زنګ مې ورته ووهه،د خبرې وخت مې ورنکړ،ور باندې مخکې شوم، ګوره سلګۍ ته فکر پر ځای کړه،ما بله هــېڅ لاره نه لرله ،پرته له دې چې کندهار ته راغلی وای ځکه په دفتر کــې زه انتخــاب شوی وم، هغوی په دې مشورتې غونډه کړې وه نو په داسی حال کې څنګه ما انکار کولای شو؟هیله کوم ته باید زما په ستونزو اومجبوریتونو فکر وکړې.

هېڅ نه غلې کېده په یوه ساه یې همدا راته ویل زما کندهار ندی خوښ هلتــه خلک مړه کېږی همدا اوس را روان شه او ځان را ورسوه، حیران وم څه وکــړم ،غوسه شوم ورته،خوهغې خپله خبره کوله،بیا مې ورته وویل ګوره که زه داکار وکړم نو تاته خو معلومه ده چې په دې دفتر کې مې دومره وخت نه کېږی ،که

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرې بېرته بې له کوم دلیله ورشم ،باور لرم دنده به له لاسه ورکړم،خو هغې ویل هرڅه چې کېږي نن باید ځان کابل ته را ورسوې،ته که هرڅه ووایې ماتــه د منلو وړ نده.

هغې دومره ژړل چې نور یې ستونی بند او اواز یې خپ شو،تشویش مــې شــو ورته له ځانسره مې ویل په دې جلۍ څه چل ونه شــي،هېڅ نــه پوهېــدم څــه وکړم،د پرېکړې چل هم رانه هېر و،که دفتر ته راتلم د دفتر لــه قــانون څخــه سرغړونه وه او خپله په ډېرو سختیو لاسته راغلې دنده مې له لاسه ورکولــه او که نه راتللم سلګۍ اسمان را غورځاوه، له ډېر عزر اوننواتو وروسته چــې پــوه شوم نه یې مني ورته ومې ویل سمه ده سبا سهار ته درځم،خو هغه پــه خپلــه خبره هماغه شان ولاړه ه، ورته ومې ویل اوس که په موټر کې درځــم نــو لاره کې خطر دی او الوتکې دا وخت پرواز نه کــوي،اخر مــې پــه همــدې قناعــت ورکړ،ورته ومې ویل چې اوس نو ته غلې شه،یوڅه ارامه شوه،فون مې ورباندې قطع کړ،اوس نو له ځانسره په سوچونو کې اخته شوم، ځانته مې ویل دامې څه بد وکړل،اوس به دفتر کې څه وایم،که بېرته کابل ته ځم دفتر کې به څه وایــم اوکه نه ځم په دې جلۍ څه چل ونشي د پاڼ اوپړانګ تر مــنځ ایســار وم پــه همدې تشویشونو کې وم چې بیا مې مبایل ته زنګ راغی،ګورم چې له کورنــه دی ، اوس یې خوند وکه دادې لا بله، ښه ده ته اوس څه ووایم.

خیر ده ته خو چور منګر شوم،هېڅ مې ورته ونه ویل چې چېــرې یــم تنهــا د کورني حال مې ورڅخه وپوښتنه او رخصت مــې کړ،نــور نــو د شــپې ۸ بجــې کېدونکې وې، له هوټل نه راووتم، فکر مې وکړ چې ټکټ څنګه په دې ناوخته کې پیدا کړم،ذهن ته مې راغلل چې دا هوټل والا ته بــه حتمــاً معلومــا ت وي ورغلم مرسته مې ورڅخه وغوښته، هغه راته وویل په دې وخت کې خو ټکــټ پلورنځۍ بندې وي اوکه خلاصې هم وي نو هغه پروازونه چې ســهاروختي وي دهغوی مسافرین پوره وي، راسره ولاړ په یو ځای کې مو ټکټ پیدا کړ،خولــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل نرخ څخه یې ۲۰۰۰زره افغانۍ قېمته را باندې خرڅ کړ،پرواز هم سبا ۹ بجې و بیاهم زه ډېر خوشحاله وم، بېرته هوټل ته را غلو، له هوټلي څخه مې مننه وکړه، هغه ته مې خپل عزر وړاندې کړ، اطاق مې بېرته ورته تسلیم کړ،تنها د یوې شپې کرایه مې ورکړه.

دشپې به هره شېبه سلګۍ زنګونه راته وهل او زما پوښتنه به یې کوله هغه په ما ډارېده چې څوک مې مړ نکړي،سبا بېرته دفتر ته را ورسېدم ټول همکاران راته حیران ول،هریوه به رانه پوښتنه کوله،خو ما ورته ویل هسې یوه ستونزه راته پیدا شوه،لنډه دا چې رئیس راته وویل له همدې شېبې ستا دنده په دې دفتر کې پایته ورسېده، ماهم له مننې کولو پرته بله کومه خبره نه لرله، بیک مې غاړه کې واچاوه او را ووتم،اطاق ته راغلم، ډېر خفه ناست وم، دشپې مې هم ډوډۍ نه وه خوړلې،سهار هم او غرمې ته مې بیاهم له دېره غمه زړه ته نه کېده، یو عالم خفګانونه مې ملګري شول،ښه اوس به څه کوم کورنۍ ته به څه وایم،که هغوی رانه دلیل وپوښتني کومه بهانه ورته وکړم،که ورته ووایم چې د سلګۍ لپاره راغلم، نو له وهلو به مې ځغلول ډېر کړي، راته وایي به چې ته اوس دهغې جلۍ لپاره دومره لویه قرباني ورکوي،خو داچې مدیر مې یوڅه خپلوان و،ماښام یې کورته ورغلم،خپل حالت مې ورته ډېر خراب څرګند کړ ورته ومې ویل چې زه خو تنها خدای او تاته اثره لرم نور هیڅ هم نشته ،هرڅنګه چې وي ماته دنده پیدا کړه، هغه د ځینو خبره واسطه هم ښه وی،درې ورځې بېکاره ګرځېدو وروسته مې مدیر مشرانو ته په کوم ډول قناعت ورکړی و او بیا په خپله دنده په هماغه دفتر کې وګمارل شوم.

کله چې له کندهار نه را ورسېدم سلګۍ ته مې له هوایي ډګر نه زنګ وواهه چې زه اوس په کابل کې یم،هغه ډېره خوشحاله شوه،راته ویې ویل که یوه ورځ نور نه وې راغلی یاخو درپسې مړه کېدم او یاهم درپسې درتللم،ما ورته ویل ولې ته لېونۍ شوې یې؟ایا په دې دنیا کې یواځې زه مور زېږولی یم ایا دا نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک چېرته سېلاب راوړي چې ته دومره لېونتوب کوې،هغې را غبرګه کړه صابره ! ته چې هرڅه راته وايې ويې وايه ته حق لرې خو زه بغير له تا وخت نه شم تېرولی،ته زما مرګ،ژوند،غم ،خفګان، خوښي،مينه محبت اوهرڅه يې نه شم زغملی چې رانه لرې هم لرې اوسی،له زړه يې درته وايم تاسره ډېره مينه لرم،زه په هېڅ صورت تا نشم هېرولای.

زه اوس دومره دهغې په ژوند،رنګ او وينه کې دومره ور ګډ شوی يم چې که له خپل اطاق او دفتر څخه هم ډېر کم لرې اوسم، هماغه لحظه راته فون کوی او وايي چې چېرې يې،که زه بل ځای کې يم او دېته ووايم چې اطاق کې يم نو سمدستي راته وايي چې دروغ وايې،زه حيران شم چې دانو څه خبره ده چې زه په اطاق کې نه يم،هغه خو له ما څو کيلو مېتره لرې ده نو بيا څنګه داهرڅه امکان لري،مګر رښتيا هم چې زړه په زړه اينه وي،سلګۍ ما دخپل زړه په هنداره کې کنټرول کوي او څاري مې.

که رښتيا خبره وکړم اوس له سلګۍ څخه بېلتون او هغه هېرول ماته هم د سرو لمبو له منځه د اوسپنې را اخستل دي،ځکه چې زما دمينې هغه لس چنده زياته مينه راکوي او له هغې سره مينه کول زما په ژوند کې د مثبت بدلون باعث شوه، هغې زه له ډېرو لويو ستونزو را ووېستم ،سلګۍ ماته خدای پاک د انسان په جامه کې يوه د نجات فرشته راکړه،يو وخت ما دځينو مجبوريتونو له امله ډېرې غلطۍ پر ېکړې وکړې،خوهمدا سلګۍ وه چې ماته يې د يوې صادقې مشاورې پشان مشورې راکړې،هغې زما لاس نيوی وکړ او د ابدي هلاکت کندې نه يې وژغولم کومه چې ما په لوی لاس ځان ور غورځاوه،هغې به ماته ويل ما ستا له دې دردونو ډک ژوند څخه ډېر څه ياد کړي دي،زه ستا د ژوند له تجروبو څخه د يوه ښوونځي په شکل استفاده کوم ،نو هيله کوم زما پرمخ لکه د يوه ظالم،پلار يا ورور پشان د زده کړو دغه دروازه د تل لپاره مه تړه،پر بېرده چې زه پکې ډېر څه ياد کړم او د عبرت او پند

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخستو لپاره یې له نورو سره شریک کړم،هغه په ډېر کم وخت کې زما له ټولې کورنۍ سره داسې بلده شوه لکه د همدې کور غړې چې وي،خو ځوځوځله په دې خاطر چې دا انجلۍ ما هېر اوخپلې زنده ګۍ،درسونو او کورنۍ اړیکو پاللو ته توجه وکړي،بدې خبرې مې ورته کوم،غوسه او جنګ مې ورسره وکړ،زما هرې خوږې او ترخې خبرې ته ددې ځواب له خوندورې موسکا سره وي، بیا هم دا راته وایي زه پوهېږم ته دځه لپاره دا کارونه کوې،خو یوه خبره مې په خلاصو غوږونو واوره، ته اوس زما دنیا او اخرت یې،ته زما په کالبوت کې یو سپېڅلی روح یې ، نو هڅه مه کوه چې روح له تنه جدا کړې،کله چې روح په وجود کې نه وي بیا خلک ورته مړ وایي او مړ په دنیا کې نه شي اوسېدای ،داچې زما نوم نور د ژوندیو له کتاره وباسې دا مه خوښوه د تېر پشان دا یوه خبره بیا هم درته کوم چې :
ستا او زما منځ کې جدایي ګرانه خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګوانتنامو

دسهار تر لمانځه وروسته مې ۸ میاشتنۍ ولوله چې ما به ورته پیشو ویلې،په غېږ کې وه په تازه کرل شویو ونو ګرځېدم ،ولولې راته لکه د نوې په خبرو راغلې ښارو لوظ مات کړی و،په پسته او نازکه ژبه یې راته دخپل معصوم زړه خبرې له میده میده خندا سره ګډې کولې.

زه هم ډېر ورته خوشحاله وم،رښتیاهم چې ماشومان ګلونه وي،له حوېلۍ څخه مې د نورو ماشومانو شور ماشور هم اورېده ،دپسرلي ښکلی موسم د سهار نسیم،زما د پیشو وړې خبرې او خوشګوارې فضا ډېر کیف کاوه، ناڅاپه مې د غوږونو تر پردو د ډېرو دندو موټرو اوازونه راغلل ،زړه مې بده ګواهي راکړه،همدا سې د کور شاته د مېلمنو خونې (حجرې) په لور ورغلم،زموږ د مېلمنو ځای له کوره بېرون و،ګورم چې کشر ورور مې د ځوتنو بهرنیو عسکرو په منځ کې ولاړ دی،ورچټک شوم دوی ورڅخه زما پوښتنه کوله،خو فرید ځکه ورته غلی و چې نه پوهېده دوی ولې زما په اړه پوښتنې کوي،فرید لا ورڅخه شاو خوا ولاړو عسکروته حیران حیران کتل چې زه ور ورسېدم،پوښتنه مې ترې وکړه،څه خبره ده او دوی څه غواړي؟

فرید په سترګو کې راته وویل چې ته له دې ځایه ولاړ شه،خو دهغه الوتي رنګ او زما په اړه خفګان یې دا اجازه رانکړه چې دی د دې ځناورو په منځ کې تنها پرېږدم ،پدې وخت کې یوه لوړ عسکر چې توره تفنګچه یې له زنګانه سره ځړېدله او یو لنډ دده د دریشي په رنګ ټوپ کې په لاسونوکې نیولی و،په فریدپه انګلیسي ژبه برچ وهل: زه تاته وایم چېرته دی ستا مشر ورور؟

نوره نو هېڅ حوصله راپاتې نشوه،ور غږ مې کړ،دایم ستاسو په منځ کې ،ووایۍ زه ستاسو لپاره څه کولی شم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره فرید په ډاګ پاتې شو،ټول عسکر له مارا تاو شول،ښکته پورته یې راته کتل ددوی له منځه یو چې زما یو عکس ورسره و،ماته را نږدې شو،یوځل یې ماته وکتل او بیا په لاس کې عکس ته ،اوس زما او د عکس تر منځ دومره فرق و چې په عکس کې مې ږیره او بریت نه ول او اوس مې ږیره او بریت ول،بې له څه ویلو یې یو ډول سپین مساله یې ولچک راواچول،هغه داسې دي څومره چې لاسونه خوځوې هغومره سره ورځي او تنګیږي،ددې حالاتو په لیدو زما په غېږ کې کوچنۍ ولولې چیغې کړې،هغه فرید راڅخه واخسته او امریکایانو ته یې عزرونه پیل کړل،خو هغوی چېرته په سینه کې زړونه لرل،لاسونه یې تر شا راوتړل ، سرته یې یوه توره خلته را واچوله،په یوه لحظه کې یو شور او چیغې جوړې شوې،هېچا کې مجال د څه ویلو یا حرکت نه و،روان یې کړم،څوقدمه یې بوتلم،بیایې ودرولم،کڅوړه یې له سره راته لرې کړه،راته ویې ویل که په کور کې چاسره ګورې او یا څه ویل لرې نو درې دقیقې وخت لرې،بیا شاید دلته رانشې.

له مانه خو هرڅه هېر ول،خو ورته ومې ویل: هو غواړم له موسره مې خبرې وکړم، د کور څلور طرفه ددوی عسکر ولاړ ول،پوهېدل چې یو خوا هم نشم تللای،اجازه یې راکړه،لومړی ځل و چې د یوه لوی مجرم په شکل په تړلو لاسونو د خپلې کورنۍ د غړیو په وړاندې مې په داسې حال کې دهغوی خواته سست قدمونه واخستل چې ټولو راته ژړل او د اوښکو سېلابونو یې په مخونو لارې جوړې کړې وې،ګورم ددوی ترمنځ مې مور په ډېر بد حالت کې پرته ده،هرڅومره چې مې زړه کلک کړ،په غاښونو مې زور راوست خو خپله ژړا مې کنټرول نکړای شوه،په چیغو مې وژړل،ډېر کوشش مې وکړ چې له مورنه مې لاسونه تاو کړم خو ظالمانو دومره مضبوط را تړلي ول چې خوځېدل هم نه،خو مور مې په هماغه حالت کې راپورته شوه او په زړه پورې یې ونیولم،زموږ په کور کې تنها زما دکورنۍ غړي ول،نور هېچاته هم د ننوتو اجازه نه ورکول

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېده، هېڅوک هم نه ول چې زما مور او کورنۍ ته یې تسلي ورکـړې وای،مـور مې چې خوله یې زما په مخ ایښې وه، راته وویل زویه! تا داسې کومه ګناه کړې چې دوی دی په دومره بې رحمۍ رانه بېلوي،ای زویه! ستاخوبه چـې چـا پـه سترګو همداسې لاس هم کېښود نو ویل به دې چې زړه وې چـوي لـرې کـړه لاس دې اویا چې به کوم ماشوم ستا لاس ونیو نو ورته ویل به دې چې زړه مـې تنګېږي لاس مې مه نیسه،نن خو ستا لاسونه دومره کلک تړل شوي چې حتی خوځولی یې هم نشې،دوی تا چېرته وړی او ولې ووایه تا څه کړي؟
اوفف څومره لوی دروغ مې ورته وویل:نه مورې ما هېڅ ندي کړي،ته زما خبرې ته غوږ شه چې سمه دې پوهه کړم،هغه داسې ده چې ما لـه دوی سـره دنـده اخستې او هرکله چې دوی نوی شخص له ځانسره ګماري ډېـر اعتمـاد نشـي وربانـدې کولی،په همدې اساس دوی د خپل ځان له وېرې داسې کوي او زه بـه ډېر ژر بېرته راشم،خو هغې چېرته دا منله،کوشش یې کاوه چې زمـا لاسـونه پرانیزي ،هېڅ وس یې ونه رسـېد،ژړا ،خبـرې اوهرڅـه رانـه وهـم اخسـتي و،خوکله چې مې مور زما په لاس کې بندو ولچکو خوله لګوله ،له زړه مې یودم اواز را ووت اوباور دی که دا چیغه مې نه وای کړې نـو همـدا بـه مـې د ژونـد وروستۍ ثانیه وه،زړه به مې چاودلی و،نور هېڅ پوه نه شوم چې څه وشول.
یو وخت مې سترګې و غړولې هرڅه توره تیاره ښـکارېدل،نه مـې د چـا اواز اورېده،نه مې څوک لیدل اونه هوا چلېده،داسې احساس مې کاوه لکه د شیشو په کوټه کې چې بند اوسم،ځانسره مې فکر کاوه دا به کوم ځای وي،ایـا زه بـه یې په کومه ګناه دلته راوستی یم؟بیا مې مور راپه زړه شوه،اوس نو د ژړا لپاره راته ښه زمینه برابره وه، په نهیلی حالت مې له ځانسره ښه ډېـر وژړل،دومـره مې وژړل چې نور هرڅه په سلګیو بدل شول،یو وخت مې د چـا دپښـو ترپـا واورېده، اواز ورو ورو را نږدې کېده،ددروازې د قلپک اواز مې هـم واورېـد،یو وخت مې د چا لاسونه حس کړل،کڅوړه مې له سرنه لرې شوه، داچـې یـو دم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې رڼا ولیده هېڅ مې سترګو کــار نــه کاوه،لاســونه مــې لا هماغســې تړلــي ول،مخکې ولاړې سرې امریکایی نجلۍ راته په انګلیســي وويــل: د ګوانتنــامو زندان ته ښه راغلې،ددې له خــولې د ګوانتنــامو د کلمــې پــه اورېــدلو ســره وترهېدم،هغې امریکایۍ ډېرې خبرې وکړې خوزه ورته غلی وم،اخر مې ورنــه پوښتنه وکړه،کېدای شي راته ووايې چې زه مو په څه ګناه دلته راوستی یم؟ایا تاسو خو غلط شوي نه یاست،داد غلطېدو خبره مې څکه وکړه چې تاســوډېرو خت په افغانستان کې په غلطو راپورنو تکیه کوی،ګنګار او بې ګناه ته نه ګورئ مقصد يې تر ګوانتنامو را رسوئ،هغې خپل ښي لاس زما تر زنــې لانــدې کــړ، زنګون کېشت راته کېناسته،خوله يې زما خولې ته دومره را نږدې کــړه چــې نږدې وراسره ټچ شي،ځان مې اماده کړ چې په دې سترګو يې لاړې ور تو کړم خو له دې مخکې چې زه داکار وکړم يــوه ډېــره درنــه ســپېړه مــې پــه مــخ ولګېده،چې له مخ او سترګو يې راته سپرغۍ والوځولې ،له دې سره مــې خېــز کړل او په خپل بستر کې کېناستم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم نفر

داصلي نفر له تللو وروسته یې بل داسې یوه اعتمادي شخص ته وسپارلم چې هره شېبه یې ورسره د اړیکې نیولو او زما ښه او بد،روغ او ناروغ احوال اخستلو امکان و.

دایې هم ورباندې جبري کړې وه چې په هېڅ صورت باید ورځخه دخوابدۍ او هېڅ شي د کمښت احساس ونکړم ،حتی تر دې چې که اړتیا پېښه شي نو ځان باید په ستونزه کې ښکېل کړي خو ترما دستونزې د رارسېدو پښې ورلنډې کړي.

دوهم نفر هم خپل ورته سپارل شوی ماموریت په پوره لېوالتیا،ریښتینولۍ اوصداقت سره ترسره کاوه او وخت پر وخت به یې زما د روغ ناروغ او اړتیاآو پوښتنه کوله،ان داچې ډېر وخت به مې له دغه شخص څخه هم د اصلي یا اول نفر کړنې اوکردارونه لیدل چې ترسره کول به یې ډېر وخت خوبه مې چې فکر پرځای نه و نو دامې هم نه شوای منلی چې دی دې واقعاً بل یا دوهم نفر وي نوموړی راته پوخ او تجربه کار مقلد ښکاره شو، خوماته ځکه په زړه پورې وه چې دده په شتون کې مې د لومړي یا اصلي نفر د کمښت احساس په رښتیاهم نه کاوه.

داچې ماهم ځینې پولیسي ناولونه لوستي نو له هماغو څخه په څه مؤاخذې به مې کله ناکله ورته د سپارل شوي شخص ایډیالوژي،فن او مهارت څارنه کوله ،غوښتل مې ځانته معلومه کړم چې هسې نه نوموړی له خپل مسؤولیت څخه سوء استفاده وکړي اویا هم راته کومه ځواکمنه او ورڅخه نه خلاصېدونکې لومه ونه غوړوي چې بیا به ورڅخه دخلاصون لپآره نه له چا مرسته غوښتلی شم اونه به پخپله ورته کومه لار موندلای شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې وخت به مې ورڅخه بعضې پوښتنې چې پوهېدم په فکر کې ډېر ځای نه ورکوي اوسر وربانديې نه خوږوي نو په تکرار ډول به مې ورڅخه کولې خو دهغه په ځواب کې به له تېرو یاپخوانیو ځوابونو سره توپیر نه راته او هماغه پخوانی خبرې به یې کولې،بیابه مې له ځآنه سره وویل چې هلکه ته هم له فیلانو سره ټانټې زویې،داشخص هم ترتا کم ندی،دذهن مبوري یې ډېره قوي ده،بیآبه مې وویل هلکه ته هم ښه لېونی یې که دا چېرې دومره وړ او په خپل کار کې بریالی نه وای نو بیا خو اصلي یا اول نفر هم باور نه وربانديې کاوه اونه یې هم دومره لوی مسؤولیت او درووند بار نه ورپه غاړه کاوه ،حتماً یې له دې مخکې هم ازمویلی دی او تر ازموینې وروسته یې بریالی راوتی ځکه یې زه هم ور له غاړې کړم.

یوه ورځ په خونه کې دخوب پر پلمه ملاست او خبرې یې راسره کولې،دخبرو په منځ کې یې سکوت اختیار کړ،فکر مې وکړ په څه شي سوچ کوي، بیامې ویل شاید بل څه ذهن ته ورغلي وي خو دې سکوت غزونه وکړه او وخت اوږد شو،بې اختیاره مې وربانديې اوازونه وکړل،بیا یې هم ځواب رانکړ وارخطا شوم ویل مې هسې نه دماغي یا دزړه حمله وربانديې نه وي راغلې،خوژر مې خپل فکر ته بدلون ورکړ او زیاته مې کړه : که داسې وای نو مخکې له پېښې خویې راته له صحته شکایت کاوه،نه نه داسې کومه خبره نشته ،تشویش مې ورو ورو زیاتیده اخر سکوت له ثانیو دقیقوته ورسېد نور مې نو باید څه کړي وای یامې چاته خبر ورکړی وای اویامې پخپله کوم قدم پورته کړی وای،خوشنګه به مې ځوک له دې ماجراڅخه خبر کړي وای،امکان یې هم نه،داوسېدو ځای یې هم نه وو رامعلوم.

ماهمدا فکرونه له ځانسره تبادله کول چې له تخته خندا سره یې له خولې اواز راووت : خبرې کوه اورمه یې!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژر مې ورځخه وپوښتل څه دربانـدې شـوي ایـآ سـتا صـحت خـو ښـه دی؟ مسلسل یې خندل او زما دپوښتنو ځوابونه یې راکـول حیـران وم چـې ولـې داسې کوي،اخر مې ورته وویل داچې کوم څه درپېښ شوي هـم نـه دي،بلـه ستونزه هم نشته نوبیا دې ولې داسې کار وکړ؟

راغبرګه یې کړه : کله کله به اول نفر ستاپه هکله راته ویل چې ډېر محتـاط او زیرک یې کله کله ډېر ژر احساساتي کېږي اوکله کله له عمـل څخـه مخکـې عکس العمل ښیي ،ژوند دې له ډېرو ترخو ډک دی هېڅ دې پر شونډو خندا نه راځي،نو کله چې تا راسره خبرې کولې ومې ویل چـې یومعلومـات دربانـدې وکړم ترڅو ځانته معلومه کړم چې اول نفر څومره ریښتیا ویلی او ایـا تـه پـه ریښتیا هم همداسې یې اوکنه ،بل داچې خندا خو د ژوند مالګه ده نوباید ځانته معلومه کړم چې ته خاندې نه اوکه دخندا چل نه درځي.

له ځانسره مې وویل چې ددې شخص په هکله زما انګېرنه او فکـر غلـط نـه و بلکې ما ډېر پرځای فکر کړی دی دا خو دومره حساس دی چې تر مـایې هـم اړولې ده ورته ومې ویل:

خو ستا داکار زما هېڅ خوښ نشو،بیا یې وخندل او ځواب یې راکړ:

زه پوهېدمه چې ته به خفه شې او داکار به دې بد راشي خـو داماليـآره ډېـره اړینه وه چې زه باید په هغه څه چې په ماپورې اړه نلري اوته هم نه غواړې راته ویې وایي خو زه باید دځپل هنر په مرسته ورباندې پوه شوم او اوس مې ځانته معلومه کړه چې ریښتیاهم څه چې اول نفر ویلي سل په سلوک کې سم دي خو ګوره بې مالګې ژوند هېڅکله ښه نه تېرېږي اوزما خوهېڅ نه خوښېږي.

دغه شخص ته زما ورسپارل اوله ماځخه د یوه ماشوم پشان سـاتنه اوپاملرنـه کول د سازمان له قانون سره په ټکر کې و او دا یو شخصي عمل و چې لـومړي نفر زه دوهم ته وسپارلم او همدا لامل و چې ددوهم نفر اړیکې ډېرې ژر زماپـه سر له سازمان سره کړکېچنې شوې ان تر دې چې خپله دنده یې هم له لاسـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړه اوهغه ځای چې ده پکې د زده کړو بېړۍ چلوله له هغه ځای څخه هم بند کړای شو او تر یوې لویې مودې تر سخت جاسوسي څارنې او تعقیب لاندې ونیول شو،ډېر بد رد ورته وویل شول حتی تر دې چې په سازمان کې هرډول حقوق ورڅخه واخستل شول او لکه د یوه بندي پشان چلند به اوس له ده سره هم کېده.

کله چې زه په دې کار خبر شوم ډېر ورلپاره خواشینی شوم له ځانسره مې وویل : داهرڅه زما په وجه وشول که چېرې یې زه ده ته نه وم ورسپارلی اوده خپله دنده دومره په صداقت سره سرته نه رسولی نو نن به وربانديې دا ورځ نه راتلله،په دې هرڅه کې مې ځان ډېر پړ او ملامت ګڼه،هڅه مې کوله چې په یوه چل له اول نفر سره اړیکه ونیسم خو هېڅ نه شوم بریالی کېدای،بالاخره زه هم د سازمان تور لېست کې شامل شوم او دوهم نفر هم په همدې جریان کې دریم نفر هم منځته راغی چې دلومړي نفر،دوهم نفر او زما ترمنځ خبرې به یې سره تبادله کولې اوداکوشش مو هم باید ډېر کړی وای چې څوک اګاه هم نشي چې اوس موږ خپله په یوه سازمان بدلیدونکي و.

همداسې وختونه تېر بدل،لوړې ژورې مو په ژوند کې تلې او راتلې یوه ورځ باید د یوه اړین کار لپاره له هېواد بهر تللی وای اوداچې زه یو نړیوال پولیس وم اوبیامې په یوه څارګره شبکه کې کار کاوه نو زه په تللو هېڅ ځای ته بندیز نه مګر هرځای څار کېدای شوم، دریم نفر مې په جریان کې کړ ترڅو دوهم او اول نفر خبر کړي،خو دریم نفر د لومړي نفر دخبرولو ذمه واري وکړه مګر ددوهم نفر له خبرولو څخه یې بخښنه وغوښته ویل یې چې ان کورنی اړیکې یې خړې پړې شوې دي ،خیر تصادفي مې له دوهم نفرسره خبرې وشوې اوله په لنډو لنډوکې مې له هېواد بهر له خپل سفر څخه خبر او ټول جزیات مې ورسره شریک کړل،په سرکې خویې هېڅ مشوره نه راکوله چې تللی وای خو قناعت مې ورکړ چې که ولاړ نشم نو دابه زموږ دټولو په ژوند بده اغېزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي،دامې هم ورته وويل چې د روانې اوونۍ په اوږدوکې بايد له ماسره د اړيکې نيولو هڅه هم ونکړي هسې نه کومه بله خبره ورڅخه جوړه شي خکه اوس څارګره شبکه ډېره پرمختللې ده کله چې راستون شم هرڅه پخپله وايم اوټوله پايله يې له تاسو سره شريکوم.

داونۍ وروستۍ ورځ وه چې هېواد ته راستون شوم لا خپل ځای نه وم رارسېدلی چې په يوه نا اشنا شمېره راته زنګ ووهل شو شمېره مې اوکې کړه چې فون مې غوږ ته پورته کړ،مقابل لوری می دوهم نفر و، ژر مې ورته وويل زه درته فون کوم.

په بله شمېره مې زنګ ورته وواهه تر سلام او روغبړ وروسته مې د ټولې اونۍ اوخپل سفر په هکله معلومات ورکړل،نه زما اونه ددوهم نفر لپاره خوشحالوونکي ول خو څه موکړي وای هېڅ چاره مو نلرله،زه ترهغوی ځکه ډېر خواشينی وم چې هرڅه په ما تېر شول نژدې ۱۵ دقيقې خبرې مو په فون وکړې دخداي پامانۍ په وخت کې مې هېڅ فکر نه و،څه يې وويل چې بې اختياره خندا پرې راغله اوښه مې وخندل،دوهم نفر هم په لوړ اواز وخندل او زياته يې کړه بس بس همدا مې غوښتل چې ودې خندوم ته خو په رښتياهم نه خاندې،او اوس بايد زما شرط راکړې چې درنه ومې ګاته ځکه ماتاته ويلی ول چې پرته له خندا ژوند ناشونی دی اوتابه هرو مرو زه خندوم دادی اوس مې وخندولې،ماوويل سمه ده زه يې منم اوله همدې سره زموږ ماموريت اوڅارنه هم پايته ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپین لاس

د ګرمۍ له زوره مې د ګرېوان تڼولې تڼۍ خلاصې کړې وې،په دېره کې درانه سیوري ته تنها ناست وم،یوډول اواز مې ترغوږه شو لکه څوک چې په اوبوکې لاس وهي،یوه شېبه مې سکوت غوره کړ،بیا اواز پورته شو،له دېرې سره څنګ په څنګ له سیند څخه رابېله شوې ویاله له شنو اوبو ډکه بهیده، د ونې شاته د شړو یوغټ او ګڼ بوټی ولاړو سرمې ورهسک کړ ،څه راته ښکاره نه شول،ورپورته شوم خو ژر بېرته کېناستم،لږه شېبه غلی وم خو ځان رانه حرکت وکړ یوځه بیا څک شوم نور نو هغې هم لوی دېګی چې بېخ یې نغري تور کړی و او لویه ګېډه یې لرله سرته پورته کړ، په دې وخت کې یې ازاد لستونی ان تر تخرګه ور ورسېده او سپین لاس کې یې شنه رګونه لکه په نوې جوړه شوې ودانۍ کې غزېدلی دبرېښنا تارونه ډېر په زړه پورې ښکاره شول.

نجلۍ په خپله مخه ولاړه،له ماهم ګرمي هېره شوه یواځې ددې سپین مړوند،څنګل او مټ روښانه تصویر مې داسې په ذهن او زړه کې پاتې شو لکه استاد چې کوم درس د وهلو په زور په شاګرد یاد کړي او هېڅ یې له یاده نه وځي.

ژېړی مازیګری شوخو ګرمي هماغسې په زور کې وه له دېرې د کور په لوري وخوځېدم،له سرکه چې واوښتم مخامخ په پراخه توره او سپینه کیږدۍ( خېمه ) مې سترګې ولګېدې،پوه شوم چې کوچیانو کډه اړولې ده ددې حالت په لیدو بیا هغه سپین لاسې پلونده نجلۍ رایاده شوه، له کېږدۍ څخه په اړخ تېرېدم خو سترګې مې ورڅخه نه اړولې چې ناڅاپه له کېږدۍ هماغه نجلۍ د وزي په یوه شوخ بچي پسې په منډه ووتله ،دنجلۍ له خولې مې په کوچیانۍ لهجه دا خبرې واورېدې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای دې تر چړې تېر کړه ،زړه دې راشین کړ،ته وار وکړه چې اوس دې چاره در وکړم.

همداسې یې د پاڼ په غاړه په لویو ګټونوکې ورپسې ځغاستل هیله یې داوه چې ګني راوبه یې نیسي خو کوچنۍ سېرلي به کله یوې اوکله بلې تېرې ته ټوپ کړل،ویې نه شو نیولی زما په اند نجلۍ یې ډېره ازار کړې وه هېڅ یې پر ښنودو والا نه وله،ماته یې هم دې نندارې ډېر خوند راکاوه او ښه په زیرکۍ سره مې څارله، په منډه کې یې ځمکې ته لاس ټیټ کړ غوښتل یې تیره راواخلي او سېرلی ورباندې وولي، خو بخت یې ملتیا ونکړه لمن یې تر کلوشې لاندې شوه او مخامخ ډېره بې درېغه پرېوته،له خولې مې یو (اخ خی) ووتل او ورمنډه مې کړه،زه او له کیږدۍ راوتي څونفره یوځای ورورسیدو خو په را اوچتولوکې زه پرې مخکې شوم.

بې له دې چې محرم او نامحرم ته فکر وکړم لاسونه مې ترې لاندې کړل په بل مخ مې راواړوله،دنجلۍ تندی پوزه او داوړه شونډې په منځ ښېلې شوې وې،په سترګو مې ورته تیاره شوه زما ترخنګ د ولاړو کسانو هم وینه وچه شوه هېڅ ځواک یې نه لاره ترڅو نجلۍ راسره ونیسي ماهم خپل ټول زور راټول او استعمال کړ چې ایله مې دومره وکولی شول نجلۍ له ځمکې پورته او څلور قدمه وړاندې را وړل شوې کټ کې یې واچوم،دنجلۍ په لستونوکې کار بدلې ګاڼه زماپه کمیس کې بنده شوه چې لستونی یې ورسره راټول او دنجلۍ لکه د زراغتي ماهي دخېټې پشان سپین لاس ترې بې حرکته راووت خو اوس هغه سپین لاس کې غرمنۍ ښکلاځکه نه وه پاتې چې دا اوس دیوې مړې نجلۍ لاس و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپرونو لړ: ۱۰۵

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library